**The Christadelphian Advancement Trust**
**49 The Woodfields, Sanderstead, Surrey, CR2 0HJ England**
**Registered Charity No. 1014651**
"Bible Basics" in Pashto
Duncan Heaster
Carelinks, PO Box 152, Menai NSW 2234 AUSTRALIA
www.carelinks.net info@carelinks.net

# اساسيات

# انجيل

## د مطالعی مندرجات

### د ريبنتينی عيساييت لذت
### او امن په ګوته کول

۱ مطالعه: خدی
۱. ۱ دخُدی موجودیت
۱. ۲ د خدی شخصیت
۱. ۳ د خدی نوم او کیفیت
۱. ۴ فرشتی

۲ مطالعه: د خدی روح
۲. ۱ تعریف
۲. ۲ وحی
۲. ۳ د مقدس روح هدیی
۲. ۴ د هدیو بیرته اخیستنه
۲. ۵ انجیل یوازنی صحیح صحیفه ده

۳ مطالعه: د خدی وعدی
۳. ۱ معرفت
۳. ۲ د عدن په باغ کی وعده
۳. ۳ د نوح علیه اسلام سره وعده
۳. ۴ د ابراهیم علیه اسلام سره وعده
۳. ۵ د داود علیه اسلام سره وعده

۴ مطالعه: خدی او مرگ
۴. ۱ د انسان طبیعت
۴. ۲ ساه
۴. ۳ روح
۴. ۴ مرگ بیحوشی ده
۴. ۵ احیا
۴. ۶ قضاوت
۴. ۷ د انعام ورکونی ځای جنت که ځمکه
۴. ۸ دخدی ورِاندی مسٔولیت
۴. ۹ دوزخ

**۵ مطالعه: د خدی سلطنت**
۵. ۱ د سلطنت تعریف کول
۵. ۲ سلطنت اوس په وجود کی نه دی راغلی
۵. ۳ په ماضی کی د خدی سلطنت
۵. ۴ د خدی سلطنت په مستقبل کی
۵. ۵ زر کلیزه( میلینیم)

**۶ مطالعه: خدی او بدی**
۶. ۱ خدای او بدی
۶. ۲ پلید روح او شیطان

**۷ مطالعه: د عیسی علیه اسلام سر چشمه**
۷. ۱ د عیسی علیه اسلام په حقله د زړی وصیت نامی پیشگویی
۷. ۲ بی پلاره ځیگیدنه
۷. ۳ د خدی په برنامه کی د عیسی علیه اسلام ځای
۷. ۴ "په اغاز کی لغت وو"

**۸ مطالعه : د عیسی علیه اسلام طبیعت**
۸. ۱ معرفت
۸. ۲ د خدی او عیسی علیه اسلام په مینځ کی اختلافات
۸. ۳ د عیسی علیه اسلا طبیعت
۸. ۴ د عیسی علیه اسلام انسانیت
۸. ۵ د خدی سره د عیسی علیه اسلام تعلق

**۹ مطالعه:** په عیسی علیه اسلام د عقیدی راوړنی په اساس باپټیسټ جوړیدل
۹. ۱ د باپټیزم اساسی ضرورت
۹. ۲ مونږه څنگه باپټیسټ جوړیدی شو
۹. ۳ د باپټیزم معنا
۹. ۴ باپټیزم او نجات
*انحراف: دوباره باپټیزم*

**۱۰ مطالعه: د عیسی علیه اسلام په لاره تلل**
۱۰. ۱ د انجیل مطالعه
۱۰. ۲ عبادت

- ۳.۱۰ وعظ

- ۴.۱۰ په کلیسا کی ژوند
- ۵.۱۰ د ډوډی ماتول
- ۶.۱۰ واده
- ۷.۱۰ ملگرتیا

د هر فصل په اخر کی پوښتنی وجود لری. د کاغذ په جلا برخه باندی خپلی پوښتنی اولیکی، خپل نوم او ادرس په واضحه تو گه لیکل مه هیر ه وی.

**تاسو کولی شی چی خپلی پوښتنی دی ځای ته واستوی:**
***اسا سیات انجیل، ۴۹ وډ فیلډ ز،ساوتھ کرایډن، سری CR2 0HJ***
**انگلینډ**

## ۱.۱ د خدی پاک موجودیت

خدی ۱

"هغه څوک چې خدی ته رانژدی کیږی باید چې دا عقیده ولری چې هغه شته دی ،او هغه انعام ورکونکې دی هغه چاته څوک چې د هغه زیات طلبګار وی"(عبری ژبه. ۱۱:۶).ددی مطالعو مقصد د هغه چا سره کمک دی څوک چې د خدی طرف ته مخ اړول غواړی ، د چاچی د اول څخه دا عقیده وی "چې هغه شته دی"؛په دی وجه موږ به د خدی د موجودیت په حقله د عقیدی د تصدیق ولو له پاره د شهادت سره ځان نه مربوطه وو. څموږ د پیچیده وجودونود ساخت معاینه کونه(مقایسه. روخانی سرود. ۱۳۹:۱۴ ) په یو ګل کې ښکاره نقشه، په روښانه شپه کې د وسعت په فضا کې پورته کتنه ،دا او داسې نور په ژوند باندی بی شماره با احتیاطه انعکا سونه یقیناً چې الحاد بی باوره کوی. د خدی د وجود د منلو په مقابل کی د هغه د وجود نه انکار کول زیات ګران کار دی. په ، کا ښاتو کی د خدی د موجودیت څخه پرته هیڅ ترتیب، مقصد یا دنهای توضیح نیشته، او دا رنګه د خدی په وجود یقین نه لرنه به د مُلحد په ژوند کې منعکس کیږی. دا خبره په ذهن کې اوساتې، چې دا د خیرانتیا خبره نه ده چې زیاد تره انسانان د څه حده پوری په یوخدی باندی د عقیدی تصدیق کوی.حتی په هغه جا معو کی په کوموکی چی په غالبه توګه مادیت د خلقو د ژوند 'خدی' ګرځیدلی دی.

د خدی د لوی قوت په حقله په مبهم تصور کی او په حقیقت کی دا عقیده لرنه چی هغه د با ایمانه عبادت په مقابل کې څه ورکونکی دی ډیر زیات فرق لری.عبرانی ژبه. ۱۱:۶ ددی په هکله داسی وای ،موږ " باید چی عقیده اولرو چې

" باید چی عقیده اولرو چی (خدی) شته دی

او

هغه انعام ورکونکی دی هغه چا ته څوک چی د هغه زیات طلبګار وی."

ذیاد تره با یبل د اسرایل د وختو د خدی د خلقو د تاریخ په حقله حساب کوی ؛ بیا بیا دا خبره راپورته کوی چې د هغوی له طرفه د خدی د منلو عقیده د خدی د وعدو مطابق نه وه. هغوی ته د هغوی عظیم مشر موسی ویلې وو"دا رقم تا سو ته معلومه ده ....اوپه خپلو زړونو کی په دی باندی غور او کړی،چې مالک خدی دی پورته په اسمان کی او ښکته په ځمکه باندی:بل هیڅ څوک نیشته. ددی له کبله د هغه په اساسنامو او امرونو باندی عمل کوی" (د تورات دویم کتاب ۴ :۳۹،۴۰).بیا په دی نقطه زور ورکړی شوی دی ـ یعنی په موږ کی دا بیداری پیدا کول چی خدی شته دی خو دهغی مطلب دا نه دی چی هغه موږه خود بخوده بغیر د کومی وجی اومنلو. که موږ په جدی توګه دا خبره منو چې خدی په حقیقت کې زموږ تخلیق کونکی دی ، نو موږ له پکار دی "چې د هغه په امرونو ...عمل او کړو." د دی مطالعتی سلسلې مطلب دغه امرونه په ګوتو کول دی ا و په هغې باندی د عمل لاری ښودل دی. که موږ ددی عمل لپاره اسمانی کتابونو اوګورو ، نو موږ به په دی نتیجه اورسیګو چې په خدی باندی زموږه عقیده قوی کیږی:

"عقیده د اوریده سره او د خدی د لفظونو د اوریدو سره پیدا کیږی"(رومیان. ۱۰:۱۷).لکه د مالک له طرفه نجات ۴۳:۹ - ۱۲ په ګوته کوی او د مستقبل په حقله د خدی پیشګویی موږ په دی خبره پوهه کوی "چې زه هغه یم"(د مالک له طرفه نجات. ۴۳:۱۳)ددې مطلب دادې چې د خدی

نوم زه یم دا چی زه کامل او ریښتینې یم(مهاجرت۳:۱۴). پیغام رسونکي پال په اوسنی شمالی یونان کې د بیرپا په نوم یو وړو کی ښار ته راغلو. دمعمول مطابق ،هغه د خدی دمقدس کتاب انجیل(ښه خبرونو) تبلیغ کولو،خو په ځای ددی چی خلقو دغه تبلیغ فقط د پال دخبرو په توګه منلي وی،"هغوی دهغه دخلي نه وتلی الفاظ دپوره زهنی تیاریدو سره د(خدی د الفاظو په توګه، نه چی د پال د الفاظوپه توګه)اومنل او روزانه به یی انجیل ددی دپاره کتلو ، چی ایا د هغه خبری د انجیل سره سمی خوری او که نه.

په دی وجه په هغوی کی ډیرو خلقو عقیده لرله" (اعمال ۱۷:۱۱،۱۲) . دهغوی عقیده د هغوی د پرانستي ذهن نتیجه وه، په باقاعدګي سره ( "روزانه")او په ترتیب سره(هغه شیان) د مقدس کتاب انجیل کتنه. په دی وجه په خدی باندی د ریښتینی عقیدی وجه دا نه وه چی هغوی د خدی نوم نه یادولو اوخدی د هغوی د زړونو ناګهاني روحاني جراحي او کړه اود هغوی عقیده پیدا شوه. د نړی هغو خلقو چا چې د بیلیګریهم په صلیبی جنګونویا د تجدید په پنځوستمه جلسه کې برخه اخستي وه څه رنګه د"معتقدو" دعوه کولی شی؟ددی په حقله روزانه د مقدسو کتابونو د لاری څومره تحقیق کیږی؟د انجیل په اساس باندی ریښتینی عقیده نه لرنه بهشکه ددغی کاواکوالي په ګوته کوی دکومې سره چې ډیر داسې "تغیر ورکونکی"د وروستنی تجربی په رنړه کې مخامخیګی ، او دغه وجه ده چی ډیر معتقدین د نوی انجیل د جنبش نه مخ اړوی.

د دی مطالعتی برنامی مطلب ستاسو دپاره هغه چوکاټ جوړول دی د کومې په رنړه کې چی به تاسو د مقدسواسمانی کتابونو څپله قاعده واره مطالعه منظمه کړی شی او" دا رقم "تاسوبه هم د عقیدی مالکان شی. د ریښتینی انجیل اوریدنی او د ریښتینی عقیدی لرنی تر مینځه د تړون په حقله د انجیل په ثبت کړی شوی تبلیغاتو کې بیا بیا ذکر شوی دی:

-"په کورینت کې د ډیرو اوسیدونکو عقیده د انجیل په *اوریدو* سره پیدا شوه او هغوی ته غُسل ورکړې شو"(عمل کونه۱۸:۸)
-خلق "د انجیل د لفظ د اوریدو سره د عقیدی مالکان شو"(اعمال۱۵:۷)
-"څنګه چې مونږ تبلیغ کولو دغه څه تاسو یقین او کړلو" (۱ د کورینت اوسیدونکی.۱۵:۱۱)
-د خدی لفظ په مثال د "تخم" دی(لوقا.۸:۱۱)؛ او د خردل په اونه کې ددغې تخم بدلیدنه عقیده ده (لوقا.۱۷:۶)، دا لیدل چې عقیده مینځ ته راځی "د عقیدی د لفظ منلو سره" (رومیان. ۱۰:۸)،"د عقیدی د الفاظو او ښه اُصولو سره"(۱ تیموتاوس. ۴:۶)په هغه زړونو کې کوم چې په خدی او د هغه په الفاظو باندی عقیدی ته پرانستی دی.( د ګلیت ښار اوسیدونکی. ۳:۲مقایسه.عبرانی ژبه. ۴:۲)
-یحیی پیغمبر د مالک د ژوند سره تقلق لرونکی لیکونو په حقله وای چی" هغه ریښتیا وای (ددی مطلب دی ریښتیا )تاسو باید چی عقیده اولری"(یحیی۱۹:۳۵).او دا رقم د خدی لفظ د "ریښتیاو" په نوم یادیګی(یحیی.۱۷:۱۷)-په کوموچی باید مونږ ه عقیده اولرو.

## ۱.۲ دخدي شخصیت

دا د انجیل شاهانه ، او عظیمه موضوع ده چې خدی په حقیقت کې ځان ښکاره کړی وو، څوک چې په لاسو محسوسیدلې شو ، چا چې وجودلرلو. دا د عیسای مذهب بنیادی اصُول دی چې عیسی علیه اسلام د خدی زوی دی. که خدی مادی (وجود)هستی نه لری، نو بیا ددی امکان نیشته چې هغه داسې زوی اولری چې د "چا جسم د هغه د انسان "په شانتې وی(عبرانی ژبه. ۱:۳). نور دا چې ، دا به ډیره گرانه وی چې د "خدی" سره ذاتی ، تقلق او ساتلی شی چرته چې خدی فقط څمونږ په ذهنونو کې یو مفهوم دی ، د فضا په خالیگاه کې د روح یوغلې اواز دی . دا ډیره د غم خبره دی چې ذیاد تره مذهبونه د خدی متعلق داسی غیر حقیقی، کږ کیچن تصور لری.

دخدی وجود څمونږ نه دومره بی حده لوی دی ، په دی وجه دا د پوهیدنی وړه خبره ده چې دډیرو خلقو عقیده په واضحه توگه د خدی د ختمی لیدلو په حقله د ډیروزیاتو وعدو په اساس وجودلری. د اسرأیلو په عقیده کی دا کمی وو چې هغوی د خدی د "شکل" په حقله عقیده نه لرله(یحیی ۳۷:۵)، دا خبره وضاحت ور کوی چې هغه شکل لری. دا عقیده د خدی د پیژندنی او د هغه په الفاظو د عقیدی په نتیجه کې مینځ ته راځی:

"په زړه کې صفای خوشبختگی ده :هغوی کولې شی چې خدی اووینی" (متی. ۸:۵).

"ای د هغه(خدی) خادمانو د هغه خدمت او کړی:او هغوی باید چې د هغه مخ اوینی؛ او دهغه نوم(دخدی نوم-الهام۳:۱۲ )به د هغوی په تندی وی" (الهام. ۲۲:۳،۴)

که مونږ ریښتینې عقیده اولرو، دا ډول شگفته امید به څمونږ په ژوند ډیر ژور عملی اثر او کړی:

"د ټولو خلقو سره په امن کې اوپاکې سره اوسیدل،ددی نه پرته هیڅ څوک نه شی کولې چې مالک اوینی،،(عبرانی ژبه. ۱۴:۱۲ )

مونږ له نه دی پکار چې قسم او خورو،دا ځکه چې " هغه څوک چې په جنت باندی قسم خوری، دخدی په تخت باندی قسم خوری ،او په جنت قسم خوړل په داسی حال کی کله چې هغه هلته ناست دی" (متی. ۲۲:۲۳). که خدی وجود نه لری نو په هغه باندی قسم خوړل بی دلیله کار دی.

"مونږ کولې شو چې هغه اووینو لکه څنگه چې هغه (ځان د عیسی علیه اسلام په شکل کې ښکاره کړو). او هر هغه څوک چې د ځان سره دا امید لری باید چې ځان پاک کړی،دغه شان هغه هم پاک دی"(یحیی. ۳:۲،۳).

په دی ژوند کې د جنتی پلار په حقله څمونږه پوهه ډیره کمه ده ، مونږ کولی شو چې چری خو د هغه سره د ملاقات دپاره د ژوند دکړ کیچنو تیارو نه وړاندی نظر واچوو. یقیناً چې څمونږ له طرفه د هغه جسمانی لیدل به بی له کوم شکه څمونږ د هغه عظیم ذهنی تصور سره برابری خوری کوم چې مونږ د هغه په حقله لرلو.دا رنگه د انسانی رنج د قطعی ژورتیانه به، د خدی سره د ذاتی تعلق یوبل شکل مینځ ته راشی د کومی تجربی څخه چې به انسان د اخرت په ورځ تیریگی.

"اګر چې د څرمنې نه لاندې (ددې مطلب مرګدی)چينجی دا وجود د مينځه يوسی، خو کله چې زه ژوندی ووم ما کولی شو چې خدی اوينم : دچا ليدل چې به ماغوبنتل د خپل ځان له پاره ، پخپلو سترګو،نه چې د بل چا په سترګو"(کار ۱۹: ۲۶،۲۷).

پيغمبر پال د بل ژوند د دردونو او پريشانو څخه چغه کړه :

"اوس مونږ د توری شيشی د لاری وينو ؛خو بيا به مخامخ يو بل وينو"(۱ د کورينت خلق. ۱۳: ۱۲).

د خدی سمه پيژندګلو هغه کيلی(قونجی) ده کومه چې د انجيل په نورو اساسی ارخونه باندی پوهيدلو کې اساسی رول لوبوی.لکه څنګه چې په يو دروغ پسی بل دروغ ويلی کيږی ،دا رنګه د خدی په حقله غلط تصور د ربښتياو هغه ترتيب پيچيده کوی کوم چې مقدس کتابونه وړاندی کوی. که دا برخه تاسو ته د قايلولو جوګه ښکاری ، يا د څه حده پوري قايلونکې وی ، نو په هغه حال کی دا سوال راوپورته کيږی :" ايا تاسو په حقيقت کې خدې پيژنې؟مو نږ به وړاندې د هغه په هقله د انجيل په تبليغاتو خبره کوو.

## ۳.۱ د خدې نوم اوشخصيت

که دخدې وجود شته دی ،نو دا فکر کونه معقوله ده چې هغه به د خپل ځان په حقله مونږ ته دڅه وئيې لپاره د ارطباط تدبير غوره کړی وی. مونږ دا عقيده لرو چې انجيل د خدی له طرفه انسان ته نازل شوی کتاب دی ،او په دی کې مونږ ګورو چې دخدی شخصيت ښکاره کيږی. دغه وجه ده چې د خدی لفظ د هغه د" تخم "غوندی بيانيګی، ( ۱ پطرس. ۱: ۲۳) کله چې دا محمونږ په ذهن باندی اثر اوکړی نو محمونږ دننه يو بل مخلوق مينځ ته راځی چې د خدی مشخصات لری.(جيمز ۱: ۱۸؛۲د کورينت اوسيدونکی. ۵: ۱۷). په دی وجه چې څومره زيات مونږ خپل ځان د خدی نوم ته نژدی کوو او د ځان له پاره درس لاس ته راوړو ، دومره به محمونږ "مطابقت د هغه د زوی تصور ته" نژدی کيږی(روميان۸: ۲۹)دچا شخصيت چې په کامله توګه دخدی د تصور په شانتې وو(کورينت. ۱۵: ۱). په دی کې د انجيل د تاريخی برخودمطالعه کونې قدر موجود دی ؛ په دی مطالعو کې د هغو قضيو مطالعه کيږی په کوم کې چې خدی د قومونو او انساناتو سره سرو کار لرلو،او هميشه ی د يو قسمه بنيادی مشخصاتو نمايش کولو.

په عبرانی ژبه کې د يو نفر نوم بيا بيا د هغه شخصيت منعکس کوی او/يا د هغه په حقله معلومات ورکوی. د مثال په توګه:

"عيسی عليه اسلام" = "نجات وهنده"- دا ځکه چې هغه خپلو خلقو ته د ګناهونو څخه نجات ورکوو"(متی. ۱: ۲۱).

"ابراهيم عليه اسلام" = 'د ډيرو خلقو پلار' -" ته ماد ډيرو قومونو پلار جوړ کړی" (پيدايش .۱۷: ۵)

په دی وجه ددی خبری توقعو لری چې د خدی نومونه او لقبونه کولې شی چې د خپل ځان په حقله مونږ ته ډير معلومات راکړی. ځکه چې د خدی د شخصيت ډير اړخونه او مقاصد دی، په حقيقت کې هغه د يو نه زيات نومونه لری.

د باپتيزم د قبلولو څخه وروستو د هغه د نوم د مطالعه کوني په حقله مشوره ورکولې کيږی؛د خدی د نوم نوری قدردانی دکومي چي دهغه په نوم کي اظهار شوی دی به ټول عمر څمونږ په ژوند کي څمونږ سره په مالک کي موجوده وی. ددغي نه زيات تره معرفت لاس ته راوړلی کيږی.

کله چي موسی عليه اسلام غوښتل چی د خپل ژوند په ډير زخمی شوی وخت کي په خدی د عقيدی قوی کولو لپاره نور علم حاصل کړی ، فرشتي "د ځان لپاره د مالک نوم غوره کړو : مالک ، يعنی خدی مالک ،مهروبان او خير خواه،ډير صبر لرونکی ،او ډير زيات ښه او ريښتوني دی،او په زرګونو باندی رحم کونکي دی،بی انصافی او خطا او ګناه معاف کونکی دی ،اوبله هيڅ ذريعه نه شی کولی چي دغه ګناه پاکه کړی"(مهاجرت ۳۴:۵ - ۷).

دا واضحه ده چي د خدی نومونه د هغه په مشخصاتو رڼا اچوی.د هغه مالکيت دا خبره ثابتوی چي هغه وجود لری.ددی په حقله دليل وړاندی کول بی منطقه ده چي يو روحانی کش به انسان ددی قابل کړی چي دشخصيت دغه ډول نشانات اولری او کوم چي امکان لری چي په مونږ انسانانو کي هم مينځ ته راشی.

خدی د ځان له پاره يوخاص نوم غوره کړی دی اود کومی په واسطه چی به هغه غوښتل چی دهغه خلق هغه اوپيژنی او ياد ي کړی؛ دا دانسانانو سره د هغه هدفونو لنډيز دی ،دا د هغه د مطالبو لنډيز دی.

يهوديان په مصر کي غُلامان وو ، او ضرورت ي لرلو چي د هغوی سره د خدی د هدف په حقله يادونه اوشی. موسی عليه اسلام ته وويلې شو چي هغوی ته د خدی د نوم ذکر او کړه دا رنګه دا به د هغوی د مصر په پريښودنه کي کمک او کړی او هغی ځمکی ته به حرکت او کړی د کومي چي د هغوی سره وعده شوی وه.(مقايسه. ۱ د کورينت اوسيدونکی.۱:۱۰). مونږ هم ددی ضرورت لرو چی د خدی طرف ته دنوی سفر له پاره د باپتيزم د قبلولو نه مخکي د هغه د نوم سره تړلي شوی اصولو باندی ځان پوهه کړو.

خدی يهودو ته اويل چي ځما نوم يحويح دی،مطلب ي دادی "زه هغه څه يم څه چي زه يم"يا نوره صحيح ترجمه ي داسی کيدي شی"زه هغه څوک يم څوک چي زه يم"(د مصر نه کنعان ته هجرت ۱۳:۳ - ۱۵). دغه نوم لږ غوندی اوګد کړی شو : " خدی ددی نه علاوه اوويل( ددی مطلب اضافګی کول دی) موسی عليه ا سلام ته ، تاله پکار دی چي د يهودو بچو ته داسی اووايی ،چي مالک (يحويح)خدی دی ستاسو د پلارانو ،خدی دی دابراهيم ،د اسحاق خدی دی او د يعقوب خدی دی ... ځما نوم دی د ټول عُمر لپاره او ځما يادګار د ټولو نسلونو لپاره دی"(مهاجرت ۱۵:۳).
په دې وجه دخدی نوم د "مالک خدی "نوم د ی.
زړه وصيت نامه(انجيل)په عبرا نی ژبه کي ليکلی شوی وه،او يقيناً چی ځمونږه انګليسی ترجمی دډيرو ښيانو تفصيل سم نه دی ترجمه کړی شوی کله چي هغوی د عبرانی ژبي الفاظ د "خدی "له پاره ترجمه کول.د عبرانی عمومی لفظونه نه چی کوم لفظ ترجمه

شوېدی هغه د "خدی "لپاره استعمال شوی لفظ "ایلوهیم "دی چې معنی لری "قدرت لرونکې ".د خدی "یادګار"،هغه نوم دی د کوم په حقله چې هغه غواړی چې مونږې یاد او ساتو، داسې دی

**یحویح ایلوهیم**
داسې معنی لری
هغه څوک چې د قدرت لرونکوپه ټولګی کی به نازل شی

په دی وجه دا د خدی هدف دی چې خپل شخصیت ښکاره کړی او ضرورت لری چې د خلقو په یو لوی ټولګی کی وجود اولری. که مونږ د هغه د لفظ فرمانداری او کړو نو مونږ کولی شوچې په دی وخت د خدی ځینی مشخصاتو ته په ځان کې رُشت ورکړو،دغه شان د ډیری محدودی حس کونې لپاره خدی په دی ژوند کې په ریښتینې عقیده لرونکو کې خپل ځان ښکاره کوی.څو د خدی نوم د هغه وخت پیغمبری ده کله چې به څمکه د خلقو نه ډکه وی، څوک چې د هغه په شانتی وی ،د دوانړو د شخصیت او د طبیعت د حوالې څخه (مقایسه. ۲پطرس. ۱:۴). که مونږ هواهش لرو چې د خدی د هدف سره ځان مربوط کړو او غواړو چې مړه نه شو لکه خدی چې نه مری ، او د پوره اخلاقی کمال سره د همیش لپاره ژوندی پاتی شو نو بیامونږ له پکار دی چې د هغه د نوم سره ځان مربوط کړو .دداسې کولو لپاره باید چې د هغه د نوم یحویح ایلوهیم په وجه باپتیزم قبولکړو.
(متی.۲۸:۱۹). دا مونږه د ابراهیم اولاد (تخم )جوړه وی( د ګلیتیان او سیلونکی. ۳:۲۷ - ۲۹) چا ته چې دځمکې د ابدی میراث وعده ور کړی شوی وه(پیدأیش.۱۷:۸)؛روميان ۴:۱۳).د "قدرت لرونکو"ټولګی ("ایلو هیم") په چا کې چې د خدی د نوم پیغمبری تکمیل ته رسیدلې ده. په دی باندی په تفصیل سره په ۳.۴ مطالعه کې رڼا اچولی شوی ده.

## فرشتې ۴.۱

ټول هغه شیان چې مونږ په دی مطالعه کې مطرح کړل د فرشتو د پاملرنی په نتیجه کې راغونډ کړی شوې دی:

- جسماني،شخصی وجود
- د خدې نوم لرنه
- هغه لارې د کومې په واسطه چې د خدې روح خپل هواهش سر ته رسوی
- د خپل شخصیت او هدف مطابق
- دا رقم ځان ښکاره کوی

مونږ په ۴.۱ مطالعه کې ذکر کړی وو چې د کومو ذیادتره عمومی عبرانی لفظونو چې ترجمه کړی شوی دی په هغې کی "خدی" د "ایلوهیم " ترجمه ده، په حقیقت کې چې د کومې معنی "قدرت لرونکی"دی، یا قدرت لرونکی څوک چې د خدی نوم لری په موثره توګه ددی وړ دی چې د خدی سره د وابستګی په اساس د 'خدی' په نوم یاد کړی شی. دا هغه فرشتی دی څوک چې وجود لری.

په پيدايش ۱ کې د نړۍ د تخليق په حقله ثبتونه مونږ ته واي چې خدی ځينی فرمانونه د تخليق په بابت تکرار کړل ،"او نړۍ جوړه شوه". دا فرشتې وی چا چې دا فرمانونه سر ته رسول:

"دا هغه فرشتې دی کومې چې ډیر ذیات قوت لری ،هغوی دغه فرمانونه سر ته رسوی ، او د هغه د لفظ په اواز سره په حرکت کې راځی" (روحانی سرود. ۱۰۳: ۲۰)

له دی کبله دا معقوله ده چې دا نتیجه اخذ کړی شی چې کله مونږ د "خدی" نوم لولو چا چی نړی تخليق کړی ده ، په حقيقت کې دغه کار فرشتو سر ته رسولی وو. ايوب ۳۸:۴ - ۷ هم په دی طریقه ذکر کوی. اوس ددی دپاره سم وخت دی چې په پیدائش ۱ کې د نړی د تخليق په حقله د واقعاتو ثبت کړی شوی لنډیز وړاندې کړو:

۱ ورځ "خدی اوویل چی رڼا دی وی : او رڼا شوه"(شعر ۳)

۲ ورځ "خدې اوویل،چې اسمان دی وی(اسمان،وسعت)د اوبو په مینځ کې ، او هغه دی اوبه جدا کړی ( په ځمکه باندی)د اوبو څخه (په وریځو کې)...او دغه شانتې اوشوه"(شعرونه ۶، ۷)

۳ ورځ "خدی اوویل ، د جنت لاندی اوبه دی په یو ځای راغونډی شی ( تشکیل دی کړی بحرونه اوسمندرونه)...او ځمکه دی مینځ ته راشی ،او دغه شانتې اوشوه" (شعر ۹)

۴ ورځ "خدی اوویل، چې رڼا ګانې دی وی.. په جنت کې..او دغه شانتې اوشوه"(شعرونه ۱۴، ۱۵)

۵ ورځ " خدې اوویل، چې اوبه دی دمځی سره په ډیر تعداد کې حرکت کونکی ځناور مینځ ته راوړی...او مرغې چې الوتلی شی...او خدی پیدا کړو ټول ژوندی مخلوق"(شعرونه ۲۰، ۲۱)_دا رنګه."دغه شانتې اوشوه"

۶ ورځ "خدی اوویل،چې په ځمکه دی په ډیر تعداد کې د مخې سره ژوندی ځناور پیدا شی ...د کور د ساتنې ځناور ، اوپه خیټه تګ کونکی شیان...اودغه شانتې اوشوه"(شعر ۲۴)

او انسان هم په دغه شپګمه ورځ پیدا کړی شو. "خدی اوویل ،چې جوړ کړی انسان ځمونږ په تصور کې ،ځمونږدمشابهت نه وروستو "(پیدایش. ۱: ۲۶). مونږ په دی شعر باندی په ۱ . ۲مطالعه کې تبصره کړېده. په دی وخت ،مونږ دا یادونه کوو چې "خدی"د لته په نزدیکت سره د خپل ذات په حقله حواله نه ورکوی._"جوړ کړی انسان"بدای چی "خدی" د ډیرو انسانانو په حقله خبره کوی. د عبرانی ژبی نه ترجمه کړی شوی"خدی" دلته "ایلوهیم" دی ،چې معنی لری "قدرت لرونکی"،د فرشتو حواله ورکولی کیږی. دا حقيقت چې فرشتو مونږ په خپل تصور کې جوړ کړو دا مطلب لری چی هغوی هم داسی وجود لری لکه څنګه چې مونږ لرو . په دی وجه هغویلډیربهتینی،محسوسیدونکی،وجود لرونکې دی ،او داسی طبیعت لری څنګه چی خدی لری.

د "طبیعت" ذکر دلته په دی حوالی سره ورکولی کیږی کله چې څوک د دلیل په اساس یو شانتی جسمانی ساخت اولری. په انجیل مقدس کې د دوه "طبیعتونه" ذکر شوی دی، د لفظ د معنی په حوالې سره دا ممکنه نه ده چه دغه دوانړه طبیعتونه په یو ځای پاتې شی.

## د خدې طبیعت("مقدس طبیعت")

گناه نه شی کولې(مکمل)( رومیان. ۹:۱۴؛ ۲۳:۲ مقایسه.روخانی سرود؛
متی .۴۸:۵،جیمز ۱۳:۱
مرگ نه لری، یعنی ابدی ژوند لری ( ۱ تیموتاوس. ۱۶:۲ )
د توان او نیرو نه ډک ( ۱ اشعیاء بن اسرایل. ۲۸:۴۰ ).
دا د خدی او فرشتو طبیعت دی ،او دغه حضرت عیسی علیه ا سلام ته ورکړی شوی ووکله چې هغه د مرده قبر څخه راوچتکړی شو(اعمال۱۳ :۳۴؛ښکاره کیدنه. ۱ :۱۸؛عبرانی ژبه. ۱ :۳ .)
دغه هغه طبیعت دی د کومی چې مونږ سره وعده شویده(لوقا. ۲۰ :۳۵،۳۶؛۲پطرس. ۱ :۳؛اشعیاء بن اسرایل. ۴۰:۲۸مقایسه.شعر ۳۱).

## انسانی طبیعت

د گناه کونې دپاره (جیمز ۱۳:۱ - ۱۵ )د یو فاسد ذهن په فریب کې راتلې شی(ارمیای نبی.۱۷ :۹؛ مارک.۷:۱۲ - ۲۳ )
مرگ ی پناه کولې شی،؛ فانی دی (رومیان. ۱۲:۵ ،۱۷؛
۱ د کورینت او سیدونکی. ۲۲:۱۵ )ډیر مخدود قوت لری،دوانړه جسمانی
(اشعیاء بن اسرایل. ۳۰:۴۰ )او روخانی(ارمیای نبی. ۲۳:۱۰ )
دا هغه طبیعت دی چې ټول ښه او خراب انسانان ،ې اوس لری. ددغې طبیعت خاتمه مرگ دی(رومیان۲۳:۲ ). دا هغه طبیعت دی کوم چې عیسی علیه اسلام په مرگ او ژوند کی لرلو (عبرانی ژبه ۱۴:۲ - ۱۸ ؛ رومیان.۳:۸؛یحیی. ۲۵:۲مارک . ۱۸:۱۰ )

دا د بد قسمتې خبره ده چې انگلیسی لفظ "طبیعت" نسبتاً مبهم دی: مونږه دا په جمله کی استعمالولی شو لکه" یحیی د سخی طبیعت مالک دی ـ کمین والې د هغه د طبیعت برخه نه ده؛خو په خپل مونږ باندی افتخار کول، فقط انسانی طبیعت دی.زه گمان کوم، دا هغه شان نه ده څنگه چې به مونږه لفظ طبیعت په دی مطالعو کې په استعمال کې راولو.

**فرشتای ظهوررونه**

دفرشتووجود د خدی له طبیعت څخه دی ،هغوی باید چې بی گناه وی او په دی وجه د مرگ قابلی نه دی(رومیان. ۲۳:۲ ). هغوی باید چې حرفی،د جسمانی شکل هستی ولری. دا ددی دلیل وجه ده چې کله فرشتې په څمکه ښکاره کیدی هغوی د عامو انسانانو په شان ښکاره کیدی:
فرشتې ابراهیم ته راغلې چې د خدی دالفاظوپه حقله ورسره صحبت او کړی؛دهغوی په حقله ویلی شوی دی چې"دری کسان"وو، ابراهیم علیه اسلام ورسره د انسانانو په شان رویه او ساتله،د ښکاره کیدلو

څخه وروستو : " زه تاسو ته خواست کوم ،چې لګې اوبه راوچتی کړی او خپلی ښپی اوینځی، او د اونی لاندی ارام او کړی"(پیدایش)

ـ بیا ددی فرشتو څخه دوه سدوم ښار ته لاړلی. یو ځل بیا لاټ او د سدوم ښار خلقو دوانړوهغوی د انسانانو په توګه اوپیژندل . " سدوم ښار ته دوه فرشتی راغلی"، چا ته چې لاټ د شپی تیرولو لپاره دعوت ورکړو. خو د سدوم ښار خلق هغه ته راغلل او په تهدیدانه انداز کې ي ورته اوویل " څه شو هغه دوه انسانان کوم چې تاته دشپی راغلې وو؟" " هغه دلیل ورکړو،چې دی انسانانو هیڅ نه دی کړی ".الهامی ثبت هم دوی د "انسانانو"په توګه یادوی:" انسانانو(فرشتو) خپل لاسونه وړاندی کړل" اولاټ ي پخپله پناه کی واخیستو؛" او انسانانو لاټ ته اوویل ...مالک مونږ راستولي یو چې سدوم رنګ کړو(پیدایش. ۱۹:۱، ۵،۸، ۱۰، ۱۲، ۱۳).

ـ دوصیت نامی(دانجیل برخه) تبصره ددی واقعاتو تایدکوی چې فرشتې د انسانانو په شکل کی وی: " میلمنوته میلمستیا ورکونه مه هیره وی؛چا پکی (یعنی ابراهیم او لاټ)په ناخبری کې فرشتو ته میلمستیا ورکړه" (عبرانی ژبه. ۱۳:۲).

ـ یعقوب علیه اسلام ټوله شپه د بیګانه انسان سره زورازمایی کوله(پیدایش ۳۲:۲۴)، د کومې په حقله چې وروستو مونږ ته وویلې شو چې فرشته وه(د هوشع نبی کتاب. ۱۲:۴)

ـ د قبرنه د عیسی علیه اسلام (اعمال ۱:۱۰) د راپورته کولو (لوقا. ۲۴:۴) او معراج ته د استولو په وخت دوه انسانان په پرق وښونکی سپینو کالو کې موجود وو.

ـ" د انسان پیمانه د فرشتې پیمانه ده" ددی په مفهوم باندی غور او کړی"( ښکاره کیدنه . ۲۱:۱۷)

**فرشتې ګناه نه کوی**

فرشتې د خدې طبیعت لری ،هغوی مرګ نه لری. دامې ښکاری چې مرګ د ګناه له کبله مینځ ته راځی، دغه وجه ده چې فرشتې ګناه نه کوی. په اصلی یونانی او عبرانی ژبو کې د" فرشتې" معنی "پیغام رسان" ته وای، فرشتی د خدی پیغام رسانی یا خدمت ګاری کوی، د وی د هغه تابعداری دی، په دی وجه دهغوی د ګناه ګاری په وجه فکر کونه هیڅ امکان نه لری. دغه شان یونانی لفظ "انجلس" دکوم ترجمه چې فرشته ده د هغه لفظ ترجمه هم "پیغام رسان"دی کله چې د انسانانو په حقله خبره کیږی یعنی د باپتیسټ فرقی سره تعلق لرونکي یحیی(متی. ۱۱:۱۰(او د هغه پیغام رسونکی (لوقا.۷:۲۴)؛د عیسی علیه اسلام پیغام رسونکی (لوقا. ۹:۵۲)او هغه انسانان چا چی د یهودیانو عالمانو په پوهنځی کې د عیسی علیه ا سلام لپاره جاسوسی کوله ( جیمز ۲:۲۵).دا یقیناً ممکنه ده چی " فرشتی"د انسانی پیغام رسونکو په مفهوم سره ګناه کولی شی.
لاندینی جملی په ښکاره توګه دا په ګوته کوی چې ټولې فرشتې (نه چې یوڅو )د طبیعت د لحاظه د خدی تابعداری دی،او په دی وجه ګناه نه شی کولی:

"خدی خپل تخت په جنت کی جوړ کړیدی،
او دهغه حُکمرانی په هر ځای کي ده (یعني د
هغه په ضد په جنت کی بغاوت نه شی کیدی).
خدی دی تاسو له د هغه فرشتو تقدس درکړی ،
څوک چې بې پناه قوت لری،څو ک چې د هغه
فرمانونه سر ته رسوی ،په حرکت کي راځي د هغه
د لفظونو په اواز باندی. مالک دی تاسو له تقدس
درکړی ، ای تاسوټول د هغه لشکرې ؛ ای تاسو د هغه
خدمت کونکوی ې، دغه هغه ته خوشحالی راوړی"
( روخانی سرود.۱۰۳:۱۹ - ۲۱).

" ثنا خوانی کوی، ای د هغه ټولو فرشتو... ای دهغه لشکره "
( روخانی سرود۱۴۸:۲)

د لفظ "ټول" بیا بیا تکراریدنه دا په ګوته کوی چې فرشتې په دوه ټولګوکي نه دی تقسیم شوی ، یو ښه او بل ګناهګار .د فرشتو په طبیعت باندی په واضحه توګه د پوهیدلو اهمیت دا دی چې باایمانه د انعام په توګه طبیعت خپل مینځ کي تقسیموی: څوک چې به لایق ګنړلې کیږی ...نه به واده کوی...نه هغوی نورمری:هغوی د فرشتو مساوی دی "(لوقا. ۲۰:۳۵،۳۶). د پوهیدلو لپاره اساسی نقطه ده. فرشتې مرګ نه لری :" مرګ... نه شی کولې چې فرشتې قابو کړی"( عبرانی ژبه ۲:۱۶ د ډایګلوټ خاشیه ) که فرشتې ګناه کولې شی ، نوهغه څوک چې د عیسی علیه اسلام په بیرته راتګ سره د انعام وړدی هم د ګناه کونی قابل کیدی شی.او ښکاری داسی چې ګناه کونه مرګ راوړی
(رومیان۶:۲۳)،او دغه شان هغوی به ابدی ژوند نه لری؛ که مونږه د ګناه کونې امکان لرو ، نوپه هغه حال کې مونږد مرګ قابل یو. دغه شان دا چې فرشتې ګناه کولی شی د خدی پاک د ابدی ژوند په حقله وعده بې معنی کوی ، داسې ښکاری چې ځمونږه انعام دفرشتو طبیعت تقسیمول دی. د" فرشتو"حواله ورکونه(لوقا۲۰:۳۵،۳۶) دا په ګوته کوی چې د ګناه کونکو او نه ګناه کونکو فرشتو درجه بندی نیشته ؛فقط د یوی درجې فرشتې وجود لری.

که فرشتې ګناه کولې شی ،نو په هغه حال کې خدی نه شی کولی چې ځمونږ په ژوند او د نړی په معاملو باندی مثبت اثر اوغورزوی، ښکاری چې هغه د فرشتو د لاری د کارونو سر ته رسونی اعلان کړیدی(روحانی سرود.۱۰۳: ۱۹ - ۲۱). هغوی د خدی له طرفه "جوړ کړې شوی روحونه" په دی حوالی سره دی چې خدی ټول کارونه د خپل روح /قوت د لاری سرته رسوی، او ددی عمل لپاره فرشتې استعمالوی(روحانی سرود۱۰۴:۴). دا چې هغوی به د هغه د تابعداری نه انکار و کړی هیڅ امکان نه لری. عیسایانو له پکار دی چې په ځمکه باندی د خدی د سُلطنت دخوریدلو له پاره روزانه دُعاګانی کوی، دا ټول چې د هغه هواهش په ځمکه داسی سر ته و رسوی لکه ځنګه چې نن په جنت کې سر ته رسیدلی دي.(متی.۶:۱۰). که چری د خدی فرشتو به په جنت کې د ګناهګارو فرشتو سره مقابله کوله ,نو م ټلته به د خدی امر په پوره توګه سر ته نه شو رسولی کیدی، او دغه شان حالت به د خدی د مستقبل په سُلطنت کې هم مینځ ته راتلل. ابدی ژوند تیرول په یوه داسی نړی کی کومه

خدی ۱۱
چې د ګناهګار او د تابعدار مینځ کې د یو ابدي میدان جنګ شکل لرلی شی او یقیناًچې په ډیر مشکله سره یوحوصله افزا مستقبل لرلې شی ،خو یقیناً چې قضیه داسې نه ده.

خو...؟
د" عیسایانو" ډیری کلیسا ګانی دا نظریه لری چې فرشتی ګناه کولی شی ،او ګناه ګاری فرشتی وجود لری ځوک چې په ځمکه باندی د ګناه او ستونځو ذمه وار دی. په دی غلط تصور باندی به مونږ په ۲ مطالعه کې بحث او کړو.په اوسنی وخت کی به مونږ په لاندی ټاکلی شوی نقطو باندی خبری او کړو:-
ـ ددی خبری امکان شته دی چې ځمونږ د پیدائښ نه مخکې یو پیدائښ وو، یعنی دغه په پیدائښ ۱ کې ثبت شوی دی. دا هم په خیال کی راتلی شی چې اوسنی فرشتی د "ښواو بدو" د پیژندګلو لپاره راغلی وی"(پیدایښ ۳:۵)هغوی د داسی حالاتو نه تیری شوی دی د کومو ځخه چې مونږ په دی ژوند کی تیریګو. دا چې په هغه وخت کی د ځینی اوسیدونکو له طرفه د ګناه کونی امکان نه شی ردیدلې؛ خو دا ټول شیان د انسانی ذهن پیداوار دی او انسانی ذهن ډیر اطمینان لاس ته راوړی کله چې په داسی شیانو کې مصروف وی. مقدس انجیل وای څه چې مونږ ته په موجوده حالاتو کې معلومول پکار دی ، هغه دا چې ګناه کونکی فرشتی نیشته دی ،ټولې فرشتی په پورا توګه د خدی تابعداری دی.

ـپه جنت کې به ګناه ګار مخلوق نه وی، "ځکه چې د خدی دومره پاکې سترګې دی چې هغه هر قسمه فاسد لیدلی شی"(عبرانی ژبه. ۱:۱۳). روحانی سرود. ۵:۴،۴ په دا ډول رښا اچوی: "هیڅ قسمه فاسد تاسو سره ژوند نه شی کولې. کم عقل نه شی پاتې کیدلې " د خدی د اوسیدنې په جنتی ځای کې. په جنت کې د ګناهګارو فرشتو له طرفه د بغاوت کونی نظریه د کتاب ددی برخو د اثر سره په مطلقه توګه تضاد لری.

ـ لکه ځنګه چې مونږ په ګوته کړی وود یونانی لفظ" اینجلز" معنی "پیغام رسونکی" دی او د انسانانو دپاره استعمالیګی ، دا قسمه انسانی " پیغام رسونکی " یقیناً چې ګناه کولې شی.

ـشته دی فاسدان،په ځا باندی چې د ژوند د ټولو منفی اړخونو ټور لګیدلی شی دا هغه ځوک دی ځوک چې دبت پرستې ډیر عام نظریات لری. ددغې لاری د کرسمس په حقله د بت پرستې نظریات راتنوتل او د "عیسایت" په توګه منلی کیږی، دغه،هم بت پرسته نظریه ده.

ـد مقدس انجیل یو موټې داسی برخې شته دی کومې چې نن د ګناه ګارو فرشتو د موجودیت په حقله د غلط فهمو لپاره د مرستی په توګه استعمالیدی شی.. په دی باندی غورد نشر کونکی له طرفه په نشر شوی شماره" د شیطان معلومولو" کی شوی دی. دداسی برخو اجازه نه شی ور کولی کیدی کومی برخی چې د مقدس انجیل ښودنی رده وی او د هغی برعکس درس ور کوی.

خدی ۱۲

**مطالعه ۱: پوښتنې**

۱. څه شی په خدی باندی د عقیدی په رشت کی کمک کولی شی؟
ا) کلیسا ته تگ
ب) د مقدس انجیل عبادتی مطالعه کونه
پ)د عیسایانو سره خبری کونه
ت)په طبیعت باندی نظر اچول

۲. د خدی د ټولو نه درست تعریف کوم یودی؟
ا)فقط څمونږ په ذهن کې یوه نظریه
ب)په هوا کې د روح یوه برخه
پ)خدی وجود نه لری
ت)یو حقیقی، مادی شخصیت

۳.ایا خدی
ا) یو وحدت دی
ب)ددریو برخو نه جوړ دی
پ)په یو خدی کې ډیر خدایان
ت)هیڅ ممکنه نه ده چی تعریف ې اوشی؟

۴. د خدی نوم "یخویخ ایلوهیم" څه معنی لری؟
ا)هغه ، څوک چې به
ب) هغه څو ک چې به د قدرت لرونکو په ټولگی کی نازلیږی
پ) یوعظیم
ت)قوت

۵. د لفظ "فرشتې" څه معنی ده؟
ا) د انسان په شان
ب) په وزرو کې پټه
پ)پیغام رسونکی
ت)معاون

۶. ایا فرشتې گناه کولې شی؟
ا)او
ب) نه

## ۱.۲ د خُدی روح:تعریف

لکه څنګه چی خدی یو حقیقی،شخصی هستی ده، څوک چی احساسات او جذبات لری، د هغه څخه ددی توقعو کیدی شی چی هغه به ځمونږ سره ، د هغه د بچو سره د خپلو هواهشاتو او احساساتو د تقسیمولو له پاره ضرور کومه لاره لری، او ځمونږ په ژوند کی به په داسی طریقه مداخله کوی چی دهغه د شخصیت سره سمی خوری. خدی دا ټول شیان دخپل "روح "د لاری کوی.
که مونږ د خدی د پیژندګلو او د هغه سره د یو فعال تعلق هواهش لرونکی یو، نومونږله دا پیژندل پکاردی چی د"خدی روح" څه شی دی او هغه څنګه فعالیت کوی.
دا اسانه نه ده چی د لفظ "روح "د معنی درست تعریف اوشی. د مثال په توګه که تاسو کوم واده کی شرکت او کړو ، نو ستاسو له طرفه ددا سی قسمه تبصری کولو امکان شته دی، "هغلته په حقیقت کې ښه روح وو"ددی نه ستاسو مطلب دادی چې فضا ډیره ښه وه،په هر جوړ په واده کې هر څه صحیح وو؛هر چا ښکلی کالی اخوستې وو، خوراک ښه وه،خلقو د یو بل سره په ملأیم انداز کی خبری کولې، د واده جینی ښکلې وه،داسی نور. دغه ټول مختلف شیان د واده" روح "متشکل کوی. هم دغه شان د خدی روح په هر جوړد هغه په حقله هر څه خلاصه کوی. د عبرانی ژبی لفظ "روح "په زړه وصیت نامه کې په سختی سره "ساه" یا "قوت "معنی لری ؛ په دی ډول د خدی روح د هغه "ساه "ده، کوم چې د هغه ماهیت دی ، کوم چی د هغه عکس دی. مونږ به ددی په حقله مثالونه ورکړو، چې څنګه لفظ "روح" په مطالعه ۳.۴ کې د چا د ذهن یا حالت په حقله استعمال شوی دی
.دادرومیان.۱۹:۱۵ نه ثابته ده چې روح فقط د خدی د برښنډ قوت حواله نه ور کوی:"بلکه د خدی د روح د قوت حواله ور کوی".

دادمقدس انجیل عام درس دی چی څنګه انسان فکر کوی داسی ې عمل وی(حکیمانه ګفتار.۲۳:۷؛ متی.۱۲:۳۴)؛کم انعکاس کولی شی چې ځمونږ د عمل تصدیق او کړی. مونږ د څه شی په حقله فکر کوو او بیا ې سر ته رسوو. د ډیره حده پوری، د خدی روح هم دغه رنګه دی؛دا قوت دی د کومې د لاری چی هغه د خپل وجود اظهار کوی، دخپل حالت او مقصد اظهار کوی. خدی فکر کوی او دغه ډول عمل کوی:څنګه چې ما فکر کړی وو، هم دغه شانتی تیره شوه؛او څنګه چې ما مقصد لرلو،هم هغه شانتی اوشوه"(اشعیاء بن اسرایل.۱۴:۲۴)

### د خدې قوت

دمقدس انجیل ډیری برخی د خدی روح او قوت یو وبنی.ددی لپاره چی کائنات مینځ ته راشی، " د خدی روح د اوبو په مخ باندی حرکت او کړو.اوخدی اوویل، چې رڼا دی وی: او رڼاشوه(پیدایش.۱:۲،۳).
د خدی روح هغه قوت وو د کومی په مدد سره چی ټول شیان ، یعنی رڼا جوړه شوی وه. "په خپل روح باندی هغه ټول جنت اراسته کړو؛ د هغ د لاس جوړ دی کا ګا ماران"(ایوب۲۶:۱۳). "د خدی په لفظ باندی جنتونه جوړ شوی وو؛ او د خلی د لاری د سا اخیستنی په نتیجه کې دهغې اوسیدونکی جوړ شوی وو" ( روحانی سرود۳۳:۶). د خدی د روح تعریف داسی شوی دی:-

دهغه ساه
دهغه لفظ
د هغه لاس

دا د هغه د قوت وجه ده چې هغه ټول شیان تر لاسه کوي. دغه رنګه معتقد ین هم د خدی په هواهش پیدا کړی شوی دی(یحیی. ۱:۱۳) ، دا د هغه روح کړی دی(یحیی. ۳:۳ - ۵).د هغه د غه هواهش روح سر ته اورسولو. څه چې مونږ د ټول کا ینات د تخلیق په حقله لولو ،" دا هر څه ستا روح وړاندې استولی وو، ددوی تخلیق اوشو: او ( په دغه واسطه)د ځمکې مخ نوی کړی شو" (روحانی سرود۱۰۴ :۳۰ ). دا قوت /روح د هرڅه او د هغوی د تخلیق د واسطو(ذرایعو) متحمل دی. دا فکر کول ډېر اسان کار دی چې په داخل کی د خدی د متحرک روح نه پرته د غم نه ډک ژوند په وړاندی حرکت کوی. ای ایوبه ،د ژوند څخه سترې شووته د یو بل پیغمبر له طرفه یادونه شوی وه: " که هغه (خدی)په خپل ځان کې خپل روح او ساه راغونډ کړل ،نو ټول وجودونه به د مینځه لاړشي،او انسان به په خاک کې تغیر او خوری"(ایوب ۳۴:۱۴، ۱۵).

مونږ به په ۴. ۳مطالعه کې اوینو چې هغه روح چې مونږه او ټولو مخلوقاتو ته یې راکړېدی، هغه زمونږه ژوند برقرار ساتي. مونږه په خپل ځان کی د "ژوند د روح نفس لرو"(پیدایش.۷:۲۲ باالختیاره تفسیر) کوم چې خدی مونږ ته د پیدایش په وخت کی راکړی وو( روحانی سرود۱۰۴ :۳۰؛پیدایش. ۲:۷). په دی وجه هغه "د ټولو وجودونو د روحونو خدی دی"(شمیره.۲۷مقایسه. عبرانی ژبه. ۱۲:۹). ځکه چې خدی د ژوند قوت دی او دغه قوت ټول مخلوقات برقرار ساتي،دهغه روح هر ځای موجود دی. داود علیه اسلام دا منی چې چرته هغه تللوخدی دخپل روح په واسطه دهغه سره موجود وو، اوددغې روح/قوت په واسطه هغه کولی شو چې ځما د فکر او دماغو هر ګوټ معلوم کړی. دا رقم د خدی روح هغه واسطه ده د کومی د لاری چې هغه هر ځای حاضر دی،اګر چې پخپله هغه په جنت کې دی.

" نه ځما د غورځیدو او او چتېدو نه خبر یې،
ته د لر ی نه ځما په ډوبو فکرو نو پوهیګی...
زه ستا د روح څخه چرته تلی شم؟ یا ستا د موجودګی
نه کوم طرف ته تښتیدی شم؟که زه د بحر تل ته
کوز شم ؛ بیا هم ...ستا راست (ښې) لاس (یعنی د روح
د لاری) کولې شی چې ما پیدا کړی "
(روحانی سرود۱۳۹ :۲،۷،۹،۱۰)

## پاک روح

مونږه اولیدل چې د خدی روح د پوهیدلوله پاره یو وسیع مفهوم دی؛دا دخدی ذهن او مزاج دی ،او قوت هم ،د کومی دلاری چې هغه خپل فکرونه عملی کوی." څنګه چې انسان په خپل زړه کې سوچ کوی،هم دغه شان هغه پخپله وی "(ضرب المثل ۲۳:۷)؛ ددغې جهت په حوالی سره خدی د هغه فکر او خدی د هغه روح دی(یحیی ۴:۲۴) اګر چه ددی دا مطلب نه دی چې هغه جدا شخصیت نه لری. چې ستاسو سره د خدی د روح په وسیع معنی په پوهیدلو کې کمک او کړو ، مونږه کله ناکله د هغه د" پاک روح "په حقله لوسته کوو.

لفظ "پاک روح" ذیادتره فقط په نوی وصیتنامه کې استعمال شوی دی.لفظ "هولی ګوسټ"زیاد تره استعمالیګی خو دا به هم ذیادتره

"پاک روح"ترجمه کیږی ،دا خبره نوی تفسیرونو واضحه کړی ده. دا د زړی وصیتنامی د عبارت "د خدی د روح" یا د "مالک دروح "هم معنی ده. دا د عمل د دوه برخو څخه واضحه کیږی،کوم چې دپنجاهی عید په دوران کی په پیغمبرانو باندی د باران په شکل دپاک روح د راتګ په توګه ثبت کړی شوی وو. پطرس دا په دی ډول بیانه وی، چې په دغه موقعه دیوئیل پیغمبر نبوت سر ته رسیدلو ، کوم چې په دی شکل بیان کړی شوی دی دا "ځما د (خدی) دروح "له طرفه باران وو ( عملونه ۲:۱۷). بیا، لوقا۴:۱ ثبت کړی دی چې د اردن نه د بیرته راتګ په وخت عیسی علیه ا سلام د "پاک روح څخه ډک وو" وروستو هم په دغه باب کې په صفحه ۱۶اشعیاء نبی اسرا یل کې ددغې روحانی تکمیل په حقله د عیسی علیه اسلام د خلې خبره لیکلې شوی ده. "د مالک خدی روح ځما سره موجوددی".په دواړو قضیو کی( او په نورو ډیرو کې)اصطلاح پاک روح د زړی وصیت نامی د اصطلاح د "خدی د روح " سره سمی خوری.

دا هم یاد ساتی ،څنګه پاک روح د خدی د قوت سره په لاندېنو برخو کې برابر دی:

-" پاک روح به په تاباندی نازل شی (مریم)، او د ټولو نه پورته قوت(اسمانی قوت) به تا د خپل سوری لاندی راولی" (لوقا. ۱:۳۵)

-"د پاک روح له طرفه ...نیرو مند نشانات او حیرت انګیزی، دا هر څه د خدی د روح له طرفه دی" ( رومیان. ۱۵:۱۳،۱۹)

-ځمونږ د انجیل ( تبلیغ)په قوت اوپه پاک روح کې راغې( ۱ د تیسا لونیا اوسیدونکی. ۱:۵).

-شاګردانو ته د پاک روح له طرفه وعده ورکړه شوی وه چې د هغوی وجود به "د پظورته څخه قوت لاس ته راوړی ""(لوقا. ۲۴:۴۹).

-عیسی علیه ا سلام ېی په "مقدس روح او قوت کې روغنی کړی وو"

-پال به د خپلو تبلیغاتو مرسته د خدی د انکار ناپذیره قوت د نمایش د لاری کوله:" ځما تقریر او ځما وعظ د روح او قوت یو نمائش وو "( ۱ د کورینت اوسیدونکی. ۲:۴)

## ۲.۲ وحی

مونږه د خدی روح د هغه د قوت،دهغه د فکر او د هغه د مزاج غونده بیان کړی دی، کوم چې د هغه روح د عمل د نازلیدلو په حالت کې سر ته رسوی. مونږ په تیر شوی برخه کې د تخلیق په موقعه د کار په حالت کی د خدی د روح ذکر کړی دی:" دخپل

روح په ذریعه هغه د جنت ارایش کړی دی"(ایوب۲۶ ۱۳:)-د موجوده تخلیق په وخت د خدی روح د اوبو د مخ د پاسه حرکت کوو (پیدایش. ۱:۲). د نن وخته پوری مونږه داهم لوستي دی " چي دلفظ مالک په واسطه" کاینات مینځ ته راغلي وو(روحانی سرود۳۳:۶)،بلکه څنګه چي د پیدایش حکایتي ثبت د مثال په توګه وړاندی کوی چي"خدی اوویل " چي شیان باید چي پیدا شي او هغوی مینځ ته راغلل. په دی وجه د خدی روح ډیر زیات د هغه په لفظ کي منعکس شوی دی- لکه څنګه چي ځمونږه لفظونه ځمونږ د داخلی فکرونو اوهواهشاتو انعکاس کوی ، دغه ډیر په سمه توګه "ځمونږه" حقیقت منعکس کوی. عیسی علیه اسلام په عاقلانه توګه داسی وایی :" د زړه د افراط په نتیجه کي (ذهن) خله خبری کوی"(متی. ۱۲:۳۴). د الفاظو د قابو کولو لپاره به مونږ له په خپل فکر باندی کار کول پکار وی. د خدی لفظ، او بیا دهغه دروح اوفکرانعکاس کیږی . دا د خدی له طرفه یو نعمت دی چی په انجیل کی د خدی الفاظ لیکلی شوی دی یعنی مونږ کولی شو چی دخدی په روح او ذهن باندی پوهه شو. هغه د وحی د جریان د لاری په الفاظو کي د روح د اظهار معجزه لاس ته راوړی. دا اصطلاح د لفظ" روح "په اساس جوړه ده:-

## وحی.

د"روح" معنی " ساه" یا د ساه اخیستنه ده ،" د وحی "مطلب "په داخل کي سااخیستنه" ده.ددی مطلب دا دی چي هغه الفاظ کوم چي انسانانو د خدی له طرفه د "وحی" په حالت کي لیکلي دی هغه د خدی د روح الفاظ دی. پال د تیموتاوس حوصله افزای دارقم کوله چي هغه له نه دی پکار چی د مقدس انجیل سره خپله رشته قطعه کړی او که رشته قطعه کړی نو په هغه حالت کي ممکن ده چی دحقیقت دا خوند بی یاده اوځی کوم چی د خدی د الفاظو روح دی، او په دی وجه هر هغه څه راکوی څه ته چی مونږه د خدی د رہنمیني علم په لاس ته راوړنه کي اړتیا لرو:-

" د ماشوموالی څخه تا د خدی د مقدس کتاب انجیل سره معرفت لرلو ،کوم چی د نجات لاس ته راوړني لپاره تاته عقل درکوی، د عقیدی د،لاری کومه چي په عیسی علیه اسلام کی ده. ټول مقدس کتابونه د خدی دوحی د لاری نازل شوی دی ، او فایده مند دی د علم لپاره ، دبیا ثابتولو لپاره،داصلاح کولولپاره، او په سم سمت کي د هدایت لپاره: چي د خدی انسان او کړی شی چي کامل( په انجام رسیدونکي)شي،د اغازه څخه تر اخره پوری مجهز وی(په مجهزه توګه مسلحه وی ،نوی بین المللی تفسیر) د ټولو ښو کارونو لپاره"(۲تیمو تاوس. ۱۵:۳ - ۱۷).

که دوحی د لاری نازل شوی مقدس کتابونه کولی شی چی مونږته د علم مجموعه راکړی،نو بیا مونږ ته د خدی په حقله درښتیاو ښودلو لپاره دداخلی رڼا ضرورت نیشته. خو ځومره ځله خلق د خپلوذاتي احساستو او تجربو په حقله خبری کوی کوم احساسات او کومی تجربی چی دخدی په حقله علم لاس ته راوړنه کي د هغوی واسطه ګرځیدلي وی! که په عیسای ژوند کي د چا پوره مسلح کولو لپاره د خدی الهامی لفظونه د عقیدی قبلوني په اړ کي کافی دی، نو بیا ځموږه په ژوندکی د حق بل قوت ته ضرورت نیشته. که ددی ضرورت محسوسیګی ، ددی مطلب دادی چی د خدی لفظ مونږه پوره نه یو روخانه کړی، څنګه چي پال د روخانولووعده کړېوه . کله چي مونږه مقدس انجیل په لاسو کی اخلو او دا باور لرو چی دا په حقیقتکی د خدی د لفظ روح دی نوددی لپاره سراسرد څه عقیدی ضرورت شته دی.لکه څنګه چي "عیسایان " په نن ورځ کي دلچسپی لری، هم دغه شان یهودیانو په معقوله توګه دخدی په لفظ کي دلچسپی لرله چي د خدی لفظ به څه وای.مونږ له ډیر په احتیاط سره خپل عکس العمل ښودل پکار دی عبرانی ژبه. ۲:۴:-

"موږ ته دمقدس انجیل وعظ شوی وو،
او هغوی ته هم شوی وو(د اسرایل صحراکي):
خو لفظ وعظ هغوی ته فایده ورنکړه، هغه څه چې
یې اوریدل په هغې یې عقیده نه لرله".

په ځای ددی چې هغه څه چې اوریدلی شوی دی یعنی د خدی د روح په قوت/ لفظ په حقله په هغې باندی خپله عقیده سر ته اورسولې شی ،د ذہاتو جاذبو لندو لارو لاس ته راوړنې کوشیش کیږی:دلیل دا ورکولی کیږی چې سم قوت به په ناګهانه توګه ځمونږه طرف ته راشي، او دغه قوت به او کړی شی چې موږه په خدی اومنی،په ځای ددی چې د یو درد منی تجربی څخه تیر شو او په شعوری توګه خپل ژوند د خدی د لفظ تابع کړو، او دا رقم د خدی روح له موقعه ورکړو چې ځمونږ په زړونو باندی ریښتینې اثر او کړی.

د خدی په لفظ کې عظیم روحانی قوت منلو ته نه تیاریدل د ډیرو "عیسایانو" لاره غلطه وی او هغوی دا پوښتنه کوی چې ایا ټول مقدس کتابونه په پورا توګه د خدی الهام وو. هغوی دا رایه ورکوی چې ډیر څه چې موږه یې په انجیل کی لولو فقط د زړو عالمانو انسانانو ذاتی رایه ده. خو پطرس په موثره توګه دغه دلایل رده وی:-

" موږه د پیغمبر لفظ نور یقینی کړل،او تاسو به ډیر ښه کوی چې د ټولو نه وړاندی دغې ته پاملرنه او کړی، تاسو باید چې په دی پوهه شي (ډیره مهمه ده)چې د مقدس کتابونو پیغمبری هیڅ کله د پیغمبرانو د خپل تعبیرسره نه ده نازله شوی. د پیغمبری سرچشمه هیڅ کله انسان نه وو ،بلکه انسان همیشه د خدی له طرفه خبری کولی په دی ډول داهر څه پاک روح وړاندی بوتلل"(۲پطرس ۱ :۱۹ - ۲۱نوی بین المللی تفسیر).

د ټولو نه وړاندی باید چې موږ دا عقیده ولرو چې د مقدس انجیل د خدی الهام دی.

**د مقدس انجیل لیکونکی**

د ټولومقدسو کتابونو په الهامی حیثیت باندی بوه اطمینان بخشه عقیده لرنه په دی وجه ډیره اساسی ده؛ ځکه چې هغه انسانانو چا چې مقدس انجیل لیکلی دی هغوی په سختی سره د روح په جلب کی ووچاچې په هغوی باندی وحی راستوله، په دی وجه د هغوی الفاظ د هغوی له طرفه نه وو. د خدی لفظ ریښتونی دی (یحیی. ۱۷:۱۷)او دغلطی په سختی سره مخه نیسی او اصلاح یی کوی (۲تیموتاوس. ۳:۱۶ ،۱۷)،دا څه د حیرانتیا خبره نه ده چې د ډیرو خلقو دپاره د ریښتاوصدمه غیر محبوبه ده. ارمیای نبی د ډیر زیات مخالفت سره مخامخ شوی وو کله چې هغه د خدی هغه الفاظ وړاندی کول کوم چې د وحی دلاری په هغه نازل شوی وو، او اګر چې هغه دا تصمیم کړی وو چې په هغه باندی نازل شوی الفاظ به نه ثبته وی او نه به یی وعظ کوی.خو تر کومه حده پوری چې د خدی د لفظ لیکل د خدی د هواهش نتیجه وه نه چې د انسان د هواهش او هغه د " پاک روح په جلب کی وو" په دی وجه په دی مسله کی د هغه سره بله لاره نه وه."په ما پسی به یی روزانه ټوقی کولی، او هرڅا به راپوری خاندل..او بیا ما اوویل چې زه به دهغه نوم نه اخلم ،او نه به نوردهغه دنومه خبروم.خو د هغه لفظ ځما په زړه کی لکه د بلیدلی ور په ډول وو کوم چې ځما په هډوکو کی بندوو،او د صرف نظر دلاسه خسته کیدم،او بی ارامه ووم(ارمیای نبی. ۲۰:۷،۹).

که انسانانو د یو حده پوری د خدی الهام لرلو ،نو په هغه حالت کی به مونږ د خدی ریښتینی لفظ او یا د خدی روح نه وی دستیابه کړی.بالفرض څه چی هغوی لیکل په حقیقت کی د خدی لفظونه وو، ددی څخه دا نتیجه اخذ کیږی چی دا هر څه په پوره توګه د الهام په وخت کی د خدی د روح د لاری سر ته رسیدل - په بل ډول لاس ته راوړلی شوی موادو به د خدی د لفظ پاکی نه لرله. دا منل چی د خدی لفظ په کامله توګه د هغه لفظ دی ، مونږه لوستی او عمل کولو ته زیات متحرک کوی. "لفظ ډیر پاک دی :په دی وجه ستا نوکران ورسره مینه لری".(روحانی سرود.۱۱۹:۱۴۰). دغه شان د انجیل کتابونه د هغه د روح د لاری سر ته رسولی شوی کار دی،نه چی دانسان د لیکلی شوو ادبیاتو دلاری. څنګه چی زړه وصیت نامه د نوی وصیت نامی حوالی ورکوی ، په هغی باندی د غور نه دغه اندازه لګیدی شی: -

-متی. ۲:۵(تجدیدشوی تفسیر) ددی په حقله خبره کوی چی دا هر څه څنګه شوی وو" د پیغمبرانو په واسطه لیکلی شوی وو"-خدی د هغوی په واسطه لیکل کول.
-"پاک روح د داود علیه اسلام د خلی خبری کولی..." (اعمال ۱
:۱۶؛په دی ډول پطرس د روحانی سرود څخه نقل کوی:مقایسه.عبرانی ژبه.۳:۷)

د عیسای مذهب په اوایلو کی خلقو انسانی لیکوالانو ته نسبتاً دومره اهمیت نه ورکولو ؛ خو حقیقت دادی چی د هغوی الفاظ د خدی د روح دلاری د وحی په واسطه نازل شوی وواو دغه مهمه وه.

**د خدی د الفاظو قوت**

د خدی روح نه فقط د هغه د ذهن /مذاج سره بلکه د هغه د قوت سره هم اړه لری د کومی په واسطه چی هغه ددغی فکر اظهار کوی ، ددی توقعو کیدی شی چی د هغه روحانی لفظه فقط د هغه د ذهن اظهار نه دی ؛په دغه لفظ کی یو حرکت ورکونکی قوت هم شته دی. ددغی قوت ریښتینی قدر دانی به مونږ دهغی د استعمال هواهشمند کړی ؛ او د شرم څه قسمه احساس چه دداسی کوئی سره منسلک وی هغه به دمینځه لاړ شی او د خدی تابعداری به مونږ ته یو داسی قوت راکړی د کومی استعمال ته چی مو نږه د نجات لاس ته راوړنی لپاره د ژوند د وړو شیانو څخه دسرعت حاصلولو لپاره ضرورت لرو. ددی په حقله د ډیری لویی تجربی نه لرنو څخه وروستو، پال داسی لیکی:-

زه د عیسی علیه ا سلام د (د خدی لفظ) انجیل په حقله هیڅ شرم نه محسوسه وم : دا د نجات لپاره د خدی قوت دی(رومیان. ۱:۱۶).

لوقا ۱:۳(تجدید شوی تفسیر)په یوه موضوع باندی غږیږی :د خدی یو لفظ هم د قوت نه خالی نه دی (روح)

د انجیل مطالعه او په ژوند کی د هغی استعمال یو حرکتی جریان دی . دا د ډیرو خداشناسو دیخ، درمسی مشابهت، سره هیڅ تقلق نه لری او د هغه ډیرو کلیساو" د بنه محسوسولو" سره هم هیڅ تعلق نه لری په کومو کی چی یو څو برخی په مختصره توګه نقل کړی شوی وی ، خو د ځان د پوهیدنی او عمل کونی کوشیش نه کوی." د خدی لفظ با سرعته (ژوندی)او طاقت ور دی ؛" د هغه (خدی)د قوت لفظ"(عبرانی ژبه.۴:۱۲؛

۱:۳). "دعقیدی لرلو په حالت کې د خدی لفظونه په موثره توگه په تاسو کې کار کوی" دتهیسلونیا اوسیدونکی ۲:۳). د لفظ د لاری خدی په متحرکه تو گه د ریښتینی معتقدینو په ذهن کې د ورځې هر وخت کار کوی. د انجیل کوم مقدس اساسی پیغام چې تاسو بې ذده کوی هغه د خدی د ریښتینی قدرت په حقله دی؛ که تاسو دغه پیغام قبول کړی ،دغه به ستاسو په ژوند کې کار او کړی او تاسو به د خدی اولاد جوړ کړی، او د څه حده پوری به تاسو ته د خدی روح / ذهن په دی ژوند کې ځان اوښایی، او دا رقم چې تاسو د خدی روحانی طبیعت ته د بدلیدلو له پاره چمتو وی کوم چې به د عیسی علیه اسلام د بیرته راتگ سره راځی(۲پطرس. ۱:۴). د پال وعظ "ددغی روح او قوت یوه نمونه وه" (۱د کورینت ښار اوسیدونکی. ۲:۴). څمونږ نه گیر چاپیره هغه خلق ناست دی څوک چې د خدی په انجیل باندی پوره عقیده نه لری، اگر چې هغوی دا دعوی کوی چې هغوی خپل ځان عیسی علیه اسلام ته سپارلی دی. او دغه شان هغوی په خدی باندی د خپلی عقیدی لرنی دعوی کوی، خو د تن وخته پوری دی منلو ته تیار نه دی چې خدی یو حقیقی شخصیت دی. د خدی د مقدسو کتابونو څخه دا انکار کول چې هغوی ټول د خدی د وحی دلاری راغلی دی ، او دا انکار کول چې هغوی څمونږ په ذاتی احساساتو او عقیدو باندی برتری لری ، د خدی د قوت نه انکار کول دی. د ۲تیموتاوس. ۵:۳الفاظ راپاپادشی:هغوی دتقوی صورت لری،خو دغلته قوت نه منی"یعنی د انجیل د لفظ د قوت نه انکار کوی. څمونږ په بنیاد پرستی پوری دنیا خاندی(" ته په دی باندی داسی عقیده نه لری، ته داسی لری؟!") اودغه ټول پال وو او د هغه د ټولگی واعظان وو: " د صلیب په حقله وعظ کونه د هغوی په فکر کې رنگ کونکی حماقتدی؛خو څمونږ نجات لرو نکو لپاره،دغه وعظ دخدی قوت دی." (۱د کورینت اوسیدونکی. ۱:۱۸).

ایا مونږ داسی کولی شو چې دا ټول شیان په ذهن کې اوساتو او د لویی پیمانی د قدر سره مقدس انجیل په لاس کې واخلو ، او د ذیاتی مینی سره ئې اولولو او ځان په پوهه کړو ؟

**د خدی د لفظ په حقله د خدی د خلقو برخورد**

د مقدس انجیل د حساسی لوستنی په حقله ثبت شوی مواد دا اشاره کوی؛ دا نه چې د ا نجیل لیکونکی فقط په خپل ځان باندی دوحی راتلنه منی ، بلکه د نورو لیکونکو په حقله هم داسی فکر کوی. مالک عیسی علیه اسلام په دی کې افضل دی. کله چې عیسی علیه اسلام د داود علیه اسلام دروحانی سرود نقل کولو نو هغه ددغی سریزی اغاز ددی الفاظو نه کړی وو، "داود علیه اسلام په روح کې..."(متی. ۲۲:۴۳)،هغه ددی حقیقت د منلو ذکر کوی چې په داود علیه اسلام باندی وحی راتلله. عیسی علیه اسلام د موسی علیه اسلام په حقله هم داسی خبره کوی ' "لیکل "(یحیی.۵:۴۵-۴۷)، داسی ښکاری چې هغه دا یقین لری چې اسفار پنجگانه په ادبی توگه موسی عَلیه اسلام لیکلی وو . د" لوړانتقاد کونکو" په نوم عیساپانو دا شک کولو چې ایا موسی علیه اسلام لیکل کولی شو ، خو د عیسی علیه اسلام برخورد په ښکاره توگه د هغوی د نظرسره اختلاف لرلو. هغه د موسی علیه اسلام "لیکلو" ته د خدی فرمانونه وای "(مارک۷:۸،۹). هم د غه د بی ایمانه شکمنو ټولگی دا دعوی کوی چې د زړی وصیت نامی زیاد تره برخه یوه قصه ده،خو هیڅ کله عیسی علیه ا سلام یا پال د زړی وصیتنامی په حقله داسی خبره نه وه کړی. عیسی علیه اسلام د شیبا ملکې په حقله د یو تاریخی حقیقت په توگه خبره کړی وه(متی. ۱۲:۴۲)؛هغه دا سی نه وو ویلی ،چې د شیبا ملکې سره تعلق لرونکی قصه...'.

د پیغمبرانو برخورد د هغوی د مالک سره سم وو .ددی خلاصه پطرس په دی ټول وړاندی کوی،پطرس د هغی الفاظو په حقله خپل برخورد ښکاره کوی کوم چې هغه د عیسی علیه ا سلام څخه پخپلو

غوکوتو اوریدلی وو د هغه دغه "د پیغمبری ذیات یقینی الفاظ" داسی محسوسیدل لکه رڼا چی په تیاره کی پته شي.(۲پطرس. ۱:۱۹ - ۲۱).پطرس داعقیده لری چی د پال لیکونه داسې "مقدس " وولکه څنګه چی" نور مقدس "، وو نور مقدس په عام حالت کی د زړی وصیت نامی لیکلو ته وای..دارنګه پطرس لیدل چی د پال لیکونه دومره معتبر دی څومره چی زړه وصیت نامه معتبره ده.

په اعمالو کی د شعرونو او د انجیل نازلیدلو طرف ته ډیری اشاری شته دی،(یعنی.مقایسه.اعمال۱۳::۱۵: متی. ۱۰:۱۴)، اشاره کوی نه فقط دی ته چی هغوی دوحی د لاری راستولی شوی دی بلکه دا اشاره هم کوی چی دیو روح له طرفه راستولی شوی دی ، او د نوی وصیت نامی د لیکونکو له طرفه د انجیل د ثبت سره داسی برخورد اوشو لکه چی هغه د خدی وحی وی. پال په ۱ تیموتاوس .۱۸:۵ کی د دواړو په دویم تورات.۲۵:۴(په زړه وصیت نامه کی)او لوقا. ۱۰:۷ "مقدسو" کتابونو په ډول حوالی ورکوی.پال په دی خبره زور ورکوی چی د هغه پیغام نه چی د هغه له طرفه بلکه د عیسی علیه اسلام له طرفه وو.( د ګلیت اوسیدونکی. ۱:۱۱، ۱۲؛ ۱د کورینت اوسیدونکی .۲:۱۳؛ ۱۱:۲۳؛۱۵:۳). دا خبره نور پیغمبران هم منی ؛ دارنګه جیمز ۴:۵ د ګلیت اوسیدونکو څخه د" مقدسو کتابونو" په ډول د پال د لفظونه حواله ورکوی.۱۷:۵ خدی "خبری او کړی" څمونږ سره د عیسی علیه اسلام د لاری،په دی وجه د نورو الهامونو ضرورت نیشته(عبرانی ژبه. ۱:۲) دا مشاهده کیدی شی چی مقدس انجیل نورو مقدسو لیکونو ته اشاره کوی کوم چی اوس دستیاب نه دی( یعنی دجیشر کتاب ، د کورینتاین خلقو ته د نتهن ، ایلیجاه، او پال لیکونه او د یحیی دریمه رساله اشاره ورکوی د هغه خط په حقله کوم چی نه دی حفظ کړی شوی او کوم چی کلیسا ته استولی شوی وو خو ډایټرفس د تابعدای نه انکار او کړو). دا لیکونه ولی څمونږ دپاره محفوظ نکړی شو؟ واضحه ده چی ددی څمونږ سره څه تعلق نه وو. مونږ به په دی باقیمانده باندی خاطر جمع ساتو او هغه څه چی خدی ساتلی دی په مونږ پوری مربوط دی.

کله نه کله دا دعوی کیږی چی د نو ی وصیت نامی کتابونه په قلاره قلاره اومنلی شو چی د خدی له طرفه نازل شوی دی ، خو دا حقیقت پخپل ځای دی چی پیغمبراتو د یو بل د لیکونو په حقله دا رویه ساتله چی دا د خدی له طرفه نازل شوی دی یقیناً چی دا خبره رده وی. په هغه وخت کی د هغه د لیکوتو اود الفاظولپاره کومو چی د الهام دعوی کولو د هغوی د امتحانولولپاره معجزای روحی تحفه موجود وه( ۱ د کورینت اوسیدونکی. ۱۴:۳۷؛ ۱ یحیی. ۴:۱؛ تجدید شوی ۲:۲). ددی مطلب دا دی چی الهامی لیکونه سمدستی الهامی اومنلی شو. که په دی کی څه ډول انتخاب د انسانی رهنمایی نه پرته په انجیل کی شامل شوی وو، نو کتاب به خپل معتبر توب دلاسه ورکړی وو.

## ۳.۲ دپاک روح تحفی

په مختلفوموقعودانسان سره په خپل سر و کار کی، خدی د استعمالولو لپاره خپل قوت ("پاک روح،") انسان ته حواله کوو. خو هیڅ کله دا د "تش بانکی چک " په شکل نه وو دا نه چی څه به هغوی کول غوښتل هغه به ي کول ؛ په هره موقعه ددی پاک رو ح استعمال د یو معین مقصد لپاره وو. کله چی به دغه مقصد تر لاسه کړی شو،د پاک روح د غه تحفه به بیرته اخیستلی کیده. مونږه باید چی دایاداو ساتو

چې دخدای دروح چې به کوم مقصد په ذهن کې وی هغه به ې وړاندی بوتلو،دغه ې دکار طریقه وه.
د هغه مقصد همیشه د انسان په ژوند کې د لنډ وخت مصیبتونو ته لار ورکوی ددی لپاره چې د اوګد وخت مقصد تر لاسه کړی(۱.۶ مطالعه او ګوری)،دا ډول ددی توقعو کیدی شی چې د هغه پاک روح ضروری نه ده چې په دی ژوند کې د انسانی تکلیف دکمو ولو لپاره استعمال کړی شی..
که داسی کوم نرم حالات مینځ ته راشی نو دا هر څه به د لوړ مقصد یعنی د خدی په ذهن د پوهیدلو لپاره کیږی.

دا هر څه په نبی ورغ کې د پاک روح په حقله د عیسایانو د محبوبی رویی سره فرق لری؛ دا تاثر ورکړی شوی دی چې په عیسی علیه اسلام باندی عقیده لرنه ارزش لری ځکه چې دا ډول جسمانی فایدی لاس ته راوړلی کیدی شی، یعنی انسان صحت مند کیدی شی ، او ممکن ده چې پاک روح داسی او کړی. دا به په دی خبره رڼا واچوی چې ولی د کشمکش په هیوادنو کې لکه بوګنډا کې په مشخصه توګه ډیرو زیاتو خلقو د شفادروحانی هدیو لاس ته راوړنی په حقله خلقو دعوی او کړی او په، تاریخی توګه ، داسی دعوی زیاد تره د خلقو د ضروریاتو سره سمی خوری. دا حقیقت پخپله ددی ډول روحانی تصرف په حقله شک پیدا کوی؛ که څوک دا قسمه تجربه کول غواړی چې د نبی ورځی انسانی بد حالی حل راوباسی، نو په هغه حال کې د داسی قوت د شتمنی په حقله د عوی کول اسان دی کوم چې د نن ورغ د بد حالی حل وړاندی کولی شی.

ډیر 'عیسایان' دا دعوی کوی چې هغوی معجزانه روحانی هدیی لری ؛ خو چې کله د هغوی نه د مقصد په حقله پوښتنه او کړی شی ؛نو بیا دغلته واضح ځواب نه شی ورکولی. خدی همیشه خپل روح دمشخص، معین هدفونه لپاره ورکړی دی. دغه وجه وه ،چې د چا په تصرف کې دغه هدیه وه هغوی همیشه په دقیقه توګه د هغې د استعمال په هدف پوهه وو، او له دی کبله هغوی د دغه هدیو د استعمال څخه فقط جزوی کامیابی نه وی تر لاسه کړی. دا فرق لری د هغه ډیرو ناکامو او جزوی شفایی تجربو سره څو ک چې د نبی ورځی د شفا دپاره د روحانی هدیو لرلو دعوی کوی.

دا لاندینی مثالونه ټول هغه مشخص دلایل او هدفونه په ګوته کوی کوم چې د روحانی هدیی ورکونی په شا پټ وو. په دی یوه قضیه کې هم یوداسی ذهنی غنصر نه وو شامل چې ددغه هدیو(تحایف) لاس ته راوړنولپاره استعمال شوی وی ، او نه هدیو لرونکودا حق لرلو چې په خپله خوښی ې د هغې استعمال کړی وی. ځکه چې مونږ د خدی د روح خبره کوو، دا قابل ادراک نه ده چې انسان د هغې د استعمال هدایت ورکولی شی، د مشاهدی نه دا معلومیږی چې دا روحانی هدیه(تحفه) هغوی له ددی لپاره ورکړی شوی وه چې دخدی څه مخصوص هواهشات سر ته اورسوی،په ځای د هغه موقعتی استعمال کوم چې انسان عملی کوی( مقایسه.اشعیاء نبی اسرأیل ۱۳:۴۰ )

-د اسرایلو په قدیم تاریخ کې ، هغوی ته د یوی غټی خیمی جوړولو امر شوی وو
( "د پرستش خیمه") په کومه کې چې به هغوی
خپله اصلاح کوله او نور پاک شیان به ې هغلته ساتل ؛ تفصیلی هدایات د
دغی شیانو په جوړولو ورکړی شوی وو کومو ته چې به د خدی په عبادت
کې ضرورت وو. ددغې مقصد لاس ته راوړلو لپاره خدی ځینی انسانانو ته
خپل روح ورکړو.هغوی ې د "دانای په روح کامل کړل، چې هغوی د
موسی علیه اسلام دپاره کلی جوړ کړی..." داسی نور.(مهاجرت.۲۸:۳)

په دوی کی ئې یو کس چی د بیزلئېه نوم یادیدلو د" خدی د روحه ډک کړو، دانای ئې ورکړه،او فهم یې ور کړو،اوعلم ئې ورکړه او د کارکونی طریقه ئې ورله ورکړه،چی په سرو کی کار وکړی...او د کانړو تراشول او کړی ...د کار کونی په ټولو طریقو سره ئې مجهز کړو"(مهاجرت. ۳۱ : ۳ - ۵).

شماره. ۱۱:۱۴ - ۱۷ ثبتول دا ښایی چی څومره روح/قوت د موسی علیه اسلام نه احیستلی شوی وو او د اسرایل نورو مشرانو ته حواله شوی وو، د هغی مقصد دا وو چی دوی د خلقو د شکایاتونو د انذی لګولو قابل شی او دا رنګه په موسی علیه اسلام باندی فشار کم شی. د موسی علیه ا سلام د مرګ نه لګ وروستو روحی هدیه د هغه نه یوشع بن نون پیغمبر اسرایل ته منتقل شوه، چی دا رنګه هغه وکړی شی چی د خدی د مخلوق سمه راهنمای وکړی( د تورات دویم کتاب ۳۴:۹).

د ادم علیه سلام او هوا نه وروستو د انسانی تاریخ په او گدو کی انسان ډیر خراب شوی وو. حالات دومره خراب شو ی وو چی په انسانی جامع کی هیڅ قسمه اخلاقیات نه وو پاتی شوی، او ددی په وجه خدی اوغوښتل چی د نوح علیه اسلام نه پرته دغه هر څه د مینځه یو سی .( پیدایش ۶:۵ - د). هغه ته اویلی شو چی غټه کشتی جوړه کړه ، او په دغه کشتی کی پخپله او د ټولو ځناورو څخه دیونماینده په حیث یویو ځناور راغونډ کړه ، چی په وخت د سیلاب کی دغلته پاتی شی. د مقدسو کتابونو څخه پرته ډیر علمی کتابو نه هم ددی خبری ثبوت ورکوی چه دغه سیلاب راغلی وو. دا خبره په ذهن کی اوساتی چی ځمکه په هغه حال کی پاتی شوه څنگه چی وه ، فقط څه چی ژوندی وو د ځمکه په مخ هغه ټول د مینځه یوړی شول(پیدایش ۷:۲۱). د نوح علیه ا سلام د سیلاب په حقله حضرت عیسی علیه ا سلام ( متی .۲۴ :۳۷) او (۲پطرس۳:۶ - ۱۲) او پطرس دواړو یو نظر لرلو او هغوی دا ویل چی د عیسی علیه ا سلام د راتگ څخه مخکی به هم د غه ډول تباهی مینځ ته راځی څنگه چی د نوح علیه سلام په وخت کی شوی وو. د عصری نړی د خرابتیا معیار هم هغه مقام ته رسیدلی دی څنگه چی د نوح علیه سلام په وخت کی وو، په دی وجه دا د نړی به د عیسی علیه سلام د راتگ څخه مخکی یوی بلی سزا ته مخامخیگی . دا چی انسان ډیر زیات گناه گار شوی دی او د ځمکی د تباهی د پاره ډیری ذرایعی شته دی چی دا نړی تباه کړی، په دی وجه حتی په عیسایانو کی هم دا سی یوه رایه شته دی چی دا ځل به ځمکه هم تباه کیږی . د دی نظریی څخه په واضحه توگه د اسی ظاهریگی چی هغوی د انجیل په اساسی پیغام نه پوهیگی، هر هغه څه چی په دی ځمکه کیږی په هغه کی خدی برخه دار دی ، او په ځمکه د خدی د سلطنت قایمو لو لپاره عیسی علیه اسلام زر بیرته راتلونکی دی . که انسان ته ددی دنیا د تباه کولو اجازه ورکړی شی نو په هغه حالت کی ددغه وعدو سرته رسولو امکان نیشته. په مطالعه ۳.۷ او ۵ کی د خدی د سلطنت قایمه ولو په حقله مهم شهادت لاس ته راغلی دی. په دی ضمن کی وړاندی ورکړی شوی مواد به ددی ثابتولو لپاره کافی وی چی ځمکه او شمسی نظام به د مینځه نه وړلی کیږی:-

" ځمکه هغه د ټول عمر لپاره جوړه کړیده"(روحانی سرود۷۸:۶۹).

"ځمکه د ټول عمر لپاره په وجود کی راغلی ده"( په کلیسا پوری مربوط ۱:۴)

" نمر او سپوږمی ...ستوری ...جنتونه هم د ټول او ټول عمر لپاره جوړ کړی شوی دی؛ ددی په حقله د هغه فرمان دی چی دا به د مینځه نه ځی "( روحانی سرود. ۱۴۸:۳ - ۶).
"ځمکه به د مالک د علم نه ډکه وی او دریابونه به د اوبو نه ډک وی."(اشعیاء بنی اسرایل. ۱۱:۹؛شمیره .۱۴:۲۱)۔ دا مشکله ده چی خدی به خپله ځمکه په خپله د مینځهٔ یوسی. په هغه حالت کی دغه وعده سر ته نه شی رسیدی.

" خدی دی ځمکی ته په خپله شکل ورکړی دی او هغه جوړه کړیده ؛ هغه دا تشکیله کړی ده؛ هغه دا کار په بیهودگی کی نه دی کړی ، هغه دا د ژوند تیرولو لپاره جوړه کړی ده" (اشعیا ء بن اسرایل .۴۵:۱۸).

که خدی د نیا ددی لپاره جوړه کړی وه چی تباهی ې اووینی
نو په هغه حال کی دا کار بیهوده وو .

په پیدایش کی ذیحقه خدی دا ټولی وعدی نوح علیه اسلام ته ورکړی وی. دا ټول نوح علیه اسلام د سیلاب نه وروستو په نوی دنیا کی د ژوند اغاز او کړو، ممکن ده چی هغه سره یو ځل بیا ددی نړی د پوره تباه کیدنی فکر وو . د سیلاب نه وروستو کله چی به د باران د وریدنی اغاز کیدلو، دا فکر به حتماً د هغه ذهن ته راتللو . او په دی وجه خدی د وعدو یوه مجموعه وړاندی کړه، چی داسی به بیا نه کیږی:-

" دا ځما د نظر لاندی ده، زه ستاسو سره د وعدو تصدیق کوم...زه به ستاسو
سره دوعدوتصدیق کوم ( په"زه" باندی زور ورکولوته متوجی شی ـ د ادخدی شګفتګی
ده چی هغه فانی انسان ته وعدی ورکول غوره کړل !)؛ هیڅ کله به نور د اوبو د
سیلاب په وجه ټول ژوندی وجودونه د مینځه نه وړلی کیږی ؛نه به نور داسی سیلاب
راځی چی ځمکه د مینځه یوسی. (پیداېش . ۹:۹ - ۱۷).

ددی وعدو د بوډی د ټال په ذریعه تصدیق او کړی شو :-

" کله چی زه د باران وریځی په ځمکه خوری کړم ، په وریځو کی به
یو ځم ښکاری ،او زه به ستا او په ځپل مینځ کی وعدی راپایادی کړم
هغه ابدی وعدی ځما او د غوښی نه جوړدهر ژوندی مخلوق په مینځ کی
کوم چی په ځمکه باندی ژوند تیره وی...د بوډی ټال ددغی وعدو
علامت دی"(پیدایش . ۹:۱۳ - ۱۷ )

ځکه چی داد خدی او د خلقو او ځناورو په مینځ کی چی په ځمکه باندی ژوند کوی دا یوه دایمی وعده ده ، ددی نه دا درک کیدی شی چی په ځمکه به انسانان او ځناور د همیش لپاره ژوند کوی. ددی ځخه په پخپله دا ثابتیګی چی د خدی سلطنت به په ځمکه وی نه چی په جنت کی . دا رنګه په انجیل کی نوح علیه ا سلام ته ورکړی شوی وعدی د سلطنت اساس ګرځی ؛ددی ځخه دا معلومیږی چی خدی،ځومره دی ځمکی ته پاملرنه کوی، او ځومره په دی کی دایمی مقصد کی لری. حتی په قهر کی هم شفقت نه هیره وی( کیتهولیک دایرالعلوم. ۲:۳)، او د هغه محبت دا ټول دی چی حتی هغه د ځپلو ځناورو د تخلیق هم غم خوری( ا د کورینت اوسیدونکی . ۹:۹ مقایسه .پیغمبر یونس ۴:۱۱ )

ابراهیم علیه ا سلام ته وعدی ۴.۳

په کوم انجیل چی ابراهیم علیه ا سلام پوهیدو په هغه انجیل او د عیسی علیه ا سلام او پیغمبرانوله طرفه تبلیغ شوی انجیل کی اساسی فرق نه وو. د انجیل نه وړاندی خدی ابراهیم علیه ا سلام ته د نورو مقدسو کتابونو د لاری وعظ کولو (د ګلیت اوسیدونکی . ۸:۳). په انجیل کی دا وعدی دومره قاطع دی چی پطرس به کله هم د خلقو وړاندی بیانیی ورکولی نو هغه به د هغوی په حوالو سره د بیانیو اغاز او انجام کولو . (اعمال ۳:۱۳، ۲۵). که مونږ او کړی شو چی په هغه ځه پوهه شو ځه چی ابراهیم علیه ا سلام ته ښودلی شوی وو ، نو په هغه حال کی به مونږ د عیسای انجیل اساسی عکس اولرو .

ددی څخه پرته د انجیل په حقله نوری داسی حوالی شته دی او هغه دا چی انجیل داسی شی نه دی چی د کوم اغاز د عیسی علیه ا سلام په وخت کی شوی وو :-

" مونږه تاته دا خوشنوده اطلاع ښکاره کوو(( انجیل)،
هغه وعده چی د( یهودو ) د پلار سره شوی وه، خدی سر ته
اورسوله " ( اعمال ۱۳ : ۳۲،۳۳).

" د خدی انجیل د کومی وعده چی مخکی هغه د خپلو پیغمبرانو د لاری
په خپلو ( یعنی .ابراهیم علیه اسلام، پیدایش. ۲۰:۷) کتابونو کی کړی وه"(رومیان. ۱ : ۱،۲).
"ددی مقصد دپاره هغه چا ته هم دانجیل وعظ شوی وو څوک چی مړه دی. ( ا پطرس ۴:۶ )
یعنی هغه معتقیدین چا چی د رومینی صدی نه مخکی ژوند کولو او مړه دی.
" موږ ته د انجیل وعظ کیدو او هم دغه ډول هغوی ته کیدو"(عبرانی ژبه .
۴:۲ ) یعنی کله چی اسرایل بیابان وو.

کومی وعدی چی ابراهیم سره شوی وی د هغی دوه اساسی موضوعګانی وی:

۱ ) شیان د ابراهیم علیه اسلام د تخم په حقله( مخصوص اولاد)او
۲ ) شیان د هغه ځمکی په حقله د کومی وعده چی ابراهیم علیه اسلام سره شوی وه.

په نوی وصیت نامه کی په دی وعدو باندی تبصره شوی ده او دا چی انجیل دی پخپله د خپل ځان په حقله توضیح ورکړی مو نږ ه په دغه حقله په خپلو اُصولو ولاړ یو، د ابراهیم علیه ا سلام سره چی کومی وعدی شوی وی د هغی د پوره عکس لاس ته راوړنی لپاره به ددوانړو وصیت نامو درسونه یو ځای کوو.

په کوم ځای کی چی نن عراق وجود لری په دغه ځای کی په یو کامیاب ښار یور کی ابراهیم علیه سلام ژوند کولو. عصری باستان شناسی دا معلومات تر لاسه کړی دی چی د ابراهیم علیه ا سلام په زمانه کی په دغه ښار کی جامعی ډیره پیش رفت کړی وو. په دغه ځای کی بانکی نظام وجود لرلو ، غیر نظامی خدماتو وجود لرلو ،او د ښه ژوند تیرولو لپاره ټول شرایط موجود وو .په دغه ښار کی ابراهیم علیه ا سلام د یو عام انسان په حیث ژوند کولو ؛ خو مونږه هغه په ټوله نړی کی د یو توموړی انسان په حیث پیژنو. خو بیا هغه ته د خدی له طرفه یو فوقاالعاده اواز راغی ، هغه ته اویلی شو چی دغه د لوړی سطحی ژوند پریګده او په لور د هغه ځمکی روان شه د کومی چی تا سره وعده شوی ده. دا چی هو بهو چرته لاړ شی او هو بهو څه او کړی دا شیان نه وو واضح کړی شوی. څه چی ویلی شوی وو ، هغه دا چی ۱۵۰۰ میله سفر به کوی. د هغه ځای نوم کانان وو ، څه ته چی نن عصری اسرایل ویلی کیږی.

خدی به کله تا کله د ابراهیم علیه ا سلام په ژوند کی رابنکاره کیدلو او هغه ته به ي بیا بیا د خپلو وعدو او فراحت یادونه کوله. دغه وعدی د عیسی علیه ا سلام دانجیل اساس دی ، لکه څنګه چی مونږه ربښتینی عیسایانو ته دغه اواز راغی هم دغه شان اواز حضرت ابراهیم علیه ا سلام ته راغلی وو، هغه ته ویلی شوی وو چی ددی نړی فانی شیان پریګده ، او د عقیدی په ژوند کی وړاندی حرکت او کړه ، او د خدی وعدی د حقیقت په توګه اومنه ، او د هغه په لفظ ژوند کوه. مونږه دا اندازه لګولی شو چی څومره به ابراهیم علیه ا سلام د خپلو سفرونو په دوران کی په دی وعدو غور کړی وی. د عقیدی په اساس چی کله ابراهیم علیه ا سلام ته د (یور) څخه د بهر تللو او (کنان) ته د تګ اواز اوشو کوم چی به وروستو هغه ته په میراث کی پاتی کیږی ،نو هغه تابعداری او کړه ، او هغه بهر ته راوتو، اګر چی هغه ته دا علم هم نه وو چی کوم خوا لاړشی."(عبرانی ژبه . ۱۱ :۱۸ ).

لکه څنګه چې مونږ په ړومبنی ځل د خدی د وعدو سره مخا مخیګو ، مونږه هم دا محسوسه ولی شو چې د خدی د سلطنت په حقله چې د کومی ځمکی ذکر کیږی دا به څنګه وی. خود خدی په لفظ باید چې ځمونږه داسی عقیده وی چې مونږ له په بی صبری سره په هغی عمل کول پکار دی.

ابراهیم علیه ا سلام سر ګردانه خانه بدوش نه وو چې د د غه وعدو د تصادفاتو نه ي پرته بل څه بنه شی لاس ته نه شو راوړلی. د ابراهیم علیه ا سلام د ژوند دشرایطواساس هم داسی وو په کوم کی چې مونږ ئن ژوند تیره وو. د کومو پیچیده ،دردناکو فیصلو سره چې هغه مخامخ شوی وو، دد اسی پیچیده او دردناکو حالاتوسره مونږ ه هم مخامخیدی شو کوم وخت چې د هغه د وعدود منلو او په هغی باندی د عمل کونی انتخاب ته مخامخ شو ، د تجارتی همکار له طرفه عجیبه نظر ، او د ګاونډی موذی نظرونه ("هغه مذهبی شو") ... ددی شیانو سره به ابراهیم علیه ا سلام هم مخامخشوی وی. د کومو حالاتو څخه چې ابراهیم علیه ا سلام تیریدلوپه داسی حالاتو کی باید چې هغه عظیمی انګیزی لرلی. کوم شی چې هغه ته د ټولو کلونو په اوګد سفر کی انګیزه اماده کوله هغه لفظ وعده وه. هغه باید چې د غه الفاظ روزانه یاد کړی وی او په حقیقت باندی د پوهیدلو لپاره هغه په دغی غور کړی وی.

که مونږه داسی عقیده اولرو او په هغی عمل او کړو ، نو مونږه هم هغه ډول عزت لاس ته راوړی شو څنګه چې ابراهیم علیه اسلام لاس ته راوړی وو، چې د خدی د دوستانو په نوم اوپیژندی شو ( اشعیاء بنی اسرایل ۴۱:۸) ، چې د خدی علم لاس ته راوړو( پیدایش .۱۸:۱۷ ) او د خدی په سلطنت کی د ابدی ژوندتیرولو یقینی امید اولرو. مونږه بیا په دی خبره زور ور کول غواړو چې د عیسی علیه ا سلام انجیل ابراهیم علیه ا سلام ته د ور کړی شوی وعدو په اساس جوړ دی. بی له دی نه ځمونږه عقیده په عقیده کی نه شی بدلیدلی. مونږ له د بی صبره ستر ګوپه ډول د ابراهیم علیه اسلام او د خدی په مینځ کی مبا حثه بیا بیا لوستل پکار دی.

ځمکه

۱ )"راوځه د هیواد څخه...د هغه ځمکی په لور کومه چې به زه تاته در اوښایم "(پیدایش. ۱۲:۱ )

۲ ) ابراهیم علیه اسلام په( مر کزی اسرایل) کی (بیت ایل) خانه خدا ته لاړو او مالک( خدی) ابراهیم ته اوویل ... اوس راپورته کړه خپلی ستر ګی، او ددغه ځای نه شمال طرف ته، او مشرق طرف ته ، او مغرب طرف ته او ګوره : ځومره ځمکه چې په نظر درځی ، دغه ټوله به زه تاله او ستا تخم له د ټول عمر لپاره دپاره ودر کړم... په دی ځمکه او ګرځه دا به زه تاته در کومه"( پیدایش. ۱۳:۱۴ - ۱۷).

۳)" خدی ابراهیم سره وعدی کړی وه، ویل ي، ستا تخم له ما دا ځمکه در کړه، د مصر د نهر څخه واخله د عظیم فرات نهره پوری"(پیدایش . ۱۵:۱۸ ).

۴)" زه به تاله او ستا تخم له ځمکه درکړم ، کوم ځای کی چی ته بیگانه ې ، د کانان ټوله ځمکه د ابدی قبضی په اساس"( پیدایش .۱۷: ۸)

۵) "دا وعده ې ورکړه چی ابراهیم علیه اسلام به د ځمکی وارث وی"(رومیان. ۴:۱۳).
مونږه دلته د ابراهیم سره مترقی رشته وینو:-

۱) هغلته یوه ځمکه ده، د کومی په لور چی به ما غوښتل چی ته لاړ شی.'

۲) ' ته اوس هغه مساحت ته راورسیدی . ته او ستا بچی به دغلته د همیش لپاره ژوند کوی .' دا خبره په ذهن کی اوساتی چی دا وعده بی له کوم زرق وبرق او تاکید څخه ثبت کړی شوی ده ؛ که دا د انسان د لاس لیک وو نو هغه به پکی ضرور فریب شامل کړی وو.

۳)په کومه ساحه کی چی د ځمکی ورکولو وعده ورکړی شوی وه د هغه ساحی په حقله نوری مشخصه توضیحگا نی ورکړی شوی دی.

۴)ابراهیم باید چی په دی ژوند کی ددغه وعدی توقعو نه لرله ځغه به په دغه ځمکه د"بیگانه" په طور ژوند کوی ، اگر چی وروستو به هغه په دغه ځمکه ابدی ژوند تیره وی. ددی مفهوم دا دی چی هغه به مری او چی ددی وعدی د تر لا سه کولو قابل شی هغه به بیا راژوندی کړی شی.

۵) د ابراهیم سره چی کومی وعدی شوی وی ، د وحی په حالت کی پال د هغی په معنی په واضحه توگه پوهه شو، او معنی ې د ټولی ځمکی موروثیت دی.

ددی یادونی دپاره چی ابراهیم علیه ا سلام اونکړی شو چی په خپل ژوند کی د غه وعدی تر لاسه کړی مقدس کتابونه د خپلی عامی لاری نه لگ او خوزیدل:-

" د عقیدی په وجه هغه په موقتی توگه( د ژوند د تیرولو دپاره هغه موقتی ذرایعی استعمالولی) د وعدی په ځمکه اوسیدلو ، لکه څنگه چی وطن بیگانه وو هغه په خیمه کی ژوند تیرولو"(عبرانی ژبه. ۱۱ . ۹)

هغه د خارجی په تو گه په دغه ځمکه اوسیدلو ، شاید هغه هم د یو مهاجر په شان په خپل دا خل کی تزلزل او نابرابری محسوسوله. هغه په مشکل سره د خپل تخم سره په خپله ځمکه ژوند تیرولو. د خپل اولاد ، اسحاق او یعقوب ( چا ته چی دغه وعدی پی در پی تکرار شوی وی) سره نژدی په عقیده کی مړ شو ، په ژوند کی هغه اونکړی شو چی دغه وعدی تر لاسه کړی ،څو د لری نه هغه دغه وعدی لیدلی او هغوی ته ې د هغی تر غیب ورکړی شو ، او هغوی قبول کړو ، او دا ې اومنله چی هغوی بیگانه دی او په ځمکه سفر کوی" (عبرانی ژبه. ۱۱:۱۳). څلو ر مرحلی په نظر کی اوساتی:-

ـ د دی مطالعی د لاری مونږ د وعدو په حقله معلومات لاس ته راوړو.

ـ که د ابراهیم علیه ا سلام د یقینی کولو دپاره دی وخت احستی وو ، ځمونږ د یقینی کولو دپاره به د څومره وخت ضروری وی.

- *هغوی قبول کړی ، د عیسی علیه اسلام په انداذ کی د ژوند تیرولو په توګه د لامبولو دلاری* (د ګلیت او سیدونکی. ۳:۲۷ - ۲۹)

- د ټولی نړی وړاندی د خپل ژوند د تیرولود انداذ دلاری دا اعتراف کول پکار دی چی دا دنیا ځمونږ ه حقیقی کور نه دی ، مونږه په ځمکه یاندی د هغه ابدی ژوند په امید کی اوسیګو کوم چی به په مستقبل کی راځی.

که مونږه ددی شیانو تعریف کول غواړو نو ددغی لپاره د ابراهیم علیه ا سلام مثال دیو عظیم قهر مان مثال دی. کله چی د ضعیف ابر اهیم ښځه مړه شوه، نو په هغه وخت حضرت ابراهیم په دی پوهه شو چی وعدی به په مستقبل کی سر ته رسیګی ؛ هغه ددی حقیقت سره مخامخ شو، چی د کومی ځمکی د هغه سره وعده شوی وه په هغه ځمکه کی *باید چی د ښځی د ښخولو لپاره په پیسو ځمکه واخلی*(اعمال ۷:۱٦). *ریښتینی خدی" هغه ته هیڅ قسمه وراثت نه وو ورکړی* ،هیڅ هم نه ،دومره هم نه چی هغه په خپله پښه کیخودی وی : خو بیا هم هغه دده سره وعده کړی وه چی دا به هغه له په قبضه کی ورکوی" (اعمال ۷:۵). که د ابراهیم علیه اسلام تخم اوس هم په هغه ځمکه ګانړه کوله یا ي دارای اخیستله د کومی ځمکی چی هغوی ته دذاتی ابدی میراث په توګه وعده ور کړی شوی وه نو دا به هغوی ته نامناسبه ښکاره شوی وه.

خو خدی خپلی وعدی سر ته رسوی. داسی ورځ به راشی چی ابراهیم علیه اسلام او هر هغه چا ته چی وعدی شوی دی هغوی له به د هغی جایزه ور کړی شی. عبرانی ژبه. ۱۱:۱۳،۳۹،۴۰ *دا نقطی په ګوته کوی:*

"هغه څوک چی په عقیده کی مړ ه شوی دی ، هغوی خپلی وعدی لاس ته نه دی راوړی ؛ خدی مونږ له د راکولو لپاره ښه شیان لری کوم چی بی ځمونږه نه شی کاملیدلی".

هغلته به ټولو ریښتینی معتقیدینو له په سم وخت په یوه نقطه جایزی ور کړی شی ، یعنی په اخیرنی ورځ د فتوی ورکولو په ځای کی (۲ تیمو تاوس .۴:۱،۸؛ متی . ۲۵:۳۱ - ۳۴؛ ۱ پطرس ۵:۴). ددی مطلب دا دی چی دغه هر څه به د فتوی ورکولو لپاره وجود لری ، ابراهیم علیه اسلام او هر هغه څو ک چی ددی وعدو څخه خبر دی هغوی به حتما د فتوی ورکولو څخه وړاندی بیا راژوندی کولی شی. که هغوی دغه وعدی لاس ته نه دی راوړی ، او فقط هغه وخت ي کولی شی چی لاس ته ي راوړی کله چی به د عیسی علیه اسلام د بیرته راتګ په حقله فتوی ورکولی کیږی او هغه به بیا راژوندی کیږی ، ددی منلو نه علاوه بل متبا دل نیشته چی د ابراهیم علیه ا سلام خوښی په اوسنی وخت کی په هوش کی نه دی ، او د عیسی علیه اسلام راتللو ته انتظار اوباسی؛په دی وخت کی د ټولی اروپا په کلیسا ګانو کی رنګ کړی شوی د شیشی موزایکه ددی خبری نمایندګی کوی لکه چی ابراهیم علیه اسلام په جنت کی دی، او د هغه جائزی ازمونه کوی د کومی چی د هغه سره وعده شوی وه .په سلګونو کلونو کی زرګونو خلقو د شیشو دغه موزایک اولیدل اوددی سره په مذهبی توګه دغه نظریه قبلوی. ایاتاسو د انجیل په اساس داسی جرات کولی شی چی د انجیل د عمومی منلی شوی کرخی نه بهرته اوځی؟

## تخم

لکه څنګه چی په مطالعه ۳:۲ کی تو ضیح ورکړی شوی ده، چی د تخم په حقله ورکړی شوی وعده په حضرت عیسی علیه ا سلام پوری مربوطه ده ،او دویمه په هغه چا پوری مربوطه ده څوک چی په "حضرت عیسی علیه اسلام " عقیده لری او دا ډول هغوی هم د ابراهیم علیه ا سلام تخم ګڼړلی کیږی:-

۱)" زه به ستاسو څخه یو لوی ملت جوړ کړم ، او زه به تاته برکت درکړم ... او د ځمکې په سر باندی به ټولو یقین لرونکو فامیلونو ته برکت ورکړم" (پیدایش . ۱۲:۲،۳).
۲)" زه به ستا تخم د ځمکې خاک جوړ کړم : هم دا رنګه که انسان اوکړی شو چې د ځمکې خاک اوشمیری ، هم دومره به ستاد اولاد تعداد وی ... کوم ځای چې کولی شې چه خپل تخم اوکری ، هغه ځمکه به زه تاله او ستا اولاد له د ټول عمر دپاره درکړم "(پیدایش . ۱۳:۱۵،۱۶).
۳)" اوس په جنت نظر واچوه ، او ستوری اوشماره، که تا د هغې شمیره اوکړی شوه، دو مره تعداد به ستا د اولاد وی ... ستا تخم له مادا ځمکه درکړی ده. "(پیدایش . ۱۵:۵،۱۸).
۴)" ستاڅخه وروستو به... زه ستا تخم له... د کنان ځمکه ورکړم دا بده پوری او زه به د هغوی خدی یم"( پیدایش . ۱۷:۸) .
۵)" زه به ستا تخم له د جنت د ستورواو د سمندر د غاړی د شګو په شان ضرب ورکړم ، او ستا تخم به د د شمن دروازی په خپله قبضه کی او لری ؛ او ستا ملت به د ټولو ملتونو څخه خوشبخته وی " (پیدایش . ۲۲:۱۷، ۱۸).

یو ځل بیا د تخم په حقله د ابراهیم علیه ا سلام پوهه په مترقی توګه تمدید کړی شوه:-

۱) په اغاز کی هغه ته فقط دومره ویلی شو ی وو چې په څه جوړ به د هغه د اولاد تعداد د عادی تعداد څخه ذیات وی، او د هغه په تخم به ټوله ځمکه با برکته شی .
۲) هغه ته بیا وروستو اویلی شو چې د هغه به ډیر ذیات اولاد وی . دغه خلق به ابدی ژوند تیره وی او په هغه ځمکه کومی ته چې هغه سفر کړیوو یعنی د کنان په ځمکه به د هغه سره یو ځای ژوند کوی.
۳) هغه ته اویلی شو چې دهغه او لاد به دومره ډیر وی څومره چې په ا سمان کی ستوری دی . کیدی شی چې هغه ته دا د اشاری په توګه ویلی شوی وی چې ته به ډیر روحانی اولاد لری ( ستوری په اسمان کی )او دغه شان عادی اولاد به هم لری (" لکه د ځمکې د خاک په شان ").
۴) په سابقه وعدو کی په اضافی ضمانت باندی زور ور کړی شوی دی او د هغه خلقو په حقله ذکر شوی دی کوم چې به د هغه د اولاد برخه وی او د خدی سره به ذاتی تعلق لری.
۵) دده اولاد به په دشمن بری لاس ته راوړی .
دا خیره په ذهن کی او ساتی چې د هغه د اولاد راوړلی شوی برکتونه به د ټولی ځمکې خلقوته حاضر وی. په انجیل کی د برکتونو نظریه د ګناه معاف کولو سره تړلی شوی ده. هر څه چې وی دا هغه عظیم ترین برکت دی د کوم چې به د خدی سره محبت لرو نکو کله هواهش کړی وو. په دا ډول مونږ دا قسمه شیا ن لولو "برکت هغه څوک دی د چا ګناه چې معاف کړی شوی ده" (روحانی سرود. ۳۲:۱)؛ " د برکتونو پیاله " (۱ د کورینت او سیلونکی . ۱۰:۱۶)، دشرابو د هغې پیالې ذکر کوی ،کومه چې د عیسی علیه ا سلا م د وینی نمایندګي کوی ،او د کومی په خاطر چې معاف کول امکان لری.

د ابراهیم علیه ا سلام په او لاد کی، که چا کړی دی چی دی نړی ته ی د گنا ه معاف کول راوړی دی نو هغه فقط یو عیسی علیه اسلام د ی او په نوی وصیت نامه کی د ابراهیم علیه ا سلام په وعدو باندی تبصره دغی ته وزن داره مرسته ورکوی:

"هغه ( خدی ) انکار او کړو، 'او تخمونو ته ' د ډیرو ( یعنی د جمع په حالت کی)، خو یو ته ( د واحد په حالتکی)، 'او چی ستا تخم دی ' کوم چی عیسی علیه سلام دی "
(د گلیت اوسیدونکی . ۳:۱۶ ).

"... هغه وعدی کومی چی خدی څمونږ د پلاراتو سره کړی وی ، په هغه وعدو کی ابراهیم علیه ا سلام ته ویلی کیږی ، چی ستا تخم به ټولو رشتو ته په څمکه برکت راوړی . ستا لپاره خدی خپل زوی را لویکړو ، او تا له ی درولیگلو چی تابرکتی کړی او په تاسو کی هر کس د نړی د شرارت څخه په حفاظت کی اوساتی " (اعمال ۳:۲۵،۲۶ ).

په پیدا یش ۲۸:۲۲ کی د پطرس په نقل او ترجمی باندی نظر واچوی:-

تخم = عیسی علیه اسلام
برکت = د گناه معاف کول

دا وعده چی عیسی علیه ا سلام ، یعنی تخم ،به په خپل دښمن باندی بری لاس ته راوړی ، دغه بری کوم چی عیسی علیه اسلام د خلقو په لوی د ښمن گناه او کوم چی د عیسی علیه ا سلام د ښمن هم وو لاس ته راوړو اوس نوره هم په سمه توگه هغه خالیگاه ډکه وی کله چی دغه بری په گناه باندی د فتحی په حوالی سره لوستلی کیگی.

## د تخم سره یو ځای کیدل

اوس به دا واضحه وی چی د عیسای مذهب په انجیل باندی ابراهیم علیه ا سلام پوهه وو. خو دا اساسی وعدی ابراهیم علیه اسلام او د هغه تخم عیسی علیه ا سلام سره شوی وی. څه فکر کوی د نورو خلقو په حقله ؟ حتی د ابراهیم علیه اسلام جسمانی وارثان هم نه شی کولی چی څوک ددغی تخم خود بخوده بر څه لرونکی جوړ کړی.( یحیی۸:۳۹؛رومیان . ۹:۷). په څه ډول مونږه هم د عیسی علیه اسلام نزدی برخه جوړیگو، چی مونږ ته هم په هغه څه کی برخه راکړی د کوم څه چی د تخم سره وعده شوی ده. د (باپتیزم) یعنی د عیسی علیه ا سلام په انداذ کی د ژوند تیرولو په اساس د لامبولو د لاری لاس ته راتلی شی(رومیان. ۶:۳ - ۵)؛ مونږه اکثر د هغه په انداز کی د ژوند تیرولو په بنیاد د لامبلو په حقله لولو(اعمال ۲:۳۸؛۸:۱۶ ؛ ۱۰:۴۸؛ ۱۹ :۵). د گلیت اوسیدونکی. ۳:۲۷ - ۲۹ اونکړی شو چی دغه نقطه نوره واضحه کړی:-

"ډیر ستاسو څخه (یعنی فقط یو څو)چا چی د عیسی علیه ا سلام په انداذ کی د ژوند تیرولو په اساس اولامبل هغه ځان عیسی علیه اسلام ته اوسپارلو . ددوی په مینځ کی یهود او یونانی (بت پرست) اذاد او بند، ښځه او نر نیشته دی:تاسو ټول یو ی د عیسی علیه ا سلام په انداز کی د ژوند تیروله په اساس لامبولی شوی ی . او که ته د عیسی علیه اسلام په انداز کی د ژوند تیرولو په اساس لامبولی شوی ی نو په هغه حالت کی ته د ابرهیم علیه ا سلام تخم ی اود وعدی مطابق وارث ی.

ـ د عیسی علیه ا سلام د لاری د معاف کونی د "برکاتو" دلاس ته راوړنی په نتیجه کی په څمکه دابدی ژوند تیرونه دغه د عیسی علیه اسلام په انداز کی د ژوند تیرولو په اساس لامبل دی، کوم چی تخم دی، دتخم سره چی کومه وعده شوی وه په هغی کی برخه ا خیستل؛ او دغه شان رومیان ۳:۷ ا مونږ ته د عیسی علیه ا سلام شریکیدونکی وارثان وای".

یاد اوساتی ، چی د څمکی د هری برخی په خلقو باندی به د تخم د لاری برکتونه راواریگی ؛او تخم به د سمندر د شگو او د اسمان د ستورو په شان په ټوله نړی کی د خلقو یو ټولگی تشکیل کړی . ددی مطلب دادی چی دا به ددوی دړومبنی برکاتو لاس ته راوړنی وجه وه چی هغوی په تخم کی بدلیدی شی. دا ډول د مالک وړاندی د تخم مثال د یو نسل دی " ( یعنی ډیر خلق؛ روحانی سرود . ۲۲:۳۰). مونږ کولی شو چی د هغه وعدو کومی چی ابراهیم علیه اسلام سره شوی وی د هغی دوه غاړی مختصر کړو:-

## (۱) څمکه

ابراهیم علیه ا سلام او دهغه تخم عیسی علیه ا سلام ، او هغه څوک چا چی د عیسی علیه په انداز کی د ژوند تیرولو په اساس لامبلی دی هغوی ته به په میراث کی دکنان څمکه ورکولی کیږی او بیا به ورته په ټوله څمکه کی وسعت ورکولی کیږی ، او هغلته به ابدی ژوند کوی. په دی دنیا کی به هغوی ته دا نه ورکولی کیږی ، خو دا به په اخرنی ورځ هغوی ته ورکولی کیږی ، کله چی عیسی علیه اسلام بیرته راشی.

## (۲) تخم

دا په ابتدا کی عیسی علیه ا سلام وو. د هغه په کمک سره به د انسان په د ښمن گناه باندی قابولاس ته راوړلی کیږی، ، په دی وجه د معاف کونی د برکاتو څخه به په ټوله نړی کی استفاده کیدی شی.

د عیسی علیه ا سلام په انداز کی د ژوند تیرولو په اساس دلامبونی په نتیجه کی مونږ د تخم برخه گرځو. دغه یو ډول غاړی د نوی وصیت نامی په تبلیغاتو کی مخی ته راځی ، او دا دحیرانیا خبره نه ده ، چی دا څو ځله ثبت شوی دی ، کله چی هم داسی څوک ووری چی هغوی ته درس ورکولی کیږی ، هغوی بیا باپتیسټ جوړ شوی دی. دا لارده، او لاره وه د کومی په واسطه چی مونږ ته دا وعدی رارسولی شوی دی. مونږ اوس په دی پوهیدی شو چی اولی ضعیف سړی دمرگ سره مخامخ شو، پال د هغه امیدونه د اسرائیل امیدونه بیان کړیدی.( اعمال ۲۸:۲۰): د عیسای ریښتینی امید د یهودو اصل امید دی. عیسی علیه اسلام تبصره کړی وه چی "نجات وهندگی د یهودیانوده" (یحیی۴:۲۲) باید چی د دیهودیانو د روحانی جوړیدنی ضرورت باندی زور ورکړی شی، او دا ډول مونږ کولی شو چی د هغه وعدی نه استفاده اوکړو کومه چی د عیسی علیه ا سلام په ذریعه د یهودو پلارسره شوی وه.

**مونږ لوستی دی چی ابتدایی عیسایانو به ددی شیانو تبلیغ کولو:-**

۱ ) هغه شیان د کومو شیانو تعلق چی د خدی د سلطنت سره وو

او

۲) د عیسی علیه ا سلام نوم" (اعمال ۸:۱۲ ) .

دغلته قطعاً دوه شیان د لږ غونتي اختلافي عنوانونو سره توضیح کړی شوی دی:-

۱) د محمکي په حقله وعده ۲) د تخم په حقله وعده

د لوستلو په وخت کی دا خبره یاد اوساتي چي کله تاسو د سلطنت او عیسی علیه اسلام په حقله د جمعي په حالت کی د "شیانو" د حوالي سره مخامخیګی ددی مطلب دادی چي عیسی علیه "وعظ کوی"( اعمال ۸:۵ مقایسه. تفسیر . ۱۲ ) ددی د زیاد تره استعمال مطلب دا دی چي "عیسی علیه اسلام ستاسو سره مینه کوی! فقط دومره اووای چي تاسو دا عقیدد لری چي هغه ستاسو د پاره مړ شوی وو او ته په حفاظت کی یې!" خو په دی عبارت کی "عیسی علیه اسلام د واضح لنډیز د لاری د خپل ځان او د سلطنت په حقله ډیر شیان په خپل وعظ کی واضح کړیدی. هغه بنه خبرونه د کومی وعظ چي ابراهیم علیه ا سلام ته شوی وو هغه د انجیل په ابتدای وعظ کی مهم کردار دی. په کورینتهه کی پال ۳ میاشتی هغه سوالونو تکرار کړی وو او د هغوی تعاقب یې کړی وو د کومو تعلق چي د خدی د سلطنت سره وو" اعمال ۸:۱۹)؛ په ټول ایفیسس کی ګرځیدلو" او د خدی د سلطنت تبلیغ یې کوله"( اعمال ۲۵:۲۰)، او په روم کی یې هم د مرګ څخه مخکی دغه ستدره وه، "هغه د خدی د سلطنت په حقله توضیح ورکوله او د هغی په حقله یې ثبوتو نه ورکول،او د هغه سوالونو تعاقب یې کولو د کومو تعلق چي د عیسی علیه اسلام سره وو ، یعنی داکوشیش یې وو چي د قانون او د پیغمبرانو د اوریدلوپه ځای عیسی علیه اسلام واوریدلی شی" ( اعمال۲۸:۲۳،۳۱). په هغه وخت کی دومره ډیری خبری او نمایش وو ، چي د خدی د سلطنت او د عیسی علیه اسلام په حقله فقط خبری کول کافي نه وو، بلکه په عیسی علیه اسلام عقیده راوړنه اساسی خبره وو. ابراهیم علیه ا سلام سره چي کومي وعدی شوی وی ، د هغه وعدو په مقابل کی نازل شوی الهام زیات تفصیلي وو، او دغه د ریښتیني انجیل اساس دی. مونږه اولیدل چي د عیسی علیه اسلام په انداذ کی د ژوند تیرولو په اساس لامبل مونږه د تخم برخه جوړوی او په وعدو کی راته وراثت راکوی (د ګلیت اوسیدونکی. ۳:۲۷ - ۲۹)، خوفقط په دغه انداذ کی د لامبلو په اساس نه شی کولی چي د نجات وعده لاس ته راوړی. که مونږ غواړو چي په هغه وعدو کی برخور شو د کومو چي وعده شوی وی ، نو مونږ له پکار دی چي د تخم، د عیسی علیه په انداز کی ژوند تیر کړو. په دی وجه په دغه انداز کی لامبل فقط ابتدا ده ؛ دا په یوه داسی منډه کی شاملیدل دی چي یو ځل یې اغاز اوکړو شو نو بیا باید چي برقرار یې اوساتلی شی. دا خبره په دهن کی اوساتی، چي فقط په تخنیکی انداز کی د ابراهیم علیه ا سلام د تخم سره د شاملیدلو دا مطلب نه دی چي مونږه خدی قبول کړو . په څه ډول خو د اسرایل اوسیدونکی د ابراهیم علیه اسلام تخم دی ،خو ددی مطلب دا نه دی چي هغوی به بی له باپتیزمه او د دی تاید کولو چي هغوی به د عیسی علیه ا سلام په انداز کی ژوند تیره وی او د ابراهیم علیه اسلم مثال به راخپله وی هغوی له به پناه ورکړی شی( رومیان. ۹:۷،۸؛ ۴:۱۳،۱۴). عیسی علیه اسلام یهودو ته داسی ویلی وو، "ماته معلومه ده چي تاسو د ابراهیم علیه ا سلام او لاد یې؛ خو تاسو غواړی چي ما مړ کړی ... که تاسو د ابراهیم علیه ا سلام اولاد یې تاسو له پکار دی چي د هغه کارونه اوکړی"

(یحیی۸:۳۷،۳۹)،کوم چي په خدی او په عیسی علیه ا سلام یعنی په وعده کړی شوی تخم باندی دعقیدی لرنی ژوند تیرولو( یحیی ۶:۲۹).تخم باید چي د خپلو مشرانو مشخصات اولری. که تاسو د ابراهیم علیه ا سلام ریښتینی تخم یې نو په هغه حالت کی به تاسو نه فقط باپتیسټ یې بلکه تاسو له به پکار وی چي د خدی په وعدو باندی حقیقی عقیده اولری، څنګه چي په هغه لرله. په دی وجه هغه څوک چي عقیده لری ابراهیم د هغوی پلار دی ... څوک چي دهغه عقیدی په نقشه قدم ځی کومه عقیده چي ابراهیم لرله

په هغه حالت کی ې هغه عقیدوی پلار وی( رومیان . ۴:۱۲،۱۲ ). تاسو په دی پوهیگی ( یعنی په حقیقت کی په ایمان اولری! ) هغه څوک چی عقیده لری ، هغوی د ابراهیم علیه ا سلام د بچو په ډول دی" ( د گلیت اوسیدونکی . ۳:۷).

حقیقی عقیده د څه قسمه عمل په نتیجه کی ځان ښکاره کوی، که څوک عمل نه کوی دغه خدی ته منظوره نه ده(جیمز ۲:۱۷ ). مونږ په دی وعدو د خپلو عقیدو اظهار داسی کوو ، چی د باپتیسټ جوړیدلو څخه وراندی مونږه ددی وعدو مطالعه کړی وه ، او دا ډول هغه په مونږ باندی په ذاتی توگه عملی کیږی (دگلیت اوسیدونکی. ۳:۲۷ - ۱۹ ). دغه ډول تاسو په حقیقت کی په خدی باندی عقیده لری؟ باید چی ټول عمر په باقاعدگی سره مونږ د ځان څخه دا پوښتنه او کړو.

## زړی او نوی وعدی

دا باید چی د اوس څخه واضحه شی چی ابراهیم علیه اسلام ته ور کړی شوی وعدی د عیسی علیه اسلام د انجیل خلاصه وه. د هغه نورو غټو وعدو مجموعه کومی چی خدی د یهودیانو سره کړی وی هغه د موسی علیه ا سلام د قانون په حوالی سره شوی وی. په دی کی ویلی کیږی که چری یهودیان ددی قانون تابعدار وی ، نو هغوی به په جسمانی توگه په دی ژوند کی بر کات لاس ته راوړی (د تورات دویم کتاب ۲۸ ). ددغی مجموعی په وعدو کی د ابدی ژوند په حقله کومه مستقیمه وعده یا "وعدی " نه وی. دا ډول مونږ لیدلی شو چی دوه "وعدی" شوی وی:-

۱ ) د عیسی علیه اسلام د بیرته راتگ په موقعه د خدی په سلطنت کی د ابراهیم علیه اسلام او د هغه د تخم د ښتنی او د هغوی سره د ابدی ژوند وعده کونه. دا وعده په عدن کی داود علیه اسلام سره هم شوی وه.

۲ ) او د موسی علیه اسلام په وخت کی د یهودو سره دا وعده شوی وه که چری هغوی په هغه قانون باندی عمل او کړی کوم قانون چی موسی علیه اسلام ته ور کړی شوی دی نو په هغه حال کی به هغوی ته په دی ژوند کی امن او خوشحالی ور کړی شی.

خدی په خپل سلطنت کی ابراهیم علیه ا سلام ته د بختی او ابدی ژوند وعده ور کړی وه ، خو دا هغه وخت ممکنه وه چی عیسی علیه اسلام قربانی ور کړی وی. په دی وجه مونږه دا وایو چی په صلیب باندی د عیسی علیه اسلام مرگ د ابراهیم علیه اسلام سره د کړی شوو وعدو تاید دی ( د گلیت اوسیدونکی .۳:۱۷؛ رومیان . ۱۵:۸؛ دانیال ۹:۲۷؛ ۲ د کورینت اوسیدونکی . ۱:۲)، په دی وجه د هغه وینا د نوی وصیت نامی د وینا په نوم یادیږی" ( وعدی ، متی. ۲۸:۲۶ ). عیسی علیه ا سلام مونږ ته ویلی وو ، چی په باقاعدگی سره یوه پیالی شراب څکی ، د شرابو دغه څکل به تاسو ته ځما وینا دریادوی او دوینی د یاد سره به تاسو ته دغه ټول شیان د ریادیگی( او گوری ۱ د کورینت اوسیدونکی . ۱۱:۲۵ ) : " ځما په وینا کی دا پیالی نوی وصیت نامه ده (وعدی) "( لوقا . ۲۲:۲۰ ). که مونږ د عیسی علیه ا سلام په کارونو باندی نه پوهیگو نو په هغه حال کی د هغه په یاد کی د ډوډی ماتول بی مطلبه کار دی .د عیسی علیه اسلام قربانی د خدی په سلطنت کی د بختی او ابدی ژوند اساس کیخودو؛په دی وجه هغه ابراهیم علیه اسلام ته ور کړی شوی وعده یقینی کړه ؛عیسی علیه ا سلام د بهتر ه وصیت نامی یقین دانی وه"( عبرانی ژبه. ۷:۲۲ ). عبرانی ژبه ۱۰:۹ دا سی وای ، عیسی علیه اسلام ړومبنی وعده سر ته اورسوله او دا ډول هغه د یوی وعدی په ځای دوه وعدی سر ته ورسولی. ددی مطلب دادی چی کله عیسی علیه د هغه وعدی تاید او کړو کومه وعده چی ابراهیم علیه اسلام سره شوی وه ، هغه بله وعده هم سرته ورسوله کومه وعده چی د موسی علیه سره شوی وه. د شعروتو

نقل د وړاندی نه ددی خبری تاید کولو، چی د یوی وعدی سر ته رسونی سره عیسی علیه اسلام دویمه وعده هم سر ته رسوی (عبرانی ژبه.۸:۱۳).اګر چی ددی مطلب دا دی چه هغه وعدی کومی چی د عیسی علیه اسلام سره تقلق لری دغه وعدی وړاندی شوی وی ، خو هغوی د هغه د مرګه پوری په عمل کی نه وی راغلی، په دی وجه دغی وعدی نوی وعدی ویلی کیږی. هغه زړی وعدی کومی چی د موسی علیه ا سلام د لاری شوی وی د هغی مطلب دا وو ، چی په مستقبل کی د عیسی علیه اسلام کار په ګوته کړی او د عیسی علیه اسلام سره تعلق لرونکی وعدو په اهمیت باندی رڼا واچوی.( د ګلیت او سیدونکی. ۳:۱۹، ۲۱). بل طرف ته ، په عیسی علیه ا سلام باندی عقیده لرنه د موسی علیه اسلام د قانون ریښتیا والی ثابته وی(رومیان. ۳:۱۳). پال په ډیر مهارت سره ددی خلاصه وړاندی کوی : "قانون څمونږ د مکتب معلم وو او دغه معلم مونږ ه عیسی علیه ا سلام ته راوستو ، څمونږه تصدیق عقیده کولی شی"( د ګلیت او سیدونکی .۳:۲۴). په دغه وجه د موسی علیه اسلام دلاری راتلونکی قانون حفظ کړی شوی وو او نن هم د هغی مطالعه کونه فایده لری.

د اولنی لو ستی سره په دی شیانو پوهیدل اسان نه دی : مونږ ې په دی شکل خلاصه کوو:-

نوی وعدی هغه وعدی دی۔ کومی وعدی چی د ابراهیم علیه ا
سلام سره د عیسی علیه اسلام په حقله شوی وی
زړی وعدی هغه وعدی دی۔ کومی وعدی چی موسی علیه اسلام ته د قانون سره
پیوسته د اسرایل خلقو ته ورکړی شوی وی
د عیسی علیه اسلم د مرګ سره زړی وعدی د مینځه لاړی .
( د کلو س او سیدونکی . ۲:۱۴ - ۱۷).
نوی وعدی په حرکت کی راغلی.

په دی وجه د کلیسا لپاره د لسمی برخی مالیه ورکونه او په مذهبی ورځو باندی د رخصتو کونه او داسی نور شیان کوم چی د زړی وصیت نامی برخه وه د هغی ضرورت پاتی نه شو۔ ددی لپاره مطالعه ۵.۹. او ګوری. نوی وعده به دطبعی اسرایل سره کیږی کله چی هغوی اصلاح شی او عیسی علیه اسلام قبول کړی. ( ارمیای نبی . ۳۱:۳۱، ۳۲؛ رومیان. ۹:۲۶، ۲۷؛ ایزیکیل پیغمبر . ۱۶:۶۲؛ ۳۷:۲۶) اګر چی دا خبره یقینی ده، هر هغه یهودی که ځان ې اصلاح کړو او بپتیسټ شو ، سمدستی نوی وعدی ته داخلیدی شی( په کوم کی چی یهود / بت پرست فرق واله نیشته۔د ګلیت او سیدونکی .۳:۲۷ - ۲۹).

ددی شیانو ریښتینی قدر دانی مونږ په دی خبره مجبوره کوی چی د خدی په وعدو باندی یقین او کړو .مشکوک خلق د بی انصافی په اساس د عیسایت په ابتدای واعظانو دا تور پوری کوی چی هغوی مثبت پیغام نه ورکولو . پال ددی جواب داسی ورکوی ، هغه وای چی تر کومی پوری خدی ددغی وعدو سر ته رسونه د عیسی علیه اسلام د مرګ سره تړلی وه ، په دی وجه د کوم امید چی هغوی ذکر کړی وو دغه څه توقی یا تقالی نه وی ، بلکه یو یقینی پیشنهاد وو : "لکه څنګه چی خدی ریښتینی دی ، تاسو ته څمونږه د (وعظ کونی) لفظ د مثبت یا منف په شکل کی نه دی، بلکه دغه وعظ مثبت وجود لری. د هغه په سر چی څو مره وعدی شوی دی د غه ټولی وعدی مثبت او په امین کی جواب ورکوی" (۲ د کورینت او سیدونکی . ۱:۱۷ - ۲۰).

یقیناً چی دا دغه ډول برخورد د مینځه وړی ، 'او، زه منم چی په دی ټول هر څه کی به څه خو ریښتیا وی؟

## دداود علیه اسلام سره وعده ۵.۳

داود علیه اسلام ،لکه د ابراهیم علیه اسلام او هغه نورو په ټول دچا سره چی د خدی وعدی شوی وی، اسان ژوند نه لرلو. هغه د عیسی علیه اسلام نه ۱۰۰۰ کاله مخکی د اسرایل په یوه لویا کورنی کی د ټولو نه د کشر زوی په حیث رالوی شو، ددی مطلب دا وو چی هغه د ګډو (ګوسفند)نګرانی کوله او د خپلو برجسته مشرانو رونړو دپاره ی د پیغام رسانی کار کولو( ۱ سمویل .۱۵ - ۱۷). په دی دوران کی هغه په خدی باندی د عقیدی هغه معیار ته رسیدلی وو کوم معیار ته چی ددغه وخته پوری ډیر کم خلق رسیدلی وو.

داسی ورځ راورسیده چی اسرایل د خپلوتجاوز کونکی ګاونډیانو فیلیستاین له طرفه د یو نهای جنګ د خطر سره مخامخشو؛ هغوی د اسرایل ځخه مطالبه او کړه چی د هغوی یو *نفر به د فیلیستهاین د قوی هیکل قهرمان ګولیاتهٔ سره جنګیګی او شرط به ی دا وی چی چا او ګټله ، بیلونکی به د هغه حکمرانی قبلوی.* دخدی په کمک سره داود علیه اسلام د فیلیستاین قهرمان ګولیاتهٔ له د زنجیر په استعمال سره شکست ورکړو. ، او دغی ګټی هغه له د خپل بادشاه ځخه هم زیات مقبولیت ورکړو(ساول). "حسد د قبر په شان ظالم دی " ( سندره. ۶:۸)، ددغه الفاظو ریښتین والی په دی کی دی چی په راتلو نکی ۲۰ کاله کی داود علیه اسلام د سوول له طرفه د اذیت سره مخامخ وو او د اسرأیل په بیابان کی د مګی په شان پټیدلو.

په عاقبت کی داود بادشاه شو او چی خدی د هغه د محبت تعریف او کړی کوم چی هغه د بیابان په ژوند کی د خدی له طرفه لیدلی وو هغه د خدی د پرستشګاه د جوړولو پریکړه او کړه. د خدی له طرفه جواب دا وو ، چی د داود علیه اسلام زوی سلیمان علیه اسلام به پرستشګاه جوړه وی او خدی غواړی چی داود علیه اسلام له کور جوړ کړی ( ۲ سمویل .۷:۴ - ۱۳). بیا په دی پسی هغه وعده تکراریګی کومه چی د ابراهیم علیه اسلام سره شوی وه ، او په دی کی نور اضافی تفصیل ورکولی کیږی:-

" او کله چی ستا ورځی پوره شی ، او ته به د خپل پلار سره ویده وی، زه به ستا نه پس ستا اولاد له ځای ورکړم ، کوم چی به ستا د داخل نه جوړ وی ، او زه به هغه ته سلطنت ورکړم . هغه به ځما په نوم کور جوړه وی، او زه به د همیش لپاره د هغه د سلطنت تخت جوړ کړم. زه به د هغه پلار یم او هغه به ځما زوی وی . که هغه کومه بی انصافی او کړی زه به ورته په انسانی چوبو نو باندی سزا ورکړم ، او په هغه تسمه به ورته سزا ورکړم په کومه چی انسان خپلو بچو ته سزا ورکوی: خو ځما د شفقت نه به هغه نه محرومه کیږی، لکه ځنګه چی ساول محرومه شو ،ځوک چی ستا ځخه مخکی ما لری کړو . او ستا کور او ستا سلطنت به د ټول عمر لپاره ستا ځخه مخکی تشکیل کړی شی: ستا تخت به د ټول عمر لپاره تشکیل کړی شی" (تفسیر۱۲ - ۱۶ ).

ځمونږ د مخکینی مطالعی ځخه مونږ دا توقعو کوله چی "تخم" عیسی علیه اسلام دی. دا تشریح چی هغه دخدی د زوی دی د دغی تصدیق (۲سمویل۷:۱۴ ) کړی دی ، دغه ټول حوالی د بایبل په نورو برخو کی تاید کوی:-
"عیسی علیه اسلام اویل، زه د هغه اولاد یم"، (الهام. ۲۲:۱۶).

" (عیسی علیه اسلام)، د داود علیه اسلام د تخم څخه د وجود مطا بق جوړ دی " (رومیان. ۱:۳).

"ددی نفر ( داود علیه اسلام) د تخم څخه ، خدی د خپلی وعدی مطابق د اسرایل نجات وهنده "عیسی علیه اسلام" پیدا کړو(اعمال ۱۳:۲۳).
ـفرشتی پاکدامنی مریم ته اوویل د هغی د زوی، عیسی په حقله: "مالک خدی به هغه ته د هغه د پلار (اجداد)داود علیه اسلام تخت ورکوی ...او دهغه سلطنت به خاتمه نه لری ". لوقا ۱:۳۲،۳۳). دا هغه وعده سر ته رسولی کیږی کومه وعده چی عیسی علیه اسلام سره په ۲ سمویل. ۷:۳، کی د داود علیه ا سلام د تخم په حقله شوی وه .
دا چی د تخم مطلب عیسی علیه اسلام دی ، په دغه حقله ځینی معلومات د پاملرنی وړ دی:-

**۱) تخم**

هغه تخم چی ستا د داخل څخه به راوځی ...د هغه پلار به زه یم ...او هغه به ځما زوی وی،" "... ستا د وجود د میوی څخه به زه تخت جوړ کړم "(۲ سمیول .۷:۱۲،۱۳؛ روحانی سرود ۱۳۲:۱۰،۱۱ ).عیسی علیه اسلام یعنی تخم به د داوعلیه اسلام لفظی او بدنی وارث وی او هنوز د هغه پلار به خدی وی. داسی ممکنه وه فقط د پاکدامنی د پیدایش په نتیجه کی لکه څنګه چی په نوی وصیت نامه کی ویلی شوی دی؛ د عیسی علیه اسلام مور مریم د داود علیه اسلام اولاد وو( لوقا ۱:۳۲)، خو د هغه انسانی پلار نه وو. خدی د پاک روح د لاری په معجزای انداز کی د مریم په بچه دانی باندی کار کړی وو چی دا ډول هغه ددی قابله شی چی د غه ماشوم،عیسی علیه اسلام متشکل کړی ، او فرشتو په دی باندی دا ډول تبصره کړی ده، " هغه پاک شی کوم چی به ستا نه پیدا کیږی هغه ته به د خدی زوی ویلی کیږی"(لوقا ۱:۳۵). د "پاکدامنی پیدایش" فقط هغه واحده لار وه د کومی په ذریعه چی داود علیه اسلام ته ورکړی شوی وعده په سمه طریقه سر ته رسیدلی شوه.

**۲) کور**

" هغه باید چی ځما په نوم باندی کور جوړ کړی" ( ۲ سمیویل .۷:۱۳) دا داسی په ګوته کوی چی عیسی علیه اسلام به د خدی لپاره په دواړو لفظی او روحانی معنو سره پرستشګاه جوړه وی. ایزیکل ۴۰-۴۸ تشریح ورکوی چی څنګه د ۱۰۰۰ کالو سر ته رسیدو ( د خدی د سلطنت قایمیدلو نه زر کله وروستو عیسی علیه م سلام به ځمکی ته بیرته راځی ) سره به په یروشیلم کی پستشګاه جوړه وی

د"خدی کور" په کوم ځای کی چی خدی هواهش لری چی ژوند تیر کړی ، او اشعیا ی بنی اسرایل . ۲:۱،۲مونږ ته وای چی هغه به د هغه انسانانو په زړونو کی اوسیګی څوک چی په خاکساری سره د هغه لفظ منی. په دی وجه عیسی علیه اسلام د خدی لپاره روحانی پرستشګاه جوړه وی، چی دا ډول په داخل کی اقامت او کړی ، دغه پرستشګاه به ربښتینی معتقدینو جوړه کړی وی . ددغه پرستشګاه د بنیاد کاڼړی به عیسی علیه اسلام وی ( ۱ پطرس ۲:۴ - ۸)او نور عیسایان به د پرستشګاه کاڼړی وی ( ۱ پطرس ۲:۵) کوم چی اوس دغه ځای ډکه وی.

**۳) تخت**

زه به د هغه( عیسی علیه اسلام ) سلطنت د ابد لپاره تشکیل کړم ... ستا (داود علیه اسلام) کور او ستا سلطنت ... ستا تخت به د ابد لپاره تشکیل کړم ( ۲ سمیویل ۷:۱۳؛۱۶ مقایسه . اشعیای بنی اسرایل . ۹:۲،۷)". په دی وجه د عیسی علیه اسلام سلطنت به د داود علیه اسلام د سلطنت په اساس په یروشیلم کی مینځ ته راځی؛ ددی مطلب دا دی چی د خدی راتلونکی سلطنت به بیا د اسرایل د سلطنت تشکیلول وی. په دی باندی د اضافی مطالعی لپاره او ۵ . ۳ گوری. ددی وعدی سر ته رسولو لپاره به عیسی علیه اسلام د داود علیه اسلام په "تخت" یا د دولت چلولو په ځای کینی. دا به په لفظی حوالی سره په یروشلیم کی وی. دا یو بل ثبوت دی ددی خبری چی ددغه وعدو سر ته رسولو لپاره به دغه بادشاهی دلته په ځمکه وی.

**۴) سلطنت**

" ستا کور او ستا بادشاهی به ستا ته وړاندی د ابد لپاره تشکیله کړی شی "(۲سمیویل ۷:۱۶ ) دا پیشنهاد کوی چی داود علیه اسلام به د عیسی علیه اسلام د دایمی بادشاهی د تشکیلولو گواه وی.په دی وجه دا یوه غیر مستقیمه وعده وه ، چی داود علیه اسلام به د عیسی علیه اسلام د بیر ته راتگ سره بیا راژوندی کیگی چی دا ټول هغه او کړی شی دغه سلطنت په خپلو سترگو اوینی ، دغه سلطنت به په ټوله دنیا کی تشکیل شوی وی ، او عیسی علیه اسلام به ې د یروشلیم نه قابو کوی.

دا وعدی کومی چی د داود علیه اسلام سره شوی وی د پوهیدنی د پاره ډیری اساسی دی. داود علیه اسلام په خوشحالی سره ددی شیانو ذکر کوو" د یوی ابدی وعدی په توگه ... دغه ټول ځما نجات دی او دغه ټول ځما هواهش دی"(۲سمیویل . ۲۳:۵). دا شیان ځمونږ د نجات سره هم تعلق لری؛دا هغی په خو شحالی کی به شاملیدل ځمونږه هواهش وی . یو ځل بیا د دی نظریی اهمیت په گوته کړی شوی دی . دا ډیره د فکر خبره ده چی د مسیحیت عالمانو داسی نظریه راخپله کړی ده کومه چی په ښکاره توگه ددغی جالبو ربښتیاو سره متضاد دی:-

- که عیسی علیه اسلام د مخکی نه وجود لرلو " یعنی د انسان په توگه د پیدایش ځخه مخکی وجود لرلو ، نو په هغه حالت کی دغه وعدی چی عیسی علیه اسلام د داود علیه ا سلام" تخم" یا د هغه د نسل نه دی بی منطقه ښکاری.
- که د خدی سلطنت په جنت کی وجود لرلو، نو په هغه حال کی عیسی علیه اسلام نه شو کولی چی په اسرایل کی ې د داود علیه اسلام سلطنت تشکیل کړی ، او نه هغه د غه سلطنت د داود علیه ا سلام د تخت ځخه یا د هغه د حکمرانی د ځای ځخه قابو کولی شو.

دا ټول شیان په لفظی توگه په ځمکه باندی وو، او په دی وجه دهغوی تشکیلیدل به هم په ځمکه په هغه ځای کی وی.

**ایا دغه وعدی د سلیمان په دور کی سر ته رسیدلی وی؟**

دد اود علیه اسلام واقعی زوی ، سلیمان علیه اسلام ځینی هغه وعدی سر ته اورسولی کومی چی د هغه سره شوی وی. هغه په واقعی توگه د خدی د عبادت لپاره عبادت گاه جوړه کړی وه ( ۱ پادشاهان۵ - ۸)، او هغه یو ډیر کامیاب سلطنت قایم کړی وو. د ټولی نړی ملیتونه د سلیمان د عزت لپاره خپل استاذی استول ( ۱ پادشاهان ۱۰ )،او دغلته ددغه عبادت گاه ډیر زیات روحانی برکات وو . د سلیمان حکمرانی د هغه وعدو په اړ کی چی د داود علیه اسلام سره شوی وی د وړاندی پرمختگ او سر ته رسونی په حقله اشاره کوی او دغه ځه به د عیسی علیه اسلام په دور کی لیدلی کیږی.

د خدی روح ۶۷

ځینی دا دعوی کوی چی داود علیه اسلام سره چی کومی وعدی شوی وی هغه سلیمان سر ته رسولی وی ، خو دا په لاندی ورکړی شوی دلایلو باندی ردیګی:-

ـ دنوی شهادت نامی ډیر شهادتونه دا په ګوته کوی چی " تخم " عیسی علیه اسلام وو نه چی سلیان .

ـ داسی ظاهیریګی چی کومه وعده خدی دداود علیه اسلام سره کړی وه هغه، دغه وعده د ابراهیم علیه اسلا سره متصل کړله ( ا تاریحچه . ۱۷:۲۷ = پیدایش. ۲۲:۱۷،۱۸ ).

ـد "تخم" سلطنت به ابدی وی ـد سلیمان سلطنت ابدی نه وو

ـداود علیه اسلام دا منی چی هغوی ته ورکړی شوی وعدی د ابدی ژوند په حقله وی، او ددغه وعدو د فامیل د نژدو خلقو سره هیڅ تعلق نه جوړیګی:" کله چی به زه د خدی سره یم ځما کور به هغه کور نه وی ؛ هنوز هغه ځما سره یوه نه ختمیدونکی وعده کړیده"(۲ سمیویل . ۵:۲۳).

ـد داود علیه اسلام تخم مسیحا دی ،د ګناه څخه نجات ورکونکی (اشعیاء بنی اسرایل . ۶:۹،۷؛۲۲:۲۲؛ یحیی .۷:۴۲).
خو سلیمان وروستو د خدی څخه مخ واړه وو( ا پادشاهان ۱۱:۱ - ۱۳؛ نیحیمیا. ۲۶:۱۳ )د هغه واده په وجه کوم چی هغه د اسرایل څخه باندی کړی وو.

د خدی وعدی ۶۸

**۳ مطالعه: پوښتنی**

۱ . د خدی کومه وعده د حق او د ګناه په مینځ کی د ثابت قدمی د مبارزی پیشګوی کوی؟
ا) د نوح علیه اسلام سره وعده
ب) په عدن کی وعده
ت)د داود علیه اسلام سره وعده
ث)د ابراهیم علیه اسلام سره وعده

۲ .په دی کی کوم یو بیان د عدن د وعدی سره سمی خوری؟
ا) د ابلیس تخم شیطان وو
ب)عیسی علیه اسلام او پرهیز ګار د ښځی تخم دی
ت) عیسی علیه اسلام په موقتی تو ګه د ابلیس تخم زخمی کړی وو
ث) د عیسی علیه اسلام مرګ د ښځی په تخم باندی ګذارو نه کړی وو.

۳. په کوم ځای کی به د ابراهیم علیه اسلام تخم ابدی ژوند تیره وی؟
ا)په جنت کی
ب)د یروشلیم په ښار کی
ت)په ځمکه باندی
ث)څه په جنت کی او څه په ځمکه باندی

۴. په دی کی کومه وعده د داود علیه اسلام سره شوی وه؟
ا) داچی د هغه عظیم اولاد به د همیش لپاره حکمرانی کوی
ب) دا چی د هغه "تخم" به په جنت کی سلطنت لری
ت)دا چی تخم به د خدی زوی وی
ث) دا چی د هغه تخم عیسی علیه اسلام به په ځمکه باندی د پیدا کیدو څخه وړاندی په جنت کی ژوند کوی.

داسی ښکاری چی زیات تره انسانان د مرگ یا د خپل طبیعت په حقله فکر کونی ته ډیر کم وخت ورکوی، دغه د مرگ اساسی وجه ده. د ځان نه امتحانول مونږه بی علمی طرف ته بیای.، او په دغه وجه خلق د ژوند په چپه کی بهیگی ، او خپلی فیصلی د خپلو طبعی ضروریاتو په رڼا کی سر ته رسوی. په خله خو ډیر خلق منی چی مرگ شته دی خو په حقیقت کی ددی خبری نه انکار کوی چی ډیر زر به مرگ مونږه په خپل گرفت کی راولی. او دا سوال به د هر چا مخکی راو چتیگی چی "ستاسو ژوند د څه لپاره دی؟ داخو حتی یو براس دی ، کوم چی د یو ډیر محدود وخت لپاره مینځ ته راځی ، او بیا د مینځه ځی". "مونږه مرگ ته ضرورت لرو ،، او لکه څنگه چی او به په څمکه باندی خپری شی ، نو بیا یې راغو نډول گران وی". "لکه څنگه چی چمن راځیجی؛په سحر کی هغه پیشرفت(ځوانی) کوی او لویگی ؛ په ماښام کی هغه اوریږلی شی او د مینځه لاړه شی"( جیمز ۴:۱۴؛ ۲ سمیویل ۱۴:۱۴؛ روحانی سرود. ۹۰:۵،۶). موسی علیه ا سلام ، په ریښتینی فکر کونکی انسان وو ، هغه دا شیان منل ، او خدی ته یې د شفاعت دپاره زاری کوله: "په دا ډول مونږ ته د خپلو ورځو تعداد راوښایا ، چی مونږه خپل زړونه د دانایی په عمل مجبوره کړو" (روحانی سرود. ۹۰:۱۲). چی دغه ډول ، د ژوند د منظری په کوتاهی کی ، مونږه او کړی شو چی د ریښتینی دانایی نه استفاده کول خپله رومبنی وظیفه او گنړو .د مرگ په حقله د خلقو جواب گوی مختلفه ده. ځینی کلتورونو کوشیش او کړو چی مرگ او جنازی د ژوند برخه جوړه کړی ، چی دا رنگه د نقصان او انجام د مفهوم په حقله ځان پوهه کړی .د "عیسایانو" زیاد تره برخه دی نتیجی ته اورسیدله چی انسان بی "مرگه روح" لری یا ځینی نه مړه کیدونکو عناصر کوم چی په هغه کی دننه دی او د مرگ په وخت کی د مینځه نه ځی ، د مرگ نه وروستو داسی مقام ته ځی په کوم ځای کی چی انعام یا سزا ورکولی کیږی. د انسانی ژوند لپاره مرگ یوه ډیره اساسی ستونځه او رنج دی ، ددی توقعو کیدی شی چی انسانی ذهن به د مرگ په وجه ډیر مشق کړی وی او د هغی په وجه به یې د انسان په ذهن ډیر اثر کړی وی ؛په دی وجه د مرگ اوپه خپله د انسان د طبیعت په حقله په لوی تعداد کی د دروغو تحقیقاتی نظریی مینځ ته راغلی . لکه د همیش په شان دغه نظریات به هم د انجیل خلاف ددی مقصد په اساس ازمولی شوی وی چی ددغه اساسی موضوع په حقله حقیقی ریښتیا لاس ته راوړی. دا باید چی په ذهن کی اوساتلی شی چی هغه اولنی دروغ کوم چی په انجیل کی ثبت کړی شوی وو هغه د ابلیس دروغ وو چی د عد ن په باغ کی ثبت کړی شوی وو. دخدی د ساده بیان په مخالفت کی چی که انسان گناه کوی هغه به "حتماً مری" (پیدایش . ۲:۱۷)، ابلیس اوویل ، چی ته به هیڅ کله نه مری "(پیدایش . ۳:۴). د مرگ د راتگ او د هغی د کلیت نه انکار کول د ټولو مصنوعی مذهبونو مشخصات جوړ شوی دی.

داښکاره ده چی په دی مساحت کی په محصوصه توگه ، یوه مصنوعی نظریه بلی ته ، او بلی ته او بلی ته لا رورکوی. ددی په مخالف کی د ریښتیاو یوه قطره د نورو ریښتیاو دپاره راهنمای لاس ته راوړی لکه څنگه چی ۱ کورینت .۱۵:۱۳ - ۱۷ په گوته کوی. دلته کی پال د یو ریښتیا څخه بل ریښتیا ته ټوپ وهی (پاملرنه او کړی "اگر ...اگر...اگر").ددی لپاره چی په خپل اصلی طبیعت باندی ځان پوهه کړو ، مونږ ه باید چی دانسان د تخلیق په حقله دانجیل په وینا گاتو باندی غو ر او کړو. ثبت په ساده ژبه کی دی ،او که په حقیقی توگه اومنلی شی ، نو دا چی مونږه د طبعی حوالی سره څوک یو په دی حقله هیڅ ډول شک نه پاتی کیگی (انحراف ۱۸ او گوری د پیدایش په حقله اصلی تو ضیح). "مالک خدی انسان جوړ کړو د ځمکی د خوری نه ...د ځمکی نه ته جوړ شوی یې: د خوری نه ته جوړ شوی یې، او خوری ته به دی بیرته بوځم" ( پیدایش . ۲:۷؛ ۳:۱۹). دغلته د انسان د ذاتی بی مرگی په حقله

*هیڅ قسمه اشاره نه ده ورکړ شوی؛ یعنی د هغه یوه برخه به هم د هغه د مرگ نه وروستو ژوندی نه وی.*

د انجیل په دی حقیقت باندی علامت دار زور ورکړی شوی دی چی انسان په اساسی توگه فقط د خوری نه جوړ دی: "موږه خته یو" ( اشعیا ء بنی سرایل. ۸:٦۴)؛ انسان د ځمکی نه جوړ دی، خورین دی" ( ۱ د کورینت او سیدونکی. ۱۵: ۴۷)؛ *د انسان اساس په خوره کی دی ( کار ۴: ۱۹ )؛* "او انسان باید چی خوری ته بیا لاړشی " ( کار ۳۴: ۱۴، ۵). ابراهیم علیه اسلام دا خبره منلی وه چی "هغه د ایرو او د خورو نه جوړ دی " ( پیدایش . ۱۸: ۲۷). د عدن په باغ کی د خدی د امر د نه منلو څخه سمدست وروستو " خدی انسان او شړلو ...شاید هغه خپل لاس راوړاندی کړو ، او د ژوند وونه ې لری کړه،او خوراک ، او د ټول عمر ژوند ې ته نه بیرته واخیستلو" ( پیدایش . ۳: ۲۲،۲۴). که انسان په خپل ځان کی د نه مړه کیدلو کوم طبعی عنصر لرلو ، دغه به غیر ضروری وه.

**مشروطه بی مرگی**

د انجیل پایدار تکرار شوی بیان دا وای چی انسان کولی شی چی د عیسی علیه اسلام د کار د لاری ځان ته ابدی ژوند او بی مرگی راوړی. دا فقط د بی مرگی یو ډول دی د کومی په حقله چی انجیل خبره کړی ده ، ددی مطلب دا دی چی د غلطو کارونو په نتیجه کی د ضمیر ازاریدل یوه ابدی نظریه ده کومه چی بی له انجیل د کمکه وجود نه لری. د بی مرگی د لاس ته راوړنو لپاره یوه لار ده او هغه دا چی د خدی د فرمانونو تابعداری اوشی ، او هغه څوک چی بنه تابعدار وی هغوی ته به د بنه کارونو په نتیجه کی په درست حالت کی د بی مرگی جایزه ورکولی کیږی .

دا وړاندی منتخب کړی شوی عبارتونه به د کافی حده پوری ددی یو ثبوت وی ، هغه دا چی بی مرگی مشروطه ده ، او دا یو داسی شی نه دی چی موږه ې په طبعی توگه او لرو :-

ـ"عیسی علیه اسلام د انجیل د لاری په ژوند او بی مرگی باندی
رڼا اچولی ده" .( ۲ تیمو تاوس . ۱: ۱۰؛ ۱ یحیی ۱: ۲).
" بی له تاسو نه چی د انسان د زوی غو بنه خوری ، او د هغه وینا څکوی،
تاسو په ځان کی ژوند نه لری( دغه په تاکی ستا سو اصل دی ).
څوک چی ځما غوبنه خوری ، او ځما وینا څکوی ، هغوی به ابدی ژوند او لری؛
او زه به هغوی په ورځ د اخرت راپورته کړم " د "ابدی ژوند" ورکولو لپاره( یحیی ٦: ۵۳،۵۴).
عیسی علیه اسلام د یحیی په ټول ٦ باب کی دلایل ورکوی چی هغه د "ژوند ډوډی" دی ،
او فقط د هغه په حقله دسم عکس العمل په نتیجه کی د بی مرگی امید کیدی شی(یحیی
٦: ۴۷،۵۸،۵۴،۵۱،۵۰)
" خدی موږ ته( معتقیدین) ابدی ژوند راکړی دی، او دغه ژوند د هغه د زوی د
برکته دی "( ۱ یحیی ۵: ۱۱). د هغه چا لپاره د بی مرگی هیڅ امید نیشته
څوک چی د عیسی علیه اسلام په انداز کی د ژوند تیرولو په نه دی لامبولی
شوی". هغه د"( ابدی) ژوند خالق دی" ( اعمال ۳: ۱۵)ـ " دهغه چا لپاره د ابدی
نجات خالق دی څوک چی د هغه تابعداری کوی" (عبرانی ژبه . ۵: ۹). په دی وجه
دانسان لپاره د بی مرگی اغاز د عیسی علیه اسلام د کار په نتیجه کی شویدی.

ـ ربښتینی عقیده لرونکی د بی مرگی تکل کوی ،او ددی لپاره به ورته د ابدی ژوند هدیه ورکولی کیږی، هغه څه به ورته ورکولی کیږی څه چی هغه په طبعی توگه نه لرل.(رومیان . ۲:۷؛۶:۲۳ ؛ یحیی ۱۰:۲۸). د عیسی علیه اسلام د بیرته راتگ په موقعه به څمونږ مرگ لرونکی وجود "د نه "مرگ لرونکی وجود په ځای وی" ( د کورینت او سیلونکی .۱۵:۵۳)؛ د ابدیت وعده ورکړی شوی ده ،ابدیت فعل وجود نه لری ( ۱ یحیی ۲:۲۵).
ـفقط خدی ذاتی ابدیت لری( ۱ تیمو تاوس . ۶:۱۶).

## روح ۲.۳

د مخکی وینا گانو په رڼا کی په دی خبره باور کول ناممکنه ښکاره چی انسان یو 'ابدی روح' لری یا په خپل داخل کی کوم ابدی عنصر لری. مونږ به اوس داکوشیش او کړو چی د 'روح' لفظ په حقله پریشانی د مینځه یوسو'.

په انجیل کی چی د کومو عبرانی او یونانی لفظونو څخه د 'روح' ترجمه شوی دی ( د هغوی ترتیب داسی دی ' نیپیش' او پوچی )او په دغه ترتیب سره ترجمه شوی دی :-

وجود    نفس
مخلوق    زړه
ذهن    نفر
پخپله

په دی وجه روح د نفر ، وجود ، یا دخپل ځان سره منسوبه وی. 'څمونږه روحونو ته پناه ورکړه' ددی په واضحه توگه دامعنی ده 'مونږ د مرگه اوساته!' په دی وجه د روح مطلب ستا ذات دی یا د هغو شیانو مجموعه ده کوم چی انسان تشکیله وی. دا د پوهیدلو وړه خبره ده چی د انجیل ډیر عصری تفسیرونه ( د مثال په توگه نوی بین المللی تفسیر )ډیر کم د روح لفظ په استعمال کی راولی ، د روح په ځای هغوی لفظ ' ته' یا ' نفر' استعمالوی.هغه څناور کوم چی خدی پیدا کړی دی " هغوی ته حرکت کونکی څناور ویلی کیږی ... هر ژوندی څناور " (پیدایش . ۱:۲۰،۲۱). د عبرانی ژبی د کوم لفظ معنی چی "هر څه چی تخلیق شویدی" نیفیش دی او دغه لفظ روح هم ترجمه شویدی ؛ د مثال په توگه په پیدایش کی. ۲:۷: "...او انسان ژوندی روح شو ". یعنی انسان روح دی هم داسی لکه څنگه چی څناور روحونه دی '. د انسانانو او څناورو مینځ کی چی کوم فرق دی هغه فقط دادی چی انسان په ذهنی توگه د څناور نه اعلی دی ؛ هغه د خدی په جسمانی تصور کی پیدا شوی دی ( پیدایش. ۱)۲۶؛مطالعه ۱ . ۲ او گوری)، او ځینی انسانانو ته اوویلی شو چی راشی او په انجیل ځان پوهه کړی او د کومی لاری چی هغوی د ابدی ژوند په امید ځان پوهه ولی شی( ۲تیمو تاوس . ۱:۱۰). د کومی پوری چی څمونږ د اساسی طبیعت او څمونږد مرگ د طبیعت تعلق دی، ددغه حوالی سره په انسان او څناور کی فرق نیشته:-

"هغه څه چی د انسانانو د گړو سره کیږی هم دغه د څناورو د بچو سره کیږی؛ حتی یو کار د هغوی سره کیږی ( دوه ځله زور اچونی ته متوجی شی): لکه څنگه چی یو مری هم دغه شان بل مری...

دا ټول انسان په څناور باندی هیڅ ابتری نه لری ...ټول (یعنی انسانان او څناور ) ټول یو ځای ته ځی (قبر)؛ټول دخوری نه جوړ دی، او ټول به خوری ته ځی"(پادریان. ۳)۹ ۱،۲۰). د پادریانو الهامی لیکونکي دعا کوله چی خدی به دانسان سره په دی سخت حقیقت منلو کی کمک او کړی ، "او ممکن ده چی انسان په دی پوهه شی چی هغه ؛ هم څناور دی"( پادریان .۱۸:۳). په دی وجه ددی خبری تو قعه کیدی شی چی ډیر خلق به په دی حقیقت منلو کی مشکلات لری ؛ په حقیقت کی دا منل به د شرم خبره وی که مونږه دا اومنو چی د طبیعت د لحاظه مونږه فقط څناور یو، او د ځان دسا تنی داسی عقل لرو څنګه چی څناور لری ، ژوند هغه څوک کولی شی څوک چی د ژوند همت اولری او بچی راوړی. د پادریانو .۱۸:۳ نوی بین ا لمللی تفسیر وای ، د خپل ځان په حقله دا فکر کونه چی انسان فقط څناور دی انسان امتحانیګی؛ یعنی هغه څوک چی د کافی حده پوری دربښتینی خلقو په شان تابعدار دی هغوی به په دی شی پوهه شی ، او هغه څوک چی په دی پوهه نه شو هغوی به په دغه' امتحان' کی ناکامه شی . دا نسانی اقدارو په اساس د جوړی شوی لبرال فلسفی دا نظریه ده چی انسان د اعلی ا همیت او اقدارو مالک دی ، دغه فلسفه په شلمه صدی کی په ټوله نړی کی خپره شوه. ددغه فلسفی د اثر نه خپل فکرونه پاکول څمونږه لوی مرام دی . د روحانی سرود ۵:۳۹ ساده الفاظ په دی حقله کمک کولی شی: "په عمومی توګه انسان په خپل ښه حالت کی د بیهودګی حالت کی وی". دا د انسان خاصیت نه دی چی په خپلو قدمونو باندی نیغ لاړشی"(ارمیای نبی (۲۳:۱۰.

مونږ ته چی کوم یو اساسی شی چی معلوم دی هغه دا دی چی ټول انسانی وجودونه ، په حقیقت کی ټول ژوندی انسانان او څناور په اخر کی مری. په دی وجه، 'روح' مری؛ څه ته چی ابدی ژوند ویلی شی دا دهغی سم مخالف اړخ دی . دا څه د حیرانتیا خبره نه ده چی په انجیل کی تقریبًا ددریمی برخی نه زیات ترجمه کړی شوی لفظ "روح" د روح د مرګ او دهغه د ړنګیدلو په ارطباط سره یادولی شی.په خپله دا حقیقت چی د لفظ 'روح' په دی طور استعمال دا ښای چی روح داسی شی نه دی چی ړنګیدی نه شی یا ابدی وی:-

- "ګناه کونکی روح ، مرګ لری" (ایزیکیل. ۱۸:۳)
- خدی کولی شی روح د مینځه یوسی(متی . ۱۰:۲۸).

د روح د مینځه وړنی په حقله نور ی حوالی :ایزیکل . ۲۲:۲۷؛ضرب ا لمثل. ۳۲:۲؛لیویتیکس. ۲۳)۳۰)

- ټول روحونه چی د ه زور په ښار کی وو په توره قتل کړی شو

(یوشع بن نون پیغمبر اسرایل . ۱۱:۱۱؛ مقایسه .یوشع بن نون پیغبر اسرایل. ۱۰:۳۰ - ۳۹).

- ....هر ژوندی روح مری " ( الهام.۱۶ )۳؛ مقایسه .۷۸:۵۰).
- په تکر ار سره د موسی علیه ا سلام قانون دا حکم کړی دی "چی هر هغه روح چی د ځینی قوانینو نافرمانی کوی هغه به وژلی کیږی ( د مثال په توګه شمیره .۱۵:۲۷ - ۳۱)
- د روح په حقله د روح د ساه د بندولی حوالی یا روح ې په دام کی ګیر کړو ، که په دی حوالو د ځان پوهولو کوشیش او کړی شی نو مطلب ېږیو دی او هغه دا چی روح هم مرګ لری( ضرب المثل .۱۸:۷؛ ۲۲:۲۵؛ کار۷:۱۵ )

"هیځ څوک هم خپل روح ژوندی نه شی ساتلی"(روحانی سرود . ۲۲:۲۹)

ـ عیسی علیه اسلام خپل "روح"د مرگ په سیند ورلاهو کړو " دا ډول د هغه "روح"
یا ژوند گناه ته د ماتی ور کولو لپاره جوړ شوی وو( اشعا ء بن اسرایل . ۵۳:۱۰،۱۲).

هغه الفاظ کوم چی په زیاد تره شعرونو کی استعمال شوی دی ، په هغی کی د روح حواله د تفر یا
وجود په حقله ورکړ ی شوی ده نه چی د کوم ابدی ژوند لرونکی بسر ی په حقله ورکړی شوی ده.
ځنی ښکاره مثالونه دا دی:-

ـ" د ارواح وینه"(ارمیای نبی . ۲:۳۴).
ـ که روح گناه کوی ،او د قسم خوړلو اواز اوری ... که
هغه اونکړی شو چی سر ته ې اورسوی ... که روح کوم
پلید شی ته لاس وروړو ... که روح قسم او خوړ ،
پال مرثیه خوانی کوله: ځما په داخل کی (ځما په وجود کی) کوم ښه شیان نه اوسیگی ...د هغو ښو لپاره کوم چی زه نه کوم ... که زه هغه او کړم کوم چی نه دی پکار چی زه یی او کړم ، په دغه مقام وراندی زه پاتی نه شوم کله چی به زه دغه کوم ، بلکه هغه گناه یی کوی کومه چی په ما کی راننوتی ده" ( رومیان .۱۸:۷ - ۲۱). اوس هغه د خپلی گناه کونی تور په کوم خارجی وجود شیطان پوری نه پوری کوی. هغه خپل بد طبیعت د گناه حقیقی علت متعین کړی دی: " دا زه نه یم څوک چی دا کوی ،بلکه گناه کومه چی په ما کی راننوتی ده .ما بیا یو قانون کشف کړو (په ما کی دننه)،چی کله به زه ښه کارونه کوم ،بد ما سره (یعنی په ما کی دننه) موجود دی ". دا ټول هغه وای چی د روحانی کیدو لپاره مخالفت چی د کوم شی څخه مینځ ته راځی هغی شی ته هغه " د گناه وجود " په ما کی په نوم یاده وی". هر یو

فکر کونکی ، دروحانی ذهن لرونکی نفر به ددغه ډول شخصی علمی نتیجی ته اورسی. دا به په ذهن کی ساتل پکار وی چی حتی عالی عیسای لکه پال د بدلیدو څخه وروستو دداسی کومی طبعی تجربی سره نه وو مخامخ شوی ، نه یی هغه ته کوم داسی حیثیت ورکړی وو په کوم ځای کی چی به هغه گناه نه وی کړی او نه یی کولی شوه چی گناه او کړی . عصری 'ایوانجیلیکل ' جنبش د خپل داسی حیثیت دعوی کوی ، او پال له د هغه بیان په وجه کوم چی هغه دلته په رومیانو کی ۷:۱۵ - ۲۱ ورکړی وو د " نه محفوظونکو" په درجه کی ځای ورکوی. دی شعرونو هغوی د لوی مشکل سره مخامخ کړل . داود علیه ا سلام ، بغیر د کوم شکه صالح انسان ، هم دغه ډول د خپل طبیعت په مستقل گناهگاری باندی تبصره کړی ده: زه په بی انصافی کی متشکل شوی ووم ؛ او د گناه کونی په نتیجه کی ځما مور په ما حامله شوه"(روحانی سرود.۵:۱۵).

انجیل د انسان د اساسی گناهگارانه طبیعت په حقله ډیر واضح دی. که ددی خبره ستاینه اوشی ،نو بیا هیڅ ضرورت نه پاتی کیږی چی د انسانی طبیعت نه باندی کوم تصوراتی نفر جوړ کړو څوک چی ځمونږ د گناهونو ذمه واردی. یروشلیم .۱۷:۹ وای چی د انسان زړه دومره زیات گناه گار او فریبی دی چی مونږه په حقیقت کی د هغه د گناه د ناپاکی د حد درک نه شو کولی. عیسی علیه اسلام هم د انسانی طبیعت د اساسی بد والی طرف ته په متی :۷:۱۱ . د کلیساگانو د اداره کولو علم .۹:۳ ( دعبرانی ژبی متن) اشاره کوم چی ساده نه شی کیدی: " د انسان د ځامنو زړونه د بدی نه ډک دی". د ایفیس اوسیدونکی .۴:۱۸ د خدی څخه د انسان د طبعی بیگانگی په حقله د لایل وړاندی کوی ، وای چی" د وی چی د کوم جهالت ښکار دی د هغی وجه هغه بی بصیرتی ده کومه چی ددوی په زړونو کی ده". دا ځمونږ د زړونو د روحانی بی بصیرتی او جهالت وجه ده چی ، ځمونږ د فکر کولو انداز کوم چی په داخل کی په مونږ کی موجود دی ، مونږه د خدی څخه لری شوی یو. ددی سره دگلیت اوسیدونکی :۱۹:۵ دا وای چی ځمونږ گناهونه " ځمونږ د وجود کار دی"؛ دا ځمونږ وجود دی، ځمونږه خپل ځان او طبیعت ، کوم چی ځمونږ د گناه کونی وجه جوړیگی. په دی کی یوه برخه هم داتوضیح نه ورکوی چی د گناه کوم علت چی په مونږ کی دی د هغی ځمونږ په داخل کی د کیخودنی وجه فاسد دی ؛ گناه گارانه تمایلات داسی شی دی کوم چی په مونږ کی د ځیگیدنی له وخته وجود لری ؛ دا د انسانی جوړښت اساسی برخه ده.

### فاسد او شیطان ۲.۲

کله نه کله د انجیل د متن اصلی لفظونه بی ترجمه پاتی کیږی ("ممونا"،په متی کی ۶:۲۴ د ارامی ژبی یو مثال دی) . د لفظ په لحاظ سره ، " شیطان د عبرانی ژبی نه ترجمه کړی شوی لفظ دی ددی معنی 'دشمن ' دی په دی حال کی 'فاسد' (Devil) د یونانی لفظ 'ډیا بولس' ترجمه ده چی معنی یی دروغجن دی ، یو دشمن یا د دروغو تهمت لگونکی. که مونږه دا یقین ساتو چی شیطان یا فاسد ځمونږ څخه باندی کوم وجودونه دی چی ځمونږ د گناهو نو مسو لیت اولری، نو بیا کله چی هم مونږ ددی لفظونو سره په انجیل کی مخامخیگو ،

نو مونږ به دا کوشیش کوو چیددغه بد نفر سره یی منسوب کړو. ددی لفظونو انجیلی استعمال دا
بنای چی دا به عام خلقو ته د تو ضیح ورکونی په حالت کی د عام صفت په توګه استعمالیګی. دا
حقیقت ددلیل ورکونی دپاره هیڅ اساس نه پاتی کوی چی لفظونه شیطان او فاسد څنګه چی په
انجیل کی استعمال شوی دی په داخل کی د لوی ګناه ګار نفر سره منسوبه وی یا ځمونږ نه باندی.

**لفظ شیطان په انجیل کی**

۱ باد شاهان ۱۱:۱۴ ثبته وی چی "مالک د سلیمان په مقابل کی دشمن(هم دغه عبرانی لفظ په بل
ځای کی شیطان ترجمه شوی دی) له حرکت ورکړو، چی نوم یی د ایډا ماینټ حداد وو". او خدی یو
بل دشمن ته حرکت ورکړو (بل شیطان) چی نوم یی رزان وو ... هغه د شمن وو (یو شیطان)د
اسرایل" (۱ بادشاهان ۱۱:۲۳،۲۵). ددی دا مطلب نه دی چی خدی د طبیعت نه پورته کوم نفر یا
فرشتی له حرکت ورکړو چی دسلیمان علیه اسلام په ضد د شیطان /دشمن کردار سر ته اورسوی؛ هغه
ددغی کار لپاره عام خلق په حرکت کی راوستل. متی ۱۶:۲۲،۲۳ یو بل مثال وړاندی کوی.
پطرس دا کوشیش کولو چی دیروشلیم د تګ څخه عیسی علیه اسلام منعه کړی چی په صلیب
باندی مړ نه شی.
عیسی علیه اسلام راو ګرځیدلو او پطرس ته یی اویل "ته ما پسی راځه، شیطان هغه شی نه دی چی د
خدی له طرفه وی، شیطان هغه شی دی چی د انسان له طرفه وی". دا ډول پطرس د شیطان په نوم یاد
کړی شو. ثبت کړی شوی شیان د شیشی په شان واضح دی کله چی هغه دغه خبره کوله نو عیسی
علیه اسلام د کومی فرشتی یا دیو سره خبری نه کولی؛ هغه د پطرس سره خبری کولی.

ځکه چی د لفظ 'شیطان' معنی فقط دشمن دی ،یو ښه انسان ،حتی خدی په خپله د یو' شیطان' په نوم
یادیدلی شی. د ماهیت د لحاظه په دی لفظ کی په خپله کومه ضروری ګناه نیشته. ګناه ګارانه معنی
کوم چی لفظ شیطان لری د څه حده پوری ددی حقیقت په وجه دی چی ځمونږه خپل ګناهګارانه
طبیعت ځمونږه دټولونه لوی 'شیطان' یا دشمن دی، او د لفظ په توګه د نړی په ژبه کی استعمال په
څه ډول د ګناه سره د تړون حواله ورکوی. ځمونږ په ژوند کی د ازمایشو نو د راوړنی په وجه خدی په
خپله هم ځمونږ په نظر کی شیطان ګنړلی کیدی شی، یا کله چی په غلطه لار مونږ روان یو هغه ځمونږ
په لار کی موهږ ته مشکلات پیدا کوی. خو دا حقیقت چی خدی ته څه شیطان ویلی کیدی شی خو
هغه خپله ګناه ګار نه دی.

د سمیول کتاب او تاریخچی د یوی واقعی دوه روحونه دی ، لکه څنګه چی۳ پیغمبران د یوی واقعه
ثبت دی خو مختلفی ژبی استعمالوی. ۲ سمیویل ۲۴:۱ ثبته وی: کی وای چی "مالک ...داود
علیه اسلام د اسرایل خلاف په حرکت کولو مجبوره کړو" ددی لپاره چی په اسرایل کی مردم شماری
او کړی. دغه ډول متوازی حساب په ۱ تاریخچه ۲۱:۱ کی وای "شیطان د اسرایل خلاف اودریدو،
او داود علیه اسلام یی غصه کړو"چی مردم شماری او کړی. په یوه برخه کی خدی غصه کول کوی او
په بله برخه کی

شیطان دغه کار کوی. ددی نه یوه نتیجه اخذ کیدیشی او هغه دا چی خدی د داود علیه اسلام په ضد د شیطان یا دشمن کار تر سره کړو. په امتحان کی د اچولو په موقعه، ایوب علیه اسلام د خدی په حقله اؤیل : "ته د خپلو قوت منډو لاسونو سره ځما په ضد ځان اودروی"( ایوب ۳۰:۲۱)؛ 'ته ځما خلاف د شیطان کار کوی'، دا هغه څه وو څه چی ایوب علیه اسلام په اساسی توګه ویل غوښتل.

## لفظ فاسد په انجیل کی

او دغه ډول د لفظ 'فاسد' سره هم شوی دی. عیسی علیه ا سلام اوویل ایا تاسو دولس نفر ما نه یی خوښکړی ( شاګردان)، او یو په تاسو کی فاسد دی؟ هغه د یهوداسخر یوطی په حقله اوویل ..." څوک چی یو عام فانی کیدونکی نفر وو. هغه د کوم ښکری لرونکی یا روحانی نفر په په حقله خبره نه کوله . دلته د لفظ 'فاسد' مطلب ګناه ګار انسان دی . ۱ تیمو تاوس .۳:۱۱ یو بل مثال ورکوی . د کلیسا د مشرانو ښځی باید چی "چوغلی" نه کوی؛ اصلی یو نانی لفظ دلته 'ډیا بو لس'، دی هم دغه لفظ دی چی په یو بل ځای کی فاسد ترجمه شوی دی. پال اخطار ورکړو تیتوس ته چی باید چی زړی ښځی په ایسیلیسیا کی د"دروغو تهمت" نه لګونکی یا 'فاسدی' نه وی (تیتوس .۲:۳). او په دغه ډول هغه تیمو تاوس ته اوویل ( ۲تیمو تاوس.۳:۱،۳) چی "په ا خرو ورځو کی ... انسانان به د درغو تهمت لګونکی وی ( فاسدان)". ددی دا مطلب نه دی چی انسانان به په نورو برترو انسانانو کی بدل شی ، خو دا چی هغوی به زیاد تره ګناهګار وی . ددی هر څه ځخه پس با ید چی سراسر واضحه شی چی لفظونه 'فا سد' او 'شیطان' د کومو ګناه ګارو یا غورزیدلی فرشتو لپاره نه دی استعمال شوی یا د هغه چا لپاره څوک چی ځمونږ په داخل کی ژوند نه کوی.

## ګناه، شیطان او فاسد

لفظونه 'شیطان' او 'فاسد' په تمثیلی توګه ددی لپاره استعمال شوی دی چی ځمونږ په داخل کی د طبعی ګناهګارانه تمایلاتو تو ضیح او کړی د کومی په حقله چی مونږ په مطالعه ۱.۶ کی ذکر کړی دی. دا ځمونږه اساسی 'شیطانان' یا دشمنان دی. هغوی ته هم شخصیت ورکړی شوی دی ، اودغه ډول هغوی د 'فاسد' په نوم یادیدلی شی، ځمونږه د شمن، د ریښتیاو تهمت لګونکی دی. دا هغه څه دی څنګه چی ځمونږه طبعی انسان دی ، یعنی واقعی فاسد. د فاسد او ځمونږه دبدو هواهشاتو په مابین کی رابطه ، ګناه په داخل کی ځمونږه ، په څو برخو کی واضحه کړی شوی ده: "لکه څنګه چی ماشومان (ځمونږه خپل ځان ) د غوښی او وینی برخه اخیستونکی دی ، هغه (عیسی علیه اسلام) هم په خپله دغه ډول د یوشی برخه اخستی وه ؛ چی د(خپل) مرګ دلاری هغه او کړی شی چی فاسد دمینځه یوسی کوم چی د مرګ قوت لری، یعنی هغه، فاسد دی" ( عبرانی ژبه. ۲:۱۴ ). دلته کی فاسد د مرګ د مسول په توګه توضیح کړی شوی دی . خو د ګناه اجرت مرګ دی" ( رومیان ۱:۱۴ ). په دی وجه ګناه او فاسد باید چی متوازی وی . دغه شان جیمز ۱:۱۴وای چی ځمونږه بد هوا هشات مونږه تیر باسی، مونږه ګناه طرف ته بیایی او په دغه وجه مرګ طرف ته؛ خو عبرانی ژبه ۲:۱۴ وای چی فاسد مرګ راوړی . هم دغه شعر وای چی عیسی علیه اسلام ځمونږه طبیعت لرلو ددی لپاره چی فاسد د مینځه یوسی. دا د رومیانو ۸:۳ سره فرق لری " خدی خپل زوی د ګناه ګار

بدن په مشابهت کی روالیگو (یعنی محمونږ په انساني طبیعت کی) چی دا ډول په وجود کی گناه محکومه کړی". دا بنای چی فاسد او گناهگارانه تمایلات کوم چی په طبعي وجه د انسان په وجود کی موجودی دی په موثره توگه یو شان دی. محمونږ د پوهیدلو لپاره دا ډیره مهمه ده چی عیسی علیه اسلام هم محمونږ په شان تیر باسلی کیدو. د فاسدانه عقیدی په حقله دغلط فهمی مطلب دا دی چی مونږه نه شو کولی چی په سمه توگه د عیسی علیه اسلام د طبیعت او د هغه دکار ستاینه او کړو. ددی وجه فقط دا وه چی عیسی علیه اسلام محمونږ په شان انساني طبیعت لرلو، یعنی شیطان بی په داخل کی لرلو، ددغی په وجه مونږ د نجات امید کولی شو(عبراني ژبه . ۱۴:۲ - ۱۸؛ ۱۵:۴). په خپل طبیعت باندی د قابو دراوړلو لپاره، یعنی د انجیلی شیطان قابو کولو لپاره، عیسی علیه اسلام ددی قابل وو چی فاسد بی په صلیب باندی رنگ کړو(عبراني ژبه . ۱۴:۲). که شیطان یو شخصي وجود دی، نو هغه به نه وو کړی شوی چی ددغی نه پس ژوندی پاتی شوی وی. عبراني ژبه په ۲۶:۹ کی دا وای چی عیسی علیه اسلام "د خپل ځان د قرباني ورکولو د لاری د گناه د لری ساتلو" یو اظهار وو. د عبراني ژبی . ۱۴:۲ ددی اظهار سره مطابقت خوری چی عیسی علیه اسلام د خپل مرگ د لاری په خپل ځان کی دننه فاسد د مینځه یوړو. د خپل مرگ په واسطه عیسی علیه اسلام په علامتی توگه د "گناه وجود مینځه" یوړو(رومیان . ۶:۶)، یعنی انساني طبیعت، گناه کومه چی محمونږ د خپل وجود (په شکل کی) کی نازلیگی.

"هغه څوک چی گناه کوی د شیطان له طرفه دی"( ۱ یحیی . ۸:۳)، ځکه چی گناه هغه وخت مینځ ته راځی کله چی خپل طبیعت ته، بد هواهش ته لاری ورکړی شی ( جیمز ۱:۱۴،۱۵)، کوم چی انجیل د "شیطان" په نوم یاده وی. ددی مقصد لپاره د خدی زوی مینځ ته راغلی وو، چی دا ډول هغه د شیطان کارونه د مینځه یوسی" (۱ یحیی . ۸:۳). که په داسی اظهار کولو کی مونږ صحیح یو چی شیطان محمونږه بد هواهش دی، نو هغه کارونه کوم چی محمونږ د بد هواهش په نتیجه کی مینځ ته راځی، یعنی کوم چی ددغه هواهش نتیجه وی، محمونږ گنا هونه دی. ددی تاید ۱ یحیی . ۵:۳: کړی دی" د عیسی علیه اسلام راتگ ددی لپاره وو چی محمونږ گناهونه محمونږ څخه لری یوسی". داددی تاید کوی چی "محمونږ گناهونه" او "محمونږ د شیطان کارونه" یو دی. اعمال ۳:۵ د شیطان او د گناه په مینځ کی د تعلق په حقله د یو بل مثال حواله ورکوی. پطرس انیان ته وویل: "شیطان وولی ستاسو په زړه کی ناست دی؟" بیا په څلورم شعر کی پطرس وای "وولی ستا په زړه کی دا شی کیناستو؟" په زړه کی د خراب شی ناسته د شیطان د ناستی برابر ده. که مونږ په زړه کی یو شی اولرو، د مثال په توگه ناپاکه برنامه، دغه محمونږ په داخل کی اغاز کوی. که یوه ښځه په خیټه ماشوم لری، دغه ماشوم د هغی څخه باندی وجو نه لری؛ دا په هغی کی دننه اغاز کوی. جیمز په ۱:۱۴،۱۵ کی دغه رقم توضیح ورکوی کله چی هغه د انساني هوس په نتیجه کی د گناه کونی حواله ورکوی، د کومی په نتیجه کی چی مرگ راځی. روحاني سرود په ۶:۱۰۹ کی گناه گار انسان د 'شیطان' برابر گنړی: ته په هغه باندی بدکاره انسان کینوه: او پریگده چی شیطان د هغه راست طرف ته اودریگی"، یعنی چی هغه د شیطان په قدرت کی وی (مقایسه. روحاني سرود. ۱:۱۱۰).

**(ساه نه لرونکی شی د یو جلا شخصیت په توگه مثل)**

خومره به تاسو په دلیل سره جواب نه وی ورکړی : ' خو بیا هم داسی ظاهریگی لکه شیطان چی یو وجودوی! ' هم داسی سمه ده ؛ عبرانی ژبه. ۱۴:۲ ددی په حقله وای " څوک چی د مرگ قدرت لری دغه شیطان دی ". حتی د انجیل لگه غونده لوسته په تکرار سره د ساه نه لرونکی شخصیت په گوته کوی، د څه مبهمو نظریاتو په حوالی سره داسی خبره کوی لکه د کوم شخصیت ذکر چی کیږی. لکه څنگه چی ضرب المثل. ۹:۱ د" علم " په نوم د یوی ښځی ذکر کوی کومه چی کور جوړوی، او رومیان په ۲۳:۲ کی گناه د هغه معاش ورکونکی سره مشابهه کوی کوم چی د مرگ اجرت ورکوی. په دی باندی په انحراف پنځم کی نور بحث شوی دی. څمونږه فاسد، ' شیطان' بیا بیا څمونږ د بدو هواهشاتو نمایندگی کوی. د کومی پوری چی تاسومبهم شیطانیت نه شی لرلی؛ بد هواهشات کوم چی د انسان په زړه کی دی نه شی کولی چی د انسان نه بیل وجود ولری ؛ په دی وجه ' فاسد' ته شخصیت ورکړی شوی دی. د گناه ذیاد تره ذکر د ماهر وجود په توگه شوی دی ( دمثال په توگه.رومیان .۵:۲۱؛ ۲:۶، ۱۷؛ ۳:۷). په دی وجه دا خبره د پوهیدو وړده چی شیطان ته همیش وجود ورکړی شوی دی، ښکاره ده چی د فاسد تعلق د گناه سره دی . په دغه انداز کی، پال څمونږ په حقله داسی خبره کوی لکه چی مونږه دوه وجودونه لرو لکه دا چی څمونږ د وجود په داخل کی وو ( رومیان .۷:۱۵ - ۲۱): د انسان وجود ' فاسد' په جنگ وی د روح د انسان سره . لکه څنگه چی ښکاره ده چی دغه جنگ څمونږ په داخل کی ددوه واقعی انسانانو په مینځ کی نه وی. څمونږه د طبیعت دغی گناه گارانه برخی ته د ' بدو' وجود ورکړی شوی دی( متی .۱۳:۶ توی تفسیر)، کومی ته چی د انجیل فاسد(شیطان) ویلی شی. هم دغه شان د یونانی ژبی فقره " بد کار نفر" د "گناهگار نفر"په توگه ترجمه شویدی، دا ترجمه د ۱ کورینت اوسیدونکی ۱۳:۵ ، کی شوی ده، دا ترجمه په گوته کوی چی گناه ته لار د انسان په داخل کی ' بدانسان' ورکوی، هغه په خپله 'بد انسان' یا 'فاسد' جوړ شی.

## 'فاسد' او 'شیطان' د سیاسی مفهوم د حوالی سره

دالفظونه ' فاسد' او 'شیطان' د هغه شریر او گناه گارانه نړی وال نظام لپاره هم استعمالیگی په کوم کی چی مونږ ژوند کوو. د نوع انسان اجتماعی ، سیاسی ، او ددولت په اړیکو پوری تړلی شوی دروغگومذهبونه د 'فاسد' په نوم یادیدلی شی. په نوی وصیت نامه کی د بیا بیا تکرار سره د یهودیانو او رومیانو سیاسی نظامونه د فاسد او شیطان په نوم یاد کړی شوی دی. دا چول مونږه د فاسدپه حقله لولو، چی هغه معتقیدین زندان ته استوی (نوی . ۲:۱۰ )، دغلته د روم د حکمرانانو حواله ورکړی شوی ده څوک چی معتقیدین زندان ته استوی. په دغه انداز کی مونږ د هغه کلیسا په حقله لوسته کوو کومه چی په پگاماز کی اباده وه او په کومه کی چی د شیطان د ناستی ځای وو ، یا د هغه تخت وو، یعنی په پگاماز کی د رومی مستعمراتو د حکمرانی لپاره ځای وو ، په کوم کی چی د معتقیدینو یو ټولگی هم وجود لرلو. مونږه داسی نه شو ویلی چی شیطان په خپله ، که هغه وجود لری ، په خپله په پگاماز کی تخت لرلو.

د ذاتی گناه تعریف داسی شوی دی لکه چی د خدی قانون مات کړی ( ۱ یحیی. ۴:۳). خو هغه گناه د کومی اظهار چی په اجتماعی توگه کیږی لکه سیاسی، اجتماعی قوت کوم چی د قوت په توگه د خدی مخالفت کوی د ذاتی گناه په مقابلّه کی ډیره طاقتوره گناه ده ؛ دا هم هغه اجتماعی قوت دی کوم چی کله نه کله د

طاقتور وجود لرونکی فاسد په نوم یادیگی. ددغه مطلب په حوالی سره ایران او نور اسلامی طاقتونو امریکه د 'عظیم شیطان' په نوم یاده وی، یعنی په سیاسی او مذهبی حوالو سره امریکه د هغوی د مقاصدو غټ دښمن دی. هم په دغی ډول په انجیل کی لفظونه 'فاسد' او 'شیطان' استعمال کیږی .

په اخر کی، شاید داسی وینا کول به صحیح وی چی د نورو موضوعگانو په مقابل کی په دی موضوع کی، داډیره اساسی ده چی د ټول انجیل په حقله د متوازن فکر په نتیجه کی خپله پوهه متعین کړو ، نه چی عظیمه عقیده د یو څو شعرونو په نتیجه کی کوم چی زړه راښکونکوی فقری استعمالوی، کوم چی داسی ظاهریگی، لکه د فاسد په حقله د عمومی عقیدی خبره کوی تعمیر کړو. مطالعه ۲.۱ او دا برخه یو ځل بیا با احتیاطه ،او عباداتانه لوستی ته ضرورت لری. دا منله شوی ده چی کومه تعلیماتی وضعه هغلته طرحه شوی ده، دغه طرحه فقط یوه لار ده د کومی په واسطه چی د شیطان او فاسد ذکر کونکو برخو په حقله معقوله پوهه لاس ته راوړلی کیدی شی. دغه لفظونه د یو عمومی صفت په توگه استعمالیدی شی ، یا په څینو ځایونو کی دا دهغه گناه ذکر کوی کومه چی ځمونږ په داخل کی په انسانی طبیعت کی وجود لری. څینی هغه برخی کومی چی په عمومی توگه د نه پوهیدلو وړدی ، کومی چی د محبوبو نظریاتو د مرستو دپاره نقل شوی دی د
د ی مطالعی په حقله انحرافات مینځ ته راوړی.

هغه څوک چی ځمونږ په نتیجه گری منلو کی د ستونځو سره مخامخیگی باید چی د ځان څخه پوښتنه او کړی: (۱) ایا گناه ته شخصیت ورکړی شوی دی؟ (۲) ایا دا حقیقت دی چی فقط د صفت په توگه به 'شیطان' استعمالیگی؟ او دا حقیقت دی. نو بیا په دی منلو کی به هغه کوم واقعی پرابلم وی چی گناه ته ځمونږ ددشمن /شیطان شخصیت ورکړی شوی دی؟ نړی ته په تکرار سره د یحیی په لیکونو او انجیل کی شخصیت ورکړی شوی دی (نوی تفسیر او گوری)؛ د'شیطان' او'فاسد' نه پرته بله کومه بهتره اصطلاح کیدی شی؟

## ۳.۲ پلید روحونه

په وړاندینی برخه کی مونږ په دی خبره رڼا اچولی ده چی مونږه وولی دا خبره نه منو چی پلید روح او شیطان وجود لری او یا دا چی دا کومه اعجوبه ده. که چری مونږه دا خبره اومنو چی داسی کوم شی وجود نه لری ، نو بیا ددی څخه یقیناً چی دا نتیجه گیری کیدی شی چی هغه وجودونه یا دیوان کوم چی دشیطان نوکران گنړلی کیږی هغوی وجونه لری. داسی ښکاری چی ډیر خلق دا فکر کوی چی خدی ځمونږ د ژوند لپاره ډیر ښه شیان راکړی دی ، او شیطان او دهغه نوکرانو مونږ ته خراب شیان راکړی دی ، او ځمونږ څخه هغه ټول شیان غایبه وی کوم چی مونږ خدی راکړی دی. انجیل په واضحه توگه دا تعلیم ورکوی چی خدی د ټولو قوتونو سر چشمه ده ، او ځمونږ په ژوند کی د دواړو ښو او خرابو خبرو مسولیت لری( اشعیای بن اسرایل. ۴۵:۷). ددی کبله ځمونږ د ازمایش په وخت کی مونږ له نه دی پکار چی ددغی هر څه د مسولیت الزام په شیطان یا په دیوانو اولگوو ، بلکه دا منل پکار دی چی دغه هر څه د خدی له طرفه کیږی. ایوب علیه اسلام دا خبره منی چی " خدی ورکړی وه او خدی ( نه چی دیوانو)بیرته واخیستل، د مالک په نوم دی برکتونه وی" ( ایوب علیه اسلام ۱:۲۱).

خدی د ټولو قوتونو سر چشمه دی ( اشعیای بن اسرایل ۴۵:۵؛ ۴۴:۸). خدی حاسدان بیرته غواړی کله چی دهغه خلق په نورو خدایانو باندی عقیده راوړی ، که هغوی خدی ته اووایی ، " چی ته عظیم

خدی یی، یو طاقتور خدی یی ، خو په حقیقت کی زه دا یقین لرم چی ستا څخه پرته نور خدایان هم شته دی ، دا درسته ده چی هغوی به دومره طاقتور نه وی څومره چی ته یی. له دی کبله موږ دا یقین نه کوو چی پلید روحونه یا شیطان وجود لری او دغه ډول ربښتینی خدی هم وجود لری. دا فقط یوه غلطی وه چی اسرایلو او کړیوه. په ذیات تره زړه وصیت نامه کی دا ښودلی شوی دی چی څنګه اسرایلو د یو خدی څخه پرته د هغه سره په نورو خدایانو د عقیدی لرنی په نتیجه کی خدی خفه کړیوو. موږه د انجیل څخه دا معلومات لاس ته راوړی شو چی په هغه "پلیدو روحونو" په کومو چی اسرایلو عقیده لرله نن خبلق عقیده لری.

**پلید روحونه بُتان دی**

په ۱ کورینت کی پال دا خبره توضیح کړی ده چی وولی عیسایانو له نه دی پکار چی د بتانو عبادت او کړی یا په داسی شیانو عقیده اولری. د انجیل په زمانه کی خلقو دا یقین لرلو چی پلید روحونه کوچنی خدایان دی او دوړو ستونځو د مخ نیوی لپاره کومی چی دهغوی له طرفه راځی باید چی د هغوی عبادت او کړی شی. له دی کبله هغوی به ددغی پلیدو روحونو شکلونه جوړول ، کوم چی بتانو په شکل وو ح او د هغوی عبادت به یی کولو. په دی وجه دا دی خبری ته توضیح ورکوی چی پال وولی په خپل خط کی "پلید روحونه" او "بتان" د یو بل د متبادل په توګه استعمال ړی دی:-
"هغه شیان کوم چی غیر کلیمی قربانی کوی ، هغوی دغه قربانی د خدی په نوم نه بلکه د بتانو په نوم کوی: او زه به دا نه خورم څکه چی ته د بتانو سره وابستګی لری داسی په هغه حالت کی کول پکار دی کله چی تاسو ته بتانو په نوم کړی شوی قربانی وړاندی کړی ، د هغه د خاطره دغه مه خوری..."
( ۱ د کورینت او سیدونکی . ۱۰ : ۲۰، ۲۸ ). دغه ډول بتان او پلید روحان په موثره توګه یو شی دی. دا خبره داسی یاد اوساتی څنګه چی پال ویلی وو چی هغوی قربانی د "پلیدو زرحونو (بتانو) لپاره کوی نه چی د خدی لپاره"- پلید روحونه خدی نه وو ،او لکه څنګه یو خدی وجود لری ، ددی مقصد دادی چی پلید روحونه بالکل حقیقی قوت نه لری، هغوی خدایان نه دی. دا نقطه یی په اساسی توګه په ۱ کورینت .۸:۴ کی حل کړیده.
"د کومی پوری چی د هغه شیانو تعلق دی کوم چی بتانو ته قربانی کړی شوی دی ، موږ خبر یو چی بت ( برابر دی د پلیدو روحونو ) په دی نړی کی هیڅ شی نه دی ، او دیو خدی څخه پرته بل خدی وجود نه لری". او بت یا پلید روح ، هیڅ وجود نه لری. په نړی کی یو ربښتینی خدی ، یا قوت دی . پال ړړاندی وایی( تفسیر . ۶،۵ ):-

"کیدی شی چی داسی څه د خدی په نوم یاولی شی ... کیدی شی چی زیات خدایان او مالکان به وی [ لکه څنګه چی نن خلق په مختلف قسمه ډیرو خدایانو باندی عقیده لری - دیو پلید روح دا کار دی ته خپل کار د لاسه ورکړی، او بل ستا ښځه مجبوره کړی چی تا پریګدی ، دغه ډول نو شیان] ) خو څمونږ د (سمو عقیده لرونکو) لپاره فقط یو خدی وجود لری ، د چا پلار چی هر څه دی ( دوانړه ښه او خراب ، لکه څنګه چی موږ په وړاندینی مراجعو کی اولیدل)".

که موږه زړی وصیت نامی ته راستن شو، نو هغلته ددی خبری زیات ثبوت لاس ته راوړلی کیدی شی چی په پلیدو روحونو او "بتانو" کی کوم فرق نیشته . د زړی وصیت نامی په یونانی تفسیر ( سیپتاواګینت ) تورات کی . ۳۲:۱۷ او روحانی سرود کی . ۱۰۶:۳۷ د بتانو لپاره لفظ 'ډیمونین

استعمال شوی دی؛ هم دغه هغه لفظ دی چی په نوی وصیت نامه کی د "پلید روح" په نوم ترجمه شوی دی. په روحانی سرود ۱۰۶: ۳۶ - ۳۹ کی د اسرایلو د غلطو او کنعان د بتانو او پلیدو روحونو د شباهت په حقله توضیح ورکوی:-

"هغوی ( اسرایلو ) د خپلو بتانو خدمت کولو ، دغه د هغوی لپاره یو دام وو. او هغوی خپل ځامن او لونړی پلیدو روحونو ته قربانی کول، او معصومه وینه به یی بیوله ، حتی د خپلو لونړو او ځامنو وینه به یی د کنعان بتانو ته قربانی کوله"

د نوی وصیت نامی پلید روحونه

خو تاسو داویلی شی ، چی د هغه ټولو عبارتونو په حقله څه فکر کوی په کومو کی چی په واضحه توګه د پلیدو روحونو ذکر شوی دی؟"

په یو شی باندی باید چی ځمونږ ذهن روخانه وی: بایبل خپل ځان نه رده وی، دا د قادرمطلق خدی لفظ دی. کله چی مونږ ته په واضحه توګه دا ویلی شوی دی چی خدی ځمونږ د ستونځو منبع ده او هغه د ټول قوت سر چشمه ده ، نو بیا دا ډول بایبل مونږ ته دا نه شی ویلی چی بتان - د خدی مخالف کوچنی بتان ځمونږ د ستونځو مسٔولیت لری.دا خبره ډیره مهمه ده چی لفظ "پلید روحونه" فقط دوه ځله په زړه وصیت نامه کی تکرار شوی دی او همیش د بتانو په پرستش باندی رڼا اچوی، خو دا ډیر ځله د بایبل په ثبت کی تکرار شوی دی. مونږ ددی وجه داسی پیشنهاد کوو ، کله چی انجیل لیکلی شوی وو ، په هغه وخت کی دا د خلقو عادت جوړ شوی وو چی په کوم مرض به نه پوهیدل هغه به یی د پلیدو روحونو کار منلو. که چری بد روحونو په واقعت سره وجود لری او ځمونږ د ستونځو او مرضونو ذمه وار دی ، نو مونږ کولی شو چی د هغوی په حقله زیات مواد په زړه وصیت نامه کی ولولو. خو مونږ به یی هغلته ددی مفهوم د حوالی سره نه لولو.

داویل چی د چا څخه یی پلید روحونه اوشړل ددی مطلب دا وو چی د هغوی د ذهنی مرض علاج یی او کړو ، یا د یو داسی مرض علاج یی او کړلو په کوم چی هغه وخت خلق نه پوهیدل. په اولنی صدی کی خلقو داسی یو تمایل لرلو چی په کوم شی به نه پوهیدل د هغی الزام به یی په 'پلیدو' روحونو لګول. د کومی سطح طبی علم چی هغه وخت خلقو لرلو د هغوی لپاره ډیره ګرانه وه چی په ذهنی مرضونو پوهه شوی وی، هغه څوک چی په ذهنی مرض کی به مبتلا وو د هغوی متعلق به یی داویل چی هغوی د پلیدو روحونو په تصرف کی دی. د زړی وصیت نامه په دور کی به یی مصیبتی ذهنی حالت د بدی او ناپاکی په نوم سره یادولو. ( یهودیت ۹ :۲۳؛ ۱ سمویل ۱۶ :۱۴؛ ۱۸ :۱۰ ). د نوی وصیت نامی په دور کی دا قسمه اصطلاحات لکه بدو روحونه / د پلید وروحونو تصرف د هغه چا په حقله په استعمال کی راوستلی شو څوک چی به ذهنی مریضان وو. د مرض او پلیدو روحونو تر مینځه وابستګی یی په دا ډول ښودلی ده: په زیاد تعداد کی یی هغه ته ( عیسی علیه اسلام)ته هغه څوک راوستل څوک چی د پلیدو روحونو په تصرف کی وو: او هغه د خپلو الفاظو په زور د هغوی څخه پلیهد روحونه شړل ... او ددغه خبری تصدیق (په زړه وصیت نامه کی)د پیغمبر اشعیاء بن اسرایل د هغه وینا سره کیږی په کومه کی چی هغه وایی ، هغه په خپله ځمونږه ناتوانی یی واخیستی او ځمونږه مرضونه یی ښکاره کړل " ( متی ۸ :۱۶ ، ۱۷ ). دغه ډول انسانی ناتوانی او مرضونه د



'پلیدو روحونو' د تصرف شکل لری . کوم خلق چی به د "پلیدو روحونو په تصرف " کی وو د علاج کیدنی په حالت کی به د دغوی متعلق ویلی کیدل چی د هغوی ذهن نارمل حالت ته راغی - مارک ۵ :۱۵ ؛ لوقا ۸ :۳۵. ددی مفهوم دادی چی د ذهنی مرض لرونکو په حقله به ډول ویلی کیدلچی چی دغه نفر د "پلیدو روحونو په قابو کی" دی- یعنی دا چی د هغه ذهنی حالت ښه نه دی. هغه څوک چی د "پلیدو روحونو په قابو " کی وو د هغه "علاج " یا "شفا " اوشوه - متی ۴ :۲۴، ۱۲ :۲۲؛ ۱۷ :۱۸ - اشاره کوی چی د پلیدو روحونو تصرف د مرض د توضیح کونی یوه بله لاروه.

**۲ مطالعه :سوالونه**

۱ . ځمونږ د ستونځو او امتحانونو حتمی ذمه وار څوک دی؟
ا) خدی
ب) اتفاق
پ) د شیطان په نوم یادونکی ګناه ګار
ت)د پلیدو روحونو په نوم یادونکی ګناهګار

خدی او بد ۱۹۲
.څه شی مونږ ته د گناه کولو فریب راکوی؟
ا)محمونږه خپل انسانی طبیعت
ب) خدی
پ) مضر روحونه
ت) د شیطان په نوم یادونکی گناه گار

۳. د لفظ " پلید روح " څه معنی ده؟
ا) گناه
ب) ابلیس
پ) دروغجن تهمت لگونکی/ مفتری
ت) شیطان

۴. د لفظ " شیطان" څه معنی ده؟
ا) یو گناهگار　　ب) دشمن
پ) حیوان　　ث) د پلیدو روحونو بادشاه

۵. په مجازی توگه 'شیطان' او 'پلید روح' کوم شی ته مراجعه کوی؟
ا) گناه او فریب
ب)مضر قوت په بیرونی فضا کی
پ) اژدهه

۶. تاسو څه فکر کوی چی په نوی وصیت نامه کی 'پلیدو روحونو' ته څنگه مراجعه شوی ده؟
ا) گناه گاری فرشتی
ب) مرض
پ)په حاضر وخت کی چی د مرض لپاره کوم اصطلاحات استعمالیگی ، د کومی په حقله چی خلق فکر کوی چی د 'پلیدو روحونو' نتیجه ده
ت) روحانی وجودونه

## ۷.۱ په زړه وصیت نامه کی د عیسی علیه اسلام په حقله پیشګویی

۳ مطالعه په دی خبره رڼا اچوی چی څنګه د خدی د مقصد لاندی عیسی علیه اسلام د انسان د نجات مرکز او ګرځیدو. هغه وعدی چی خدی د هواء ابراهیم علیه ا سلام، او داود علیه اسلام سره کړی وی دا خبره ثابته وی چی عیسی علیه اسلام د هغوی اولاد وو. په حقیقت کی ټوله زړه وصیت نامه مستقبل په ګوته کوی، او د عیسی علیه اسلام په حقله پیشګویی ورکوی. د موسی علیه اسلام هغه قوانین د کومو باید چی د عیسی علیه اسلام د راتګ څخه وړاندی اسرائیلو تابعداری کړی وی په ثابت قدمی سره عیسی علیه اسلام ته اشاره کوی: " ددغه قوانینو مثال د مکتب د معلم په شانتی وو چا چی مونږ عیسی علیه اسلام ته راوستلو" ( د ګلیت او سیدونکی. ۲۴:۳) . کله چی د ضیافت وخت رانژدی شی نو په دغه وخت کی باید چی په درست حالت کی ګډ حلال کړی شی (مهاجرت ۱۲:۳- ۲)؛ دا د عیسی علیه اسلام د قربانی نمایندګی کوی " د خدی هغه ګډ چا چی د نړی ګنا هونه یوړل" (یوحنا ۱:۲۹؛ ۱ د کورینت او سیدونکی. ۵:۷). د عیبه څخه پاکه شرط چی ضروری وو د ټولو څناورود قربانو لپاره د عیسی علیه اسلام درست شخصیت طرف ته اشاره کوی (مهاجرت. ۱۲:۵ مقایسه. ۱ پطرس ۱:۱۹).

په ټول روحانی سرود کی او په هغه پیشګویو کی کومی چی پیغمبرانو په زړه وصیت نامه کی کړی وی دا خبره په ګوته کړی شوی وه چی عیسی علیه اسلام به څه رنګه وی. دا چی عیسی علیه اسلام به څنګه مری په دی خبره په مخصوصه توګه رڼا اچولی شوی ده. د عیسی علیه اسلام د مرګ په حقله د پیشګویانه نظریاتو څخه انکار کونه فقط یوه وجه لرلی شی او هغه دا چی هغوی دغه نظریاتو ته توجه نه ورکوی، ددغی څخه یو څو وړاندی کوو:-

| د زړی وصیت نامی پیغمبری | په عیسی علیه اسلام سر ته رسونه |
|---|---|
| " څما خدایا، څما خدایا، تا ولی زه رها کړم | هم دغه په صلیب باندی د عیسی علیه اسلام الفاظوو |
| "زه به خلقو تحقیرولم .هغه ټولو چا چی به زه لیدلم هغوی به زه تحقیرولم: هغوی به ددی وینا سره سر خوزولو، هغه مالک باندی د نجات عقیده لری : پریګدی چی نجات ورله ورکړی"(روحانی سرود . ۲۲:۶ - ۸). | اسرایلو به په عیسی علیه اسلام پوری خاندل او مسخری به یی ورپوری کولی (لوقا۲۳:۳۵؛ ۸:۵۳)؛ هغوی به خپل سر خوزولو او ویل به یی (متی .۲۷:۳۹)، دا دی هغه چی په صلیب باندی زوړند وو(متی ۲۷:۴۳). |
| " څما ژبه څما په زامو پوری اونخته څما په جنپو اولاسونو کی یی سوری او کړل"(روحانی سرود . ۲۲:۱۵،۱۶). | دا د عیسی علیه اسلام سره هغه وخت اوشول کله چی هغه ډیر تګی شو (یوحنا ۱۹:۲۸). په خپو او لاسونو کی سوری په دار باندی د ځړونی ددی په حقله پوره معلومات په |
| هغوی څما کالی په خپل منځ کی تقسیم کړل | |

| | |
|---|---|
| او څما په کالوبی توکل | په متی ۳۵:۲۷کی لاس ته راوړل کیدی شی. |

دا خبره یاد اوساتی چی د روحانی سرود ۲۲:۲۲هغه برخی بی نقل کړی دی کومی چی په عبرانی ژبه کی په ۱۲:۲ سره تعلق لری.

| | |
|---|---|
| "زه خپلو رونړو ته بیگانه شوم،او زه د خپلی مور د بچو لپاره پردی یم. ستا د کور لپاره شوق زه او خوړم"(روحانی سرود. ۹،۸:۶۹). | دا به د عیسی علیه اسلام د بیگانگی په هغه احساساتو باندی رڼا واچوی کوم چی هغه د خپلو وورونړو او فامیل په حقله لرل(یوحنا ۷:۳ - ۵،متی. ۱۲: ۴۷ - ۴۹). دا په یوحنا ۲:۱۷ کی نقل شوی دی |
| هغوی څما غوښی ته هم زهر ورکړل؛او څما د تندی په حالت کی بی ما ته د څکلو لپاره سرکه راکړله"(روحانی سرود. ۶۹ :۲۱). | دا عمل هغه وخت سر ته رسولی کیدو کله چی عیسی علیه اسلام په صلیب باندی وو(متی.۲۷:۳۴). |

ټول اشعیاء بن اسرایل ۵۳ د عیسی علیه اسلام د مرگ او بیا راژوندی کیدنی ، په حقله د پاملرنی وړه پیغمبری ده ، ددغی هر شعر د غلطی څخه پرته تکمیل ته رسیدلی. ددغی څخه فقط دوه مثالونه ورکوو:-

| | |
|---|---|
| لکه څنگه چی پسه د خپل سکولونکی وړاندی خاموشه وی ، هم دغه ډول عیسی علیه اسلام خاموشه پاتی شو"(اشعیاء بن اسرایل. ۵۳:۷). | عیسی علیه اسلام ، د خدی پسه ، د خپل امتحان په وخت کی خاموشه پاتی شو" (متی. ۲۷:۱۲،۱۴). |
| هغه خپل قبر د بدکارو او مالدارو سره جوړ کړو کله چی هغه مړ شو" (اشعیاء بن اسرایل. ۵۳:۹) | عیسی علیه اسلام د بدکاره جنایت کارو په صلیب باندی وژلی شوی وو(متی.۲۷: ۳۶)، خو د مالدار سړی په گور کی ښخ کړی شوی وو(متی.۲۷:۵۷ - ۶۰). |

دا کمه د تعجب خبره ده چی نوی وصیت نامه مونږ ته دا خبره په یاد راولی چی د زړی وصیت نامی " قانون او پیغمبران" د عیسی علیه اسلام په اړ کی څمونږه اساس دی( اعمال ۲۶:۲۲؛ ۲۸ :۲۳؛ رومیان. ۱:۲،۳؛ ۱۶ :۲۵،۲۶). حضرت عیسی علیه اسلام ددی اخطار ورکړی وو چی په "موسی علیه اسلام او پیغمبرانو " باندی په سمه توگه د نه پوهیدنی په حالت کی مونږ نه شو کولی چی په هغه باندی پوهه شو( لوقا ۱۶ :۳۱؛ یوحنا ۵:۴۶،۴۷).

دا چی د موسی علیه اسلام قانون په مستقبل کی عیسی علیه ا سلام ته اشاره کوله ،او هغه پیشگویی چی د هغه په حقله شوی دی ، دغه به ددی خبری پوره ثبوت وی چی عیسی علیه ا سلام د پیدایش څخه وړاندی په جسمانی توگه ژوندی نه وو. د عیسی علیه اسلام په حقله دا غلطه عقیده چی هغه د پیدایش څخه وړاندی وجود لرلو هغه تکرار شوی وعدی بی معنی کوی په کومو کی چی هغه د هوا ، ابراهیم ، او داود د تخم ( اولاد)په توگه یاد کړی شوی دی. که هغه ددی وعدو په وخت کی د

مخکی شخه په جنت کی ژوندی وو ،نو په هغه حالت کی به خدی غلط وو کله چی هغه دغی خلقو ته مسیح موعود د راتگ وعده ورکوله. د عیسی علیه اسلام شجره کومه چی په متی. ۱ او لوقا ۳ کی ثبت شوی ده دا خبره په گوته کوی چی څنگه د هغه ریښه شا ته دغی خلقو سره تړون لری د چا سره چی وعدی شوی وی.

هغه وعده چی د داود علیه اسلام سره د عیسی علیه اسلام په حقله شوی وه ددی خبری اجازه نه ورکوی چی د وعدی " کولو په وخت کی عیسی علیه اسلام په جسمانی توگه ژوندی وو: " زه به ستا شخه پس ستا تخم له ځای ورکړم ، کوم چی به ستا دداخل شخه وی ... زه به د هغه پلار یم ، او هغه به ځما زوی وی" ( ۲ سمویل. ۷:۱۲، ۱۴) . یاد اوسائی چی دلته فعل مستقبل استعمال شوی دی. لکه څنگه چی ښکاری چی د عیسی علیه اسلام پلار به خدی وی ، دا ناممکنه ده چی په هغه نقطه د خدی زوی وجود لرلو کله چی هغه وعده کوله. دا چی دغه تخم به " ستا د داخل شخه حرکت کوی" دا په گوته کوی چی هغه به دداود علیه اسلام واقعی، جسمانی اولاد وی. "مالک په ریښتیا باندی دا قسم خوړلی وو ... چی د هغه د وجود دثمر شخه به تخت ودانوم"( روحانی سرود ۱۳۲:۱۱).

سلیمان د د غی وعدی ابتدای تکمیل وو، خو لکه څنگه چی هغه د وعدی په وخت کی د مخکی شخه موجودوو،( ۲سمویل.۵:۱۴) د داود علیو اسلام سره چی کومه وعده شوی وه د هغی مهم تکمیل به دجسمانی اولاد په نتیجه کی سر ته رسیدو کوم چی به د خدی زوی وی ، دغه فقط حضرت عیسی علیه اسلا م ته اشاره کوی( لوقا ۱:۳۱ - ۳۳). زه به د داود علیه اسلام شخه د هغه صحیح ځانگه راپورته کړم "
( یروشلیم ۵:۲۳) (یروشلیم. ۵:۲۳) یعنی مسیح موعود.

په عیسی علیه اسلام پوری تعلق لرونکی نورو پیشگویو کی هم دغه ډول د مستقبل فعل استعمال شوی دی . " زه به د موسی علیه اسلام په شان( اسرایل) پیغمبر راپورته کړم (موسی علیه اسلام)" په اعمالو ۳:۲۲،۲۳، کی تورات نقل (تورات .۱۸:۱۸ )شوی دی ، کوم چی د "پیغمبر" په توگه په عیسی علیه اسلام باندی رڼا اچوی. " پاکدامنه (مریم) به حامله کیږی ، او بچی به یی پیداکیږی ، او هغه له به د ایمینویل نوم ورکوی"( اشعیاء بن اسرایل ۷:۱۴). دا په واضحه توگه د عیسی علیه اسلام د پیدایش سره تکمیل ته اورسیدله ( متی . ۱:۲۳).

### پاکدامنه تولد ۲.۷

د عیسی علیه اسلام د حاملگی او پیدایش ثبت دی نظریی ته اجازه نه ورکوی چی هغه په جسمانی توگه د وړاندی شخه ژوندی وو. هغه څوک چی د "سگانگی" په غلطه نظریه ولاړ دی ، دی نتیجی ته رسیدلی دی چی په یو وخت کی په جنت کی دری نفر وو، او په هغی کی یو غایب شو او په څه طریقه په جنینی انداز کی د مریم په رحم کی ورننوتلو، فقط دوه یی په جنت کی پریښودل. په مقدسو کتابونو

کی مونږ لیدلی دی چی څه چی وجود لري، چی په هغې کی د خدی وجود هم شامل دی په طبیعی توګه جسمانی وجود لري.

له دی کبله مونږه بی فقط ددی یوی نتیجی په سهاره پریښودی یو چی د "وړاندی څخه د وجود لرنی" په حالت کی عیسی علیه اسلام په جسمانی توګه د جنت څخه راغلی او د مریم په رحم کی ورننوتو. دا ټول کړ کیچن دینیات د مقدسو کتابونو د تعلیماتو څخه هیڅ تعلق نه لري. هغه به عظیم وی، او هغه ته به د ټولو څخه لوړ زوی ویلی کیږی... او بیا مریم فرشتو ته اوویل، دا به څنګه کیږی،سکاری داسی چی زه خو سړی نه پیژنم؟( یعنی داچی هغه پاکدامنه وه). او فرشتو جواب ورکړو او هغې ته یې اوویل، چی پاک روح به ستا طرف ته راشی او د ټولو څخه په لوړه سطح به تا په خپل حفاظت کی واخلی:او هغه پاک شی چی ستا څخه به پیدا کیږی هغه ته به د خدی زوی ویلی کېږی."(لوقا ۱:۳۱-۳۵).په دی خبره دوه ځله زور ورکړی شوی دی چی عیسی علیه اسلام به د پیدایش د وخت څخه د خدی د زوی په نوم یادیګی؛ ددی څخه دا واضحیګی چی د خدی زوی دهغه د پیدایش څخه وړاندی وجود نه لرلو. یو ځل بیا ددی خبر ی ضرورت دی چی دمستقبل فعل په نظر کی اوساتلی شی یعنی دا "چی هغه به عظیم وی". که چری عیسی علیه اسلام د وړاندی څخه په جسمانی توګه وجود لرلو لکه څنګه چی فرشتی دغه الفاظ مریم ته ویلی وو، نو په هغه حالت کی به هغه د وړاندی څخه عظیم وو. حضرت عیسی علیه اسلام دداود علیه اسلام فرزندوو (وحی.۲۲:۱۶)، یونانی 'جینس'(Genos) ته اشاره کوی چی عیسی علیه اسلام دداود علیه اسلام اولادوو.

## د عیسی علیه اسلام حاملګی

د پاک روح د لاری (دخدی نفس/طاقت)په هغې باندی فعالیت کولو، مریم یې له کوم مراقبته ددی جوګه وو چی حامله شي. یوسف د عیسی علیه اسلام ریښتینی پلار نه وو. په دی خبره باید چی پوهه یو چی پاک روح تفر نه دی( ۲ مطالعه اوګوری)؛ عیسی علیه اسلام د خدی زوی وو، نه چی د پاک روح. په مریم باندی د پاک روح د استعمال د لاری، "په دی وجه هغه پاک شی" کوم چی د هغې څخه پیدا شوی وو" د خدی په نوم یادیدلو"(لوقا ۱:۳۵). د لفظ "په دی وجه" استعمال ددی خبری اشاره کوی چی بی له پاک روحه چی د مریم په رحم یې کار کولو، عیسی علیه سلام د خدی زوی، دا امکان نه لرلو چی پیدا شوی وی.

دا چی مریم په عیسی علیه اسلام باندی حامله شوه (لوقا ۱:۳۱) هم ددی ثبوت دی چی هغه په جسمانی توګه وړاندی وجود نه لرلو. که مونږه د کومی نظریې "تصور" لرو، نو د هغې اغاز ځمونږ څخه کیږی. هم دغه ډول عیسی علیه اسلام د مریم په رحم کی مینځ ته راغلی وو، هغه د نورو انسانانو په شان دغلته د رویان په ډول اغاز اوکړو. یو حنا۳:۱۶ چاچی د انجیل د ټو لو څخه مقبول شعر ثبت کړی دی، وایی چی عیسی علیه اسلام د خدی "واحد تولید کړی شوی" زوی وو. ملیون خلق کوم چی دا شعرتکراره وی هغوی د عبادت په حالت کی د هغې په اصلی مقصد نه پوهیګی. کله چی دعیسی علیه اسلام" تولد" اوشو هغه دغه 'اغاز' هغه وخت اوکړو ( د تولد سره تعلق لرونکی لفظ) کله چی هغه د مریم په رحم کی مینځ ته راغی. کله چی عیسی علیه اسلام د خدی د زوی په حیث تولید کړی شو، داددی خبری واضح ثبوت دی چی د هغه پلار د هغه څخه مشر دی، د خدی هیڅ اغاز نیشته دی (ورحانی مرود.۹۰:۲)او له دی کبله عیسی علیه اسلام په خپله خدی نه شی کیدی ( ۸ مطالعه دانقطه توضیح کوی).

دا ډیره مهمه ده چی د عیسی علیه اسلام "تولد" د خدی د زوی په حیث شوی وو، نه چی د هغه دتحلیق په شان څنګه چی ادم پیدا کړی شوی وو. دخدی له طرفه د عیسی علیه اسلام سره د هغه په نژدی والی باندی رڼا اچوی ـ"خدی په عیسی علیه اسلام کی وو ، ددغی لاری بی غوښتل بی چی نړی په خپل ځان کی تصفیه کړی" ( د کورینت او سیدونکی .۵:۱۹ ). د عیسی علیه اسلام تولدنه چی د ګرد څخه بلکه د خدی څخه شوی وو، دا چی خدی د هغه پلار دی دغه طبعی تمایل په دغه لارو باندی رڼا اچوی.

دا چی عیسی علیه اسلام د دی نړی رڼا ده په دغه حقله په اشعیا ء بن اسرایل ۴۹:۵،۶ کی پیشګویی شته دی ، دغه کار هغه سر ته اورسولو(یوحنا ۸:۱۲ ). د چا چی هغه عبادت کولو د هغه په حقله هغه وایی " مالک زه د نوکر په حیث په رحم کی جوړ کړم". له دی کبله د روحانی قوت د لاری خدی عیسی علیه اسلام د مریم په رحم کی "تشکیل" کړو.د مریم رحم د عیسی علیه اسلام د جسمانی پیدایش ځای وو .

مونږه په مطالعه ۷. ۱ کی په صلیب باندی د عیسی علیه اسلام د فکرونو پیشګوی روحانی سرود ۲۲ اولید لو. هغه وایی چی خدی " زه د رحم څخه راویستم ... زه یی په تاسو باندی د رحم څخه راغورزولم: ته ځما د مور د رحم څخه ځما خدی یی" (روحانی سرود .۲۲:۹،۱۰ ). د مرګ په وخت کی عیسی علیه اسلام په خپل پیدایش باندی شا ته نظر واچولو ـ د خپلی مورمریم په رحم کی ، کوم ځای کی چی هغه د خدی په قوت سره مینځ ته راغلی وو. په خپله په انجیل کی د مور په حیث په مریم باندی د عیسی علیه اسلام رڼا اچونه دا نظریه د مینځه وړی چی عیسی علیه اسلام د پیدایش څخه وړاندی وجود لرلو.

مریم د یو عام انسان په حیث وجود لرلو ، هغه د عامو انسانانو اولاد وه.دا ددی خبری څخه ثابتیګی چی باپټیسټ یوحنا دهغی د ترېور اولاد وو ، څوک چی یو عام انسان وو(لوقا ۱:۳۶). د رومن کیتهولیکو دا نظریه چی مریم د عامو انسانانو په ډول طبیعت نه لرلو ددی مطلب دا دی چی عیسی علیه اسلام د دوانړو نه د " انسان زوی "او نه د" خدی زوی" کیدی شی.په ټوله نوی وصیت نامه کی د هغه لقبونه دا دی. هغه د "انسان زوی" وو څکه چی د هغه مور په کُلی توګه انسان وو ، او هغه د "خدی زوی"وو ځکه چی د خدی روح په مریم باندی فعالیت کړی وو( لوقا ۱:۳۵)،ددی مطلب دا دی چی خدی د عیسی علیه اسلام پلار وو.دا ښکلی ترتیب د مینځه څخه ځی که چری مریم یوعام انسان نه وی. " څوک کولی شی چی دناپاکه شی څخه پاک شیان مینځ ته راوړی ؟ نه هغه ... څوک چی د انسان په نوم یادیګی ، نو هغه دی پاک وی ؟او هغه څوک چی د ښځی څخه پیدا وی نو هغه دی پاک وی ؟ هغه څنګه پرهیز ګار کیدی شی کله چی هغه د ښځی څخه پیدا وی؟( یعقوب ۱۴:۴؛۱۵:۱۴؛ ۲۵:۴). "دا دری نظریی چی په معصومه حاملګی پوری امکان لری دا د دی تلافی کوی ، ددوانړو په حالت کی د عیسی علیه اسلام یا د مریم په حالت کی .

مریم چی د کومی ښځی څخه پیدا شوی وه دهغی مور اوپلار عام انسانان وو، هغوی هم باید چی ځموږ په شان ناپاکه انسانی طبیعت لرلو ، کوم چی هغی په میراث کی عیسی علیه اسلام ته ورکړیوو ، څوک چی د " ښځی څخه پیدا "وو( د ګلیت او سیدونکی . ۴:۴). د هغه ژبه هم د مریم په وساطت سره جوړه شوی وه دغه یو بل شهادت دی ددی خبری چی هغه به په جسمانی توګه وجود نه لرلو که چری هغه د مریم څخه نه وی پیدا شوی . د ګلیت او سیدونکی ۴:۴ کی ډلیګلوټ رابه ورکوی " د ښځی څخه پیدا شوی وو".

د انجیل ثبت په تکرار سره د مریم انسانیت ته اشاره کوی. د روحانی ادراک د کمی په وجه عیسی علیه اسلام خپله مور کم ا زکم دری ځله ملامته کړی وه ( لوقا۲:۴۹)؛ یوحنا ۲:۴)؛ د نه موافقت په وجه هغی نه شو کولی چی د هغه په ټولو خبرو پوهه شوی وی (لوقا ۲:۵۰) . کومه ښځه چی د عام طبیعت مالکه وه د هغی څخه یقیناً چی مو نږ دا ټول تو قعو کولی شو ، د چا زوی چی د خدی زوی وواو له دی کبله د هغی په مقابل کی عیسی علیه اسلام د زیات روحانی ادراک خاوند وو اګر چی هغی هم په انسانی طبیعت کی برخه لرله. د عیسی علیه اسلام د پیدایش څخه وروستو یوسف ورسره مقاربت لرلو( متی ۱:۲۵) ددی فکر کونی هیڅ علت نیشته دی چی ګنی هغوی د عیسی علیه اسلام د پیدایش څخه وروستو عادی اذدواجی ژوند نه شو تیرولو .
په متی ۱۲:۴۶،۴۷ کی د عیسی علیه اسلام د "مور او ورور" حواله دا خبره په ګوته کوی چی دعیسی علیه اسلام څخه پرته د مریم نور اولاد هم وو. عیسی علیه اسلام "فقط اول تولید" شوی وو. د کیتهولیکو دا تعلیمات چی مریم پاکدامنه وو او جنت ته واستولی شوه په انجیل کی ددی خبری هیڅ قسمه تاید نیشته دی. لکه ځنګه چی هغه د فانی طبیعت انسان وو ، مریم زړه شوله او مړه شوله ؛ ددی څخه پرته په یوحنا ۳:۱۳ کی مونږ لولوچی ، " یو انسان هم تر دی وخته پوری جنت ته نه دی استولی شوی " . دا حقیقت چی عیسی علیه اسلام انسانی طبیعت لرلو (عبرانی ژبه ۲:۱۴_۱۸ ؛رومیان ۸:۳ اولولی)ددی مطلب دا دی چی د هغه مورهم باید چی انسانی طبیعت لرلی ، ځنګه چی ښکاری د هغه پلار نه لرلو.

## د خدی په برنامه کی د عیسی علیه اسلام ځای ۳.۷

خدی د خپلو برنامو په حقله په تیزی سره د اضافی برخو لپاره پریکړی نه کوی،لکه ځنګه چی انسان قدم په قدم د خپل تاریخ په حقله معلومات لاس ته راوړی. د خدی سره بوه کامله برنامه ده او د تخلیق د اغاز څخه سرته رسولی شوی ده( یوحنا ۱:۱). د زوی لرنی هواهش د هغه په برنامه کی د اغاز سره موجود وو. ټوله زړه وصیت نامه د عیسی علیه اسلام د لاری دنجات په حقله د خدی د برنامی په مختلفو اړخونو باندی رڼا اچوی .
مونږ په تکرار سره دی خبری ته اشاره کړی وه چی د وعدو د لاری ، د پیغمبرانو د پیشګویو د لاری، او د موسی علیه اسلام د قوانینود قسمونو د لاری ، په زړه وصیت نامه کی په ثابت قدمی سره د عیسی علیه اسلام د لاری خدی خپل مقاصد الهام کړی دی. دا علم د خدی سره وو چی خدی به زوی لری او هغه بی پیدا کړو (عبرانی ژبه ۱:۱،۲ یونانی متن). دا د عیسی علیه اسلام برکت ووچی خدی انسانی وجود ته اجازه د عمرونو اجازه ورکړی وو( عبرانی ۱:۲(یونانی). د خدی الهامونه په ډیرو کلونو کی انسان ته راستولی شوی دی، لکه ځنګه چی په زړه وصیت نامه کی ثبت شوی دی ، د عیسی علیه اسلام د حوالو څخه ډکه ده.

د خدی وړاندی د عیسی علیه اسلام برتری او د هغه په ستر او اساسی اهمیت باندی پوهیدنه ځمونږ لپاره ډیره ګرانه ده. په دی وجه دا خبره کول ریښتیا دی چی عیسی علیه اسلام او مقصد د اغاز څخه د خدی په ذهن کی وو ، اګر چی هغه فقط په جسمانی توګه هغه وخت په وجود کی راغی کله چی د مریم څخه پیدا شو.(عبرانی ژبه ۱:۴ - ۷،۱۳،۱۴ په دی خبره زور اچوی چی عیسی علیه اسلام بوه فرشته وه؛ خو په خپل فانی ژوند کی د فرشتو څخه کم وو( عبرانی ژبه۲:۷)، لکه ځنګه چی ښکاری د هغوی په مقابل کی بی ورته ډیر لوی عظمت ورکړو دی د"*خدی واحد تولد وو*"(یوحنا ۳:۱۶).
مونږه مخکی دا خبره په ګوته کړی ده چی په مقد سو

کتابونو کی د وجود لرنی شکل په بدنی شکل کی دی ، په دی وجه عیسی علیه اسلام د خپل پیدایش څخه وړاندی د' روح' په شکل کی وجود نه لرولو. ۱ پطرس ۱:۲۰ په دی ډول خلاصه کوی : د عیسی علیه اسلام د "پیدایش په حقله پریکړه د نړی د جوړیدو څخه وړاندی شوی وه ، خو په دی باندی عمل په دی اخرو وختو کی او کړی شو".

حضرت عیسی علیه اسلام د انجیل اساسی نقطه وه ، د کومی په حقله چی خدی په مقدسو کتابونو کی د پیغمبرانو وړاندی وعده کړی وه ، دغه وعده د هغه د زوی د عیسی علیه اسلام څمونږ د مالک په حقله وه ، کومه چی د داود د تخم د لاری د وجود په شکل کی سر ته اورسولی شوه د (د تولد د لاری تخلیق)؛ او د تقوی د روح مطابق، د مړی څخه د بیا راژوندی کونی د لاری یی د خدی د نیرو مند زوی په حیث اعلان کړه"( رومیان. ۱:۴ - ۴).

دا د عیسی علیه اسلام تاریخ خلاصه کوی:-

۱ .ددی په حقله وعده په زړه وصیت نامه کی شوی وه یعنی د خدی په برنامو کی؛

۲ .د پاکدامنه څیگیدنی د لاری د جسمانی نفر په توگه تخلیق کړی شو ، د داود علیه اسلام د تخم په توگه؛

۳.دهغه د کامله نیک نامی په برکت (د تقوی روح") په فانی ژوند کی ښودلی شوی دی.

۴. هغه بیا راژوندی کړی شو او د پیغمبرانو د روحانی تبلیغاتی د هدیو د لاری یو ځل بیا د خلقو وړاندی د خدی د زوی په حیث اعلان کړی شو.

**د مستقبل په حقله د خدی علم**

که څمونږ سره دا خبره اومنلی شی چی څومره په کامله توگه عیسی علیه اسلام د خدی په ذهن کی وو کله چی هغه په جسمانی توگه وجود نه لرلو ، نو دا به څمونږ سره ډیر کمک وی، که چری مونږ دا خبره اومنو چی هر هغه کار چی په مستقبل کی کیږی خدی د هغی په حقله علم لری ؛ یعنی هغه د مستقبل په حقله کامل علم لری. له دی کبله هغه شیان کوم چی وجود نه لری یا کوم چی موجود وی په دوائرو حالاتو کی خدی د هغوی په حقله خبری اوفکر کولی شی. دا ډول د مستقبل په حقله د هغه د کلی علم حالت دی. خدی
" د وجود لرونکو او نه وجود لرونکو شیانو دوائرو په حقله خبری کولی"( رومیان. ۴:۱۷ ). له دی کبله خدی د " اغاز څخه تر اخره پوری ، او هغه شیان چی د قدیم وخت څخه تر دی وخته پوری نه دی شوی بوایی چی ، څما مشاورت به انتظام او کړی ، او زه به خپل ټول لذتوته سر ته اورسوم"( اشعیاء بن اسرایل. ۴۶:۱۰ ). له دی کبله ، خدی دمړو په حقله خبری کولی شی کله چی هغوی ژوندی وی، او که څوک د څیگیدنی څخه وړاندی ژوندی وو د هغوی په حقله خبری کولی شی.

"مشاورت" یا د خدی لفظ د اغاز څخه د عیسی علیه اسلام په حقله پیشگویی کولی؛ عیسی علیه اسلام همیشه د هغه په مقصد یا په "

لذت" کی وو. له دی کبله دا خبره یقینی وه چی په یو وخت کی به عیسی علیه اسلام په جسمانی توگه پیدا کړی؛ دغه ټول خدی به د عیسی علیه اسلام د لاری خپل بیان کړی شوی مقصد په پوره ټول سر ته اورسوی. د مستقبل په حقله د خدی علم بی شکه د هغه په قوی الفاظو کی ښکاره کیږی. د انجیل عبرانی ژبه درستی پیشگویانه' جملی لری، هغه وعدی چی خدی په مستقبل کی سر ته رسول غواړی د هغی په حقله فعل ماضی استعمالوی. دا ټول داود ویل، "دا د مالک خدی کور دی"( ا تاریخچه . ۲۲:۱)، کله چی تر دغه وخته پوری د پرستشگاه وعده فقط خدی کړی وه. د وعدی په دغه لفظ باندی دداود علیه اسلام د عقیدی دا حال وو چی هغه د فعل حال د استعمال د لاری مستقبل توضیح کولو. د مستقبل په حقله د خدی د علم د مثالونو څخه مقدس کتابونه ډک دی.

خدی د ابراهیم علیه اسلام سره د وعدو پوره کولو په حقله دومره یقینی وو، چی هغه ابراهیم علیه اسلام ته اوویل: " دا ځمکه ما ستا تخم له ورکړی ده..." (پیدایش ۱۵:۱۸) دا یی ورته هغه وخت ویل کله چی د ابراهیم علیه اسلام هیڅ اولاد نه وو. په دغه دوران کی د تخم څخه وړاندی (عیسی علیه اسلام/ اسحاق)پیدا شو ، خدی نوری وعدی او کړی :" ته ما د ډیرو قومونوپلار جوړ کړی " ( پیدایش ۱۷. ۱۵:). په ریښتیا سره خدی به د هغه شیانو ذکر کولو کوم چی موجود نه وو خو په مستقبل کی به مینځ ته راتلل". عیسی علیه اسلام د خپل مذهبی مشری په وخت کی اوویل چی څنگه خدی "هر څه د هغه په لاس کی ورکړی دی ( د عیسی علیه اسلام ) په لاسو کی " ( یوحنا ۳:۳۵)، اگر چی دا په هغه وخت کی داسی نه وه. "اگر چی هر څه د هغه د خپو لاندی وو...خو مونږه اوس لیدی شو چی تر دی وخته پوری ټول شیان د هغه د لاندی نه دی " ( عبرانی ژبه . ۲:۸).

خدی د عیسی علیه اسلام د لاری د نجات د بر نامی په حقله خبری کولی" د خپلو پیغمبرانو د خلی د لاری ، کوم چی د نړی د اغاز څخه وو ( لوقا ۱:۷۰). دا ځکه چی هغوی د خدی د برنامو سره دومره وابستگی لرله ، دغه انسانان په دغه حقله دومره غړیدلی دی لکه چی هغوی په اغاز کی وجود لرلو ، اگر چی واضحه ده چی قضیه داسی نه ده. ددی په ځای، مونږ دا ویلی شو چی پیغمبران د اغاز سره د خدی په برنامه کی موجود وو. ارمیای نبی ددی یو ښکاره مثال دی . خدی هغه ته اویل :"په رحم کی دپیدا کولو څخه وړاندی ته ما پیژندلی؛ او ستا د پیدا کیدلو څخه مخکی ما تاته عظمت درکړو، او ما ستا د پیغمبری اعلان او کړلو" ( یروشلیم. ۱:۵). دا ټول خدی د ارمیا ی نبی په حقله د هغه د تخلیق څخه وړاندی ټول معلومات لرل. په دغه طرز خدی د فارس د بادشاه سایرس په حقله د هغه د پیدایش څخه وړاندی غړیدلی وو ، او هغه داسی ژبه استعمال کړی وه لکه هغه چی په هغه وخت کی وجود لرلو( اشعیاء بن اسرایل.۴۵: ۱ - ۵). عبرانی ژبه ۷:۹،۱۰ د چا د وجود لرنی په حقله د هغه د موجودیت څخه وړاندی دغه ټول ژبه استعمالول یو بل مثال دی.

لکه څنگه چی د خدی په برنامه کی د هغوی د مقام له برکته د ارمیای نبی او نورو پیغمبرانو په حقله حتی د هغوی دتخلیق څخه وړاندی دا ویل کیدل چی هغو ی وجود لری ، دغه ټول د ریښتینی عقیده لرونکو په حقله هغه وخت هم دا ویل کیدل چی هغوی وجود لری. دا ښکاره ده چی په هغه وخت کی مونږه په جسمانی توگه نه بلکه فقط د خدی په ذهن کی وجود لرلو. خدی "مونږه په خپل حفاظت کی ساتلو ، اومونږ ته یی د خپل مقصد او پرهیزگاری مطابق پاک اواز راکولو، دغه مونږ ته د نړی د اغاز څخه وړاندی د عیسی علیه اسلام په شکل کی راکړی شوی وو" (۲ تیمو تاوس . ۱:۹). د نړی د جوړیدو څخه وړاندی خدی مونږه د نجات ورکونکی عیسی علیه اسلام په مخ کی غوره کړو، ځمونږه سر نویشت یی د خپلی ارادی د ښه لذت مطابق وضع کړو" (د ایفیس اوسیدونکی. ۱:۴،۵).

خدی په پیل کی د افرادو د ټولی نظریی په حقله معلومات لرل ،او کوم چی د نجات لپاره غوره کړی شوی وو، ،ددی مطلب دا دی چی په اغاز کی خدی د هغوی په حقله معلومات لرل رومیان.
۸:۲۷؛۹:۲۳).

ددی هر څه په رڼا کی، دا د حیرانتیا خبره نه ده، چی عیسی علیه اسلام د خدی د مقصد په توګه، داسی یادیدی شی چی هغه د خدی په ذهن او برنامه کی د اغا زڅخه وجود لرلو، ګو چی په جسماني توګه داسی نه وه. هغه د" نړی د وجود د اغاز څخه د خدی مقتول پسه وو". (تفسیر. ۱۳:۸). په حقیقت کی عیسی علیه اسلام هغه وخت مړ نه شو؛ هغه د "خدی پسه" وو، ؛چا چی ۴۰۰۰ کاله وړاندی په صلیب باندی قرباني ورکړه( یوحنا ۱:۲۹؛ ۱ کورینت. ۵:۷). په کوم انداز کی چی د اغاز څخه عیسی علیه اسلام غوره کړی شوی وو( ۱ پطرس ۱:۲۰)، هم په دغه انداز کی معتقیدین انتخاب کړی شوی وو( د ایفس اوسیدونکی ۱:۴ په دغه شعرونو کی "انتخاب" کونی لپاره یو یوناني لفظ استعمال شوی دی). مونږ چی ددی په پوهید نه کی د کومو مشکلاتو څخه مخامخ یو د هغی وجه داده چی مونږ د وخت د مفهوم څخه د خدی د عمل په حقله هیڅ اسان تصور نه لرو . د وخت د محدودیت څخه پرته، دخدی د نقطه نظره په شیانو باندی د نظر اچونی لپاره عقیده یو قابلیت دی.

**۴.۷ "په اغاز کی لغت وو"،**

**یوحنا ۱:۱_۳.**

**"په اغاز کی لغت وو، او لغت د خدی سره وو، او لغت**
**خدی وو. دغه هر څه په اغاز کی د خدی سره وو. ټول**
**شیان هغه تخلیق کړی وو"(یوحنا ۱:۱ - ۳)**

په دی شعرونو په صحیح انداز کی پوهیدل د اخرني برخي نتیجه ګیری په خپله ساحه کی راولی او دهغی تاید کوی. خو بیا هم زیاد تره خلق په دی برخه نه پوهیګی کله چی په جنت کی د هغه د موجودیت تعلیم دعیسی علیه اسلام د پیدایش څخه وړاندی ورکولی کیږی. ددی شعرونو په ماهیت د پوهیدلو لپاره دا اهمه ده چی د ځانګړی مفهوم په حوالی سره د" لغت" په معنی په صحیح طریقه ځان پوهه کړو. دلته د انسان حواله نه ورکولی کیږی، ځکه چی انسان "دخدی" سره او په یووخت خدی نه شی کیدی. یوناني لغت "لوګس" کوم چی "لغت" ترجمه شوی دی په خپل ځان کی دلته د 'جیسس' معنی نه لری. معمولاً ددی ژباړ "لغت"، دی خو د هغی څخه پرته په دا ډول هم ترجمه شوی دی:

| | |
|---|---|
| حساب | سبب |
| ارتباط | اصول |
| مرام | وعظ کول |
| دلیل | قول |
| پاکیزه | |

"لغت" فقط د "هغه" لپاره استعمال شوی دی ، دا ځکه چی " لوګس" په یونانی کی مذکر دی. خو ددی مطلب دا نه دی چی دا په نفر ، عیسی علیه اسلام پوری تعلق لری. د جرمنی تفسیر (لوتهر) ددغی لپاره " ډاس ورټه" لغت استعمال کړی دی ؛ فرانسوی تفسر (سیګانډ) ددغی لپاره " لاپرول"لغت استعمال کړیدی چی مونث دی ، د دی مطلب دا دی چی "لغت" فقط نر نفر ته اشاره نه کوی.

**"په اغاز کی"**

کیدی شی چی 'لوګس' په سختی سره دداخلی فکر سره تعلق لری د کومی اظهار چی په بیرون کی په الفاظو او نورو ارتباطونو کی شوی وی. په اغاز کی خدی دغه 'لوګس ' لرلو. ددغی واحد مقصد عیسی علیه اسلام د مرکزی نقطی په ځای ګرځیدلی وو. مونږه په دی رڼا اچولی ده چی د هغه وخت څخه کله چی د هغه د روح او لفظ په مینځ کی رابطه جوړه شوه نو خدی ځنګه دروح د لاری خپل داخلی فکرونه په عمل کی وړاندی بوتلل(برخه ۲:۲ او ګوری). لکه ځنګه چی د خدی روح د انسانانو سره خپله برنامه وړاندی بیایی او د اغاز څخه د هغه لیکلی شوی الفاظ ددوی پاملرنه ځان ته راګرځوی ، دغه ټول روح د عیسی علیه اسلام نظریی ته د کار او د لفظونو دلاری رابطه جوړوی. عیسی علیه اسلام د خدی 'لوګس ' وو، او دا ټول د خدی روح د عیسی علیه اسلام په حقله د خدی د برنامی ټول عملونه بیانوی. دا په دی خبره رڼا اچوی چی وولی د زړی وصیتنامی ډیرو واقعاتو د عیسی علیه اسلام سره سمون خوړلو. خو بیا هم په دی باندی ډیر زور نه دی اچول پکار عیسی علیه اسلام په شخصی توګه په خپله " لغت" نه وو؛ دا د عیسی علیه اسلام د لاری د خدی د نجات برنامی ته "لغت"ویلی شی. په انجیل کی د عیسی علیه سلام په حقله 'لوګس' ("لغت")ډیر ذیات تکرار شوی دی یعنی "د عیسی علیه اسلام لفظ"( د کولس اوسیدونکی. ۱۶:۳ ؛ مقایسه .متی .۱۹:۱۳ ؛ یوحنا ۲۴:۵ ؛ اعمال ۱۹:۱۰ ؛ ۱ دتهیسلونیا اوسیدونکی . ۸:۱ دغسی نور.). دا خبره یاد اوساتی چی 'لوګس' په عیسی علیه اسلام پوری تعلق لری نه چی د هغه په ذات پوری. کله چی عیسی علیه اسلام پیدا شو ، دی لغت په غوښه او وینه کی تغیر اوخوړو ـ " د لغت څخه غوښه جوړه کړی شوه " (یوحنا ۱۴:۱ ). عیسی علیه اسلام په ذاتی توګه د "لغت" په ځای د' لغت څخه جوړ کړی شوی جسم' وو ؛ د ماضی د هر وخت په مقابل کی عیسی علیه اسلام په ذاتی توګه هغه وخت "لغت" شو کله چی هغه د مریم څخه پیدا شو.

د عیسی علیه اسلام په حقله برنامی او پیغامونه د اغاز څخه د خدی سره وو ، خو په اولنی صدی کی د هغه په حقله د انجیل تعلیمات او او د عیسی علیه اسلام د ذات د لاری دغه برنامی او پیغامونه راواستولی شوی. دا ټول خدی خپل لغت مونږ ته د عیسی علیه اسلام د لاری راواستول ( عبرانی ژبه ۲،۱:۱ ). د وخت سره په دی خبره بیا بیا زور اچولی شوی دی چی عیسی علیه اسلام مونږ ته د خدی خبری رارسولو او ددی لپاره چی د خدی الهام مونږ ته راورسوی د خدی د لغت په امر سره یه یی معجزی کولی ( یوحنا ۲۲:۲ ؛ ۳۴:۳؛ ۱۶:۷ ؛ ۱۰:۳۲،۳۸ ؛ ۲۴،۱۰:۱۴).

"ټولو قومونو " ته د وعظ کونی په حقله پال د عیسی علیه اسلام دا امر قبول کړو چی د انجیل وعظ او کړی : " د الهامونو د را ز مطابق ، د عیسی علیه اسلام وعظ کوم چی د نړی د اغاز څخه په راز کی ساتلی شوی وو ،خو اوس ښکاره کړی شوی دی ...ټولو قومونو ته معلوم شو" رومیان. ۲۶،۲۵:۱۶ مقایسه . ۱ د کورینت اوسیدونکی. ۷:۲). د انسان لپاره د ابدی ژوند امکان د عیسی علیه اسلام د کار د وجی ممکنه شوله (یوحنا ۱۶:۳ ؛ ۵۳:۶)؛ د اغاز څخه خدی د انسان وړاندی د ابدی ژوند برنامه پیشنهاد کړله ، ددی علم سره چی

